شهامت

په هېواد کې وروستی سوبې
دبلې سترې فتحې پیغام لیږدوي !

لسم کال، دویمه، پرلپسې ۵۸مه گڼه، ذي القعدة ۱۴۳۷هق، اگست ۲۰۱۶م

د علماوو په عنوان داحتمالي جوړیدونکي کنفرانس په تراو
د اسلامی نړی علماء کرامو ته د اسلامي امارت پیغام

د کونړ ولایت له جهادي مسؤل
مولوي محمد اسمعیل سره مرکه

- ستنېدونکیو مهاجرینو سره دافغاني پولیسو بېلګه ظلم!!
- په ترکیه کې ناکام بغاوت اوکامیاب قیادت
- مجاهدینو مه خپه کیږئ!
- رښتیا! عمري بریدونو اوفتوحاتو څه په داګه کړل؟
- ....دتاریخ ترټولو اوږده ناکامه جګړه!
- داسلام اولویدیځ کلتوري جنګ!
- اشرف غني دروان جهاد نسبت ولې ګاوندي هیواد ته کوي !!؟

رسنی به رسوا شي

شهامت

علمي، کلتوري او اسلامي مجله

لسم کال، دویمه، پرلپسې ۵۸مه ګڼه، ذي القعده۱۴۳۷هق، اګست۲۰۱۶م

لړلیك

ګڼه	عنوان	مخ
۱	سرلیکنه..	۱
۲	دعلماوو په عنوان داحتمالي جوړېدونکي کانفرانس په تړاو...	۳
۳	ستنېدونکیو مهاجرینو سره دافغاني پولیسو بېلګه ظلم!!......	۷
٤	مجاهدینو مه خپه کیږئ!............................	۹
۵	رسنۍ به رسوا شي!!..............................	۱۲
٦	اشرف غني د روان جهاد نسبت ولې ګاونډي هیواد ته کوي!!؟.	۱۴
۷	رښتیا ! عمري بریدونو او فتوحاتو څه په ډاګه کړل؟...........	۱۶
۸	دتخیل په دنیا کې له ازادۍ سره مرکه........................	۱۹
۹	دتاریخ تر ټولو اوږده ناکامه جګړه!........................	۲۶
۱۰	په طالب پوهنه کې ددښمن ستونزه..........................	۲۸
۱۱	دکونړ ولایت له جهادي مسئول مولوي محمداسماعیل سره....	۳۰
۱۲	هغه چې دجاهلیت غرور یې مات کړ.........................	۳۵
۱۳	ګلورینې پاڼې..	۴۰
۱٤	آیا افغانستان کې امریکا پرمختللي دفاعي سیستم دکومو.....	۴۲
۱۵	داسلام او لویدیځ کلتوري جنګ!............................	۴۳
۱٦	ابن ماجه رحمه الله ژوند او تالیفات..........................	۴۵
۱۷	دازادۍ دورځې په پلمه.....!!.............................	۴۷
۱۸	دپوچ کارتوس دمعما حل؛ ۳۰ کاله د راز په پردو کې پټ.......	۴۹
۱۹	زمونږ شاتګ او دلویدیځ پرمختګ راز په څه کې دی؟..........	۵۲
۲۰	دلویدیځ دنړیوالي لاملونه...................................	۵۴
۲۱	چنګیز خان څوک و؟....................................	۵۸
۲۲	په ترکیه کې ناکام بغاوت او کامیاب قیادت..................	۵۹
۲۳	دشهامت دار الافتاء..	۷۰

دامتیازخاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر :

ابو ظهیر

کتنپلاوی :

شاهد "حقاني " لطیف عزم
حسن " علوي" بلال "وحید"
نعیم " صافی " عابد مجاهد
قاري حبیب

بیه :

یوه ګڼه ۲۰ افغانۍ او ۳۰
کلدارې په پاکستان کې

تخنیکي مسؤل :

تخنیکي څانګه

یادونه

شهامت له سرمقالې پرته دنورو لیکنو مسؤلیت
په غاړه نه اخلي.

ادرس : کابل کارته پروان عقب سینمای بهارستان بریښنالیک : Sham.shahamat@yahoo.com

بسم الله الرّحمن الرّحيم

سرمقاله

په هېواد کې وروستۍ سوبې

د بلې سترې فتحې پیغام لیږدوي !

ځنګه چې نن سبا د ګران هېواد له لر او بره د ننګیالیو او باتورو مجاهدینو په لاس د پراخو ستراتیژیکو سیمو او ولسوالیو د شاندارو فتحو نیکمرغه زیري راځي او د افغان ولس د عقیدې او خاورې دښمن ځواکونه د خپلې شرمنده ماتې ترخې شیبې لنډوي. په ازادۍ او سلام باندې مین مظلوم افغان ولس ته د خپلې سرتاسرې ازادۍ او فتحې ډاډ ښني.

د خپلواکه خبري سرچینو په وینا: مجاهدینو په روانه میاشت کې په ننګرهار، لغمان، لوګر، غزني، پکتیا، پکتیکا، خوست، میدان وردک، کندهار، فراه، غور، بادغیس، فاریاب، سرپل، بغلان، تخار، کندز او هلمند کې د تندریزو تهجمي عملیاتو او بریدونو په لړکې د دښمن ځواکونو ته د بیسارې مرګ ژوبلې او زیانونو په اړولو سره یو شمیر مهمې ولسوالۍ او پراخې ستراتیژیکې سیمې د امریکایانو او ګوډاګي رژیم د کرغیړنو منګولو څخه ازادې او د اسلامي امارت تر واک لاندې راوستي...

د باتورو او قهرمانو مجاهدینو په وړاندې د اجیر رژیم عسکر او وحشي اربکیانو د مقاومت روحیه له لاسه ورکړې او د جګړې نه د تیښتې لپاره دلارو او ګودرو په مندلو بوخت دي.

د اسلامي امارت مجاهدینو په داسې حال کې پخپلو کامیابو جنګي تاکتیکونو یادې سوبې ترلاسه کړې او په خارجي متجاوزو ځواکونو او دهغوی پر ګوډاګیانو یې دژوند کړۍ راتنګه کړې چې یرغلګر او اجیران دواړه په معاصرو وسلو او مهماتو تر خولې مجهز، سنبال او د پرمختللي هوايي ځواک له ملاتړه برخمن دي.

ثابته شوه چې دنړۍ هیڅ زبرځواک د عصرې برترۍ او ارتقاء په ځواک سره نشي کولی چې د کوم ازاد ولس له مغزونه دازادۍ مفکوره او روحیه وباسي، که دا شوني وه امریکا به په تیرو پنځلسو کالو کې افغان ولس له خپلې عقیدې او زادۍ له مسیره اړولی و.

داچې نن د ۱۵کاله پرلپسې قربانیو ورکولو وروسته دهېواد په لر او برکې دازادۍ ولولې او احساسات ځپاند ځپاند دي ښیي چې افغان میړنی ولس له ازادۍ پرته په بل څه قناعت نلري او نه به ترهغه په ارام کیني چې یې له خپلې خاورې پردي دپخوانیو انګریزانو او شورویانو پشان رسوا او شرمنده شړلي نه وي.

بله داچې افغانانو دامریکایانو او دهغوی دګوډاګیانو له جنایتونو او ظلمونو تنګ راغلی نور په هره بیه چې وي خامخا خپل هېواد داشغال له تورو منګولو ازادول او پکې سوله او ثبات ټینګول غواړي په دې باب دافغان ولس هوډ او اراده قطعي او نه بدلیدونکې ده، ښکېلاکګر دې پوه شي چې دلته د دوی ټولې دسیسې له خاورو سره خاورې شوې افغانان د دوی له شومو ارادو نه په زور او زیر خبر او ورته ځیردي، هیڅکله به ونکړای شي چې داوږدې مودې لپاره ددې ازادې غوښتونکې ولس په سرنوشت لوبوته دوام ورکړې.

دسیاسي او پوځي چارو بیطرفه کارپوهان روان جهادي وضعیت ډاډمن بولي او په اند یې که په راتلونکو میاشتو کې دمجاهدینو تهجمي بریدونه همداسې چټک دوام ومومي نورې ولسوالۍ او بسته ولایتونه به هم داشغال له پنجو نه ازاد شي او له نیمایې د زیات هېوادنه به داشغال تور څادر ټول شي، په دې جریان کې به یرغلګر امریکایان او دګوډاګي رژیم عسکر دداسې تندریزو جټکو او چیلنجونو سره مخ شي چې له مغزو به یې آن د ویتنام ترخې خاطرې هم هېرې کړي.

د علماوو په عنوان د احتمالي جوړېدونکي کنفرانس په تړاو
د اسلامي نړۍ علماء کرامو ته د اسلامي امارت پیغام

الحمدلله وکفی والصلوة والسلام علی عباده الذین اصطفی: وبعد!

قال الله تعالی في محکم التنزیل:

...إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ غَفُورٌ)فاطر:۲۸(

درنو علماء کرامو! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

څرنګه چې تاسو ته بهتره معلومه ده چې د نبوت د سلسلې له اتمام سره سم د ټول اسلامي امت د معنوي رهبرۍ، اصلاح او تنویر وظیفه دیني علماء کرامو ته سپارل شوې. او علماء کرام د امت د انفرادي اصلاح تر څنګ د مسلمانانو د لویو قضایاؤو په اړه هم دروند مسؤلیت لري.

د افغانستان د روان جهاد قضیه که څه هم ډېره پیچلې او له فهم لوړه مسئله نه ده، خو د اسلامي امت د لویو قضایاؤو له جملې څخه شمیرله کیږي.

تاسو ته معلومه ده چې پنځلس کاله وړاندې پر دې خاوره یو داسې اسلامي نظام حاکم و چې سیاسي واک د ټولنې د تر ټولو پاک، متعهد او مجاهد قشر یعنې د دیني علومو د طلابو او علماء کرامو په لاس کې و، سپېڅلې شریعت نافذ و، حدود او قصاص جاري و، د أمر بالمعروف او نهی عن المنکر قرآني حکم پلی شوی او په سیاسي، اقتصادي، اجتماعي او د ژوند په هره برخه کې هره فیصله یوازې د قرآني او نبوي ارشاداتو له مخې کیدله.

مګر د اسلام تاریخي دښمنانو، هغوی چې په تیرو څوارلس پیړیو کې یې همیشه له اسلام او په خاص ډول د اسلام له سیاسي حاکمیت سره دښمني پاللې، هغوی چې د صلیبي او استعماري جګړو پر مهال یې اسلامي امت ته نه جبیره کیدونکي زیانونه اړولي؛ د اسلام هماغه تاریخي غربي دښمنان دا ځل د امریکا په مشرۍ سره متحد شول، د اسلامي امارت په وړاندې یې د دښمنۍ موقف اعلان کړ، لومړی یې تبلیغاتي جګړه پیل کړه، وروسته یې د اقتصادي تعزیراتو او سیاسي کلابندۍ نقشه عملي کړه او په دریم قدم کې یې مخامخ زموږ پر خپلواک هیواد او اسلامي نظام پوځي یرغل وکړ.

ظالمو او متجاوزو غربي کفارو زموږ اسلامي نظام ونړاوو، زموږ خاوره یې اشغال کړه، موږ یې په خپل کور کې محکوم او مغلوب کړو. زموږ د ځمکې او فضا واک یې په لاس کې واخیست، زموږ په خاوره کې یې د خپلو نړیوالو نقشو د پلي کولو په مقصد لوی لوی هوایي ډګرونه او پوځي اډې جوړې کړې. زموږ د سرلوړي، عزتمند او مجاهد ولس د تذلیل لپاره یې زموږ له ټولنې تښتیدلي غرب میشته ګوډاګیان را وستل او دلته یې واکمن کړل.

د امریکايي ظالمانه یرغل په وړاندې زموږ ولس که څه هم ډېر ځوریدلی، کړیدلی او ستومانه و؛ مګر د یو نیم زرو علماء کرامو لخوا ورته د جهاد د پیل فتوا ورکړل شوه، او د لاندې صریحو دیني ارشاداتو له مخې د جهاد د فرض کیدو حکم ورته متوجه وبلل شو.

ــ وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ وَأَخْرِجُوهُم مِّنْ حَيْثُ أَخْرَجُوكُمْ ۚ وَالْفِتْنَةُ أَشَدُّ مِنَ الْقَتْلِ ۚ وَلَا تُقَاتِلُوهُمْ عِندَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ حَتَّىٰ يُقَاتِلُوكُمْ فِيهِ ۖ فَإِن قَاتَلُوكُمْ فَاقْتُلُوهُمْ ۗ كَذَٰلِكَ جَزَاءُ الْكَافِرِينَ ﴿۱۹۱﴾ بقره

ــ أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا وَإِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ (۳۹)الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِن دِيَارِهِم بِغَيْرِ حَقٍّ إِلَّا أَن يَقُولُوا رَبُّنَا اللَّهُ ۗ وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لَّهُدِّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَاتٌ وَمَسَاجِدُ يُذْكَرُ فِيهَا اسْمُ اللَّهِ كَثِيرًا ۗ وَلَيَنصُرَنَّ اللَّهُ مَن يَنصُرُهُ ۗ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ ﴿۴۰﴾ سورة الحج ــ

ــ وَعَنْ أَنَس بن مالک رضی الله عنه،قال قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : «جَاهِدُوا الْمُشْرِكِينَ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ وَأَلْسِنَتِكُمْ»[رواه ابو داؤد ۲/۳۲ والنسائي ۶/۷ والحاکم ۲/۸۱.]

د حنفي فقهې حکم ــ وَفي الهندية (۲/۸۸) وَعَامَة الْمَشَايِخ رحمهم الله تعالى قَالُوا: الجهادُ فَرْضٌ عَلَى كُلّ حَال غَيْرَ أَنَّهُ قَبْلَ النَّفير فَرْض كِفَايَة وَبَعْدَ النَّفير يَصيرُ فَرْض عَيْن وَهُوَ الصَّحِيْح، وَمَعْنَى النَّفير أَنْ يُّخْبرَ أَهْل الْمَدينَة أَنَّ الْعَدُوَّ قَدْ جَاءَ يُرِيدُ أَنْفُسَكُمْ وَذُرَارِيكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ فَإِذَا أُخْبِرُوا عَلَى هَذَا الْوَجْه افْتَرَضَ عَلَى كُلّ مَنْ قَدرَ عَلَى الْجهَاد منْ أَهْل تلْكَ الْبَلْدَة أَنْ يَّخْرُجُوا للْجِهَاد وَقَبْلَ هَذَا الْخَبَر كَانُوا في سَعَة أَنْ لَّا يَخْرُجُوا.

ــ وفی المبسوط للإمام السرخسي (۲-۱۰): ثم أمر رسول الله صلی الله وسلم بالقتال إذا كانت البداية منهم فقال تعالى ﴿أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا﴾ [البقرة: ۱۹۱] أي: أذن لهم في الدفع وقال تعالى ﴿فَإِنْ قَاتَلُوكُمْ فَاقْتُلُوهُمْ﴾ [البقرة:۱۹۱] وقال تعالى ﴿وَإِنْ جَنَحُوا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا﴾ [الأنفال: ۶۱] ثم أمر بالبداية بالقتال فقال تعالى ﴿وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لا تَكُونَ فِتْنَةٌ﴾ [البقرة: ۱۹۷] د علماء کرامو د فتوا په اساس د اسلامي امارت مجاهدینو چې واحده رهبري یې لرله په لوړ عزم یې د کفر د تجاوز په مقابل کې جهادي قیام پیل کړ.

دغه جهادي مبارزه په تیرو څوارلسو کلونو کې له بیلابیلو سختو پړاوونو تیره شوه، تر دې چې یو مهال غربي یرغلګرو په یوه وخت د ۱۳۰ زره په شاوخوا کې له خارج نه رواستل شوي مسلح پوځونه چې په ټانګونو، توپونو، الوتکو او پرمختللي تکنالوژۍ سمبال وو او په لسګونو زره داخلي غلامي ملیشې یې هم د مجاهدینو په ضد اکمال او جنګ ته را ایستلي وې او ټول یې زموږ په وړاندې په جګړه وګمارل. یرغلګرو سخت بمبارونه وکړل او تاریخي مظالم یې ترسره کړل خو له ټولو هڅو سره سره هم په دې ونه توانیدل چې زموږ د مؤمن ولس اراده ماته کړي.

لله الحمد د الله تعالی په نصرت او زموږ د مجاهد ولس د قربانیو په برکت په وروستیو کلونو کې د جګړې معادله معکوسه شوې ده، مجاهدین د پرمختګ او یرغلګر د شاتګ او تیښتې په حال کې دي، تر اوسه د لسګونو یرغلګرو هیوادونو بیرغونه رانسکور او ټول سرتیري یې په تیښته اړ شوي دي، یوازې امریکا، بریتانیا او څو یرغلګر هیوادونه

پاتي دي چې پر اشغال ټينګار لري، د دې هيوادونو هم لسګونه زره عسکر لـه افغانسـتانه پـه تيښـته مجبـور او يـوازې محدود شمير پوځيان يې په کلابندو اډو کې وخت تيروي او لله الحمد د افغانستان د خاورې په اکثريت برخـه د اسـلامي امارت مجاهدين حاکم او د الله تعالی احکام پکې جاري دي.

مګر غربي اشغالګر که څه هم د جګړې په ډګر کې الله تعالی ذليل او مات کړل اما له خپل اشغالګر عـزم څخـه پـه شا نه شول، اشغالګرو د خپل غيرمستقيم اشغال د اوږدولو لپاره مختلفې بـديلې پروسـې پـه کـار واچـولې، چـې لـه دې جملې يې يوه مهمه پروسه د سولې تر نوم لاندې د مجاهدينو د تسليمۍ او دکابل غلامي ادارې تـه پـه جعـلي فتـواوو او قانوني بڼه ورکولو سره له جهاد څخه د منصرف کولو پروسه ده.

متجاوز دښمنان اوس کوښښ کوي چې د افغان ولس دغه جهادي قيام ته د ګمراه کوونکو تبليغـاتو، رواني جنـګ، استخباراتي دسيسو، جعلي فتواوو او د سولې په عنوان د سرو حربو په توسط ماتې ورکړي.

اشغالګرو اراده کړې چې مجاهدين مجبور کړي ترڅو له جهاده لاس واخلي، د تسليمۍ لاسونه پورتـه کـړي او هغـه اشغال ومني چې نه يې د منلو لپاره ديني او قرآني توجيه شته او نه يې د يوه انسان په حيث د چا ضمير او وجـدان منلـی شي.

د کابل نامشروعي ادارې ته د مشروع رنګ ورکولو او د سولې د ګمراه کوونکو تبليغاتو او تزويري هڅو په لړ کې دا ځل زموږ د دين، هيواد او خپلواکۍ دښمنان غواړي چې د نړۍ علماء کرامو او اسلامي هيوادونو ته په دوکه ورکولـو د سعودي عربستان په جده ښار کې او يا هم که سعودي حکومت موافقه ور سره و نکړي کوم بـل هيـواد کـې د اسـلامي نړۍ د عالمانوپه نوم او عنوان يو کانفرانس جوړ کړي. دکابل د غلامي ادارې د تش په نامه سـو لي شـوری اعـلان کـړی چې دغه کانفرانس د دوی په غوښتنه او ابتکار راغوښتل کيږي ترڅو له دغې غونډې څخه په اسلامي هيـواد افغانسـتان کې د کفري اشغالګرو وجود ته د غلطو معلوماتو په وړاندې کولو سره مشروعيت تر لاسـه او د مجاهـدينو برحـق جهـاد ناروا جګړه معرفي کړي، دوی کوښښ کوي چې په افغانستان کې د کاميابۍ پړاو ته رسيدلی مقدس جهاد په هغو نـاروا خونريزيو قياس او تعبير کړي کومي چې له شرعي طريقې او شرعي نصوصوخلاف د انسـانانو وينـې تويـوي او د جهـاد نوم بدوي.

موږ د ټولې اسلامي نړۍ علماء کرامو، په خاص ډول د افغانستان، پاکستان، هند، سعودي عربستان او نـورو عـربي هيوادونو علماء کرامو ته د اسلامي ورورولۍ او شريعت په رڼا کې دا پيغام رسول غواړو، چې:

تاسو ته بهتره معلومه ده، چې امريکايي طاغوت د نن عصر تر ټولو ظالم اشغالګر دی چې لاسونه يې زموږ د لکونـو مسلمانانو په وينو سره دي. او دا هم درته معلومه ده چې زموږ ولس يو مؤمن ولس دی، يو ځوريدلی او غريـب ولـس دی چې پر کور يې پرديو يرغلګرو هجوم راوړی او دا هم درته معلو مه ده چې زموږ د ولـس جهـاد د دينـي علـماء کرامـو پـه سرپرستي او هداياتو روان يو مشروع مقاومت او د ظالم اشغالګر په وړاندې د يوه مظلوم ملت د مقابلې وروسـتۍ هڅـه

ده. او تاسو په دې هم پوهیږئ چې د سولې تر عنوان لاندې د اشغالگرو او د هغوی د گوډاگیانو په ابتکار جوړیدونکې غونډې یوازې زموږ د ولس دمغلوبیت لپاره دائریږي او د اوسنی غربي میډیا دا چل ول به هم تاسو ته معلوم وي چې که تاسو د غونډې په تالار کې هر څو د حق او شریعت خبرې وکړئ یا په غرب تنقیدونه وکړئ هغه هر څه د تالار د ننه پاته کیږي او د باندې هغه څه د نړیوالو تر غوږونو رسیږي چې د امریکا په گټه او د مقدس جهاد او مسلمانانو په زیان وي او د مقدس شریعت په اصولو ولاړ جهاد هم تروریزم او ناروا جگړه معرفي کوي او حواله هم په عالمانو ورکوي؛ نو په همدې خاطر موږ تاسو ته یوځل بیا در په زړه کوو چې د ظالمانو په دا ډول پروسو کې ستاسو گډون، خدای مکړه، له هغوی سره یو ډول مرسته تلقي نه شي او خدای مکړه چې د دې وعید مورد ونه گرځئ چې الله تعالی فرمایي:

»وَلَا تَرْكَنُوٓا۟ إِلَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ فَتَمَسَّكُمُ ٱلنَّارُ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِنْ أَوْلِيَآءَ ثُمَّ لَا تُنصَرُونَ «ـ هود ١١٥). او یا لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم چې فرمایي: (من مشی مع ظالم لیعینه وهو یعلم أنه ظالم فقد خرج من الإسلام. رواه الطبراني).

قدرمنو علماء کرامو!

اسلامي امارت پر الهي نصرت په اتکاء سره باور لري چې د اسلام دښمنانو، لکه څنگه چې پوځي جگړې دوی ته بری ورنصیب نه کړ دغه ډول استخباراتي لوبې به یې هم د بریا مخ ونه ویني. خو د اسلامي اخوت له مخې مو د اسلامي نړۍ له حکومتونو هیله دا ده چې دا ډول غونډو ته زمینه نه کړي مساعده، علماء کرامو ته پیغام دا دی، چې په دغه یاده غونډه کې گډون ونه کړئ او په دې اړه یوازې د کتاب الله، سنة رسول الله او د ایمان د غوښتنو له مخې پریکړه وکړئ او پرینږدئ چې په افغانستان کې میشت اشغالگر کفار ستاسو له گډون او ستاسو له نوم نه په استفادې په خپل شوم هدف کې کامیاب شي. که د مجاهدینو علني ملاتړ مشکل وي او نشي کیدلای؛ نو دا خو کیدلای شي چې د کفارو له دا ډول ناوړه دسائیسو نه ځان وژغورو او په فرمایشي غونډو کې یې گډون ونه کړو.

خدای دې وکړي چې موږ تاسو ته خپل درد او پیغام رسولی وي، ترڅو په آخرت کې د یو بل د حقوقو د نه مراعات کولو له امله له عذاب او عقوبت سره مخ نه شو.

وما علینا الا البلاغ، حسبنا الله ونعم الوکیل نعم المولی ونعم النصیر

والسلام

د افغانستان اسلامي امارت

١٣/١١/١٤٣٧ هـ ق

٢٦/٥/١٣٩٥هـ ش ـ ١٦/٨/٢٠١٦م

ستنيدونکيو مهاجرينوسره دافغاني پوليسوبيلگه ظلم!!

(بت شکن)

هسې خوهم افغان مهاجرين دهجرت تاتوبي کې له حده زيات ځوريدلي او په اوښکو لانده گريبانونه خپل هيواد ته پداسې حال کې ستنيږي، چې نه يې دهجرت اوجهاد هدفونه پوره شوي اونه ورسره چا ښه چلند کړی ،رومبی په (۱۳۵۷ل) کال کې له کمونستانو او ورپسې له روسانو نه دهجرت لړۍاو بيا په (۲۰۰۱ز)کال کې دامريکايانو له يرغل څخه دهجرتونوسلسلې او دځان ژغورنې تلوسې رښتياهم هغه ترخې شيبې او بوږنوونکي يادونه دي، چې زوريې هماغه چاته معلوم وي، چې په چا تير شوي وي ،خو هلته چې يوه سپيځلې ارزو مضمره وه او ديوه مقدس هدف لپاره ددې ستونزو زغمل مقدر وو،نو چندان يې څوک په گاللو ډير نه پوهيدل او هرچا داجر وثواب په نيت پر ځان تيرول، خواوس چې خبره دې سرحد ته ورسيده ،چې نه هدف پوره شوی اونه هيواد کې داشغالگرو يرغل پای ته رسيدلی ،نو مهاجرين به دحال او قال په ژبه هرو مرو له ځان سره دازمزمه کوي، چې دادرونې نړۍ واکمن ولې دومره ظالمان دي، چې نه موخپل هيواد کې ژوندکولو ته پريږدي او نه موپردي يا اجنبي هيوادکې يوه هوسا زنده گي شي زغملای شي !!آخر دا دنيا ولې ددې استبدادونوتوپاني سمندر دی او داظالمان پکې دظلم کښتۍ په ډيره بي رحمۍ ځغلوي ! او .....او ......

دادومره اوږده مقدمه مې ځکه دې موضوع ته وکښله چې افغان مهاجرين داسلام او جهاد علمبرداران دي او دوخت له ظالمانو نه يې خپل خوږ کلی او کور پريښی او په پرديسۍ کې يې ډير تکاليف تير کړي ،خو اوس ديوه بل ازميښت سره مخ کيدونکي دي،له يوې خوا ورته دهجرت تاتوبی ځای نه ورکوي او دبلې خوا ورته دهيواد غلام واکمن په حقارت او سپکه سترگه گوري ،نه يې خپل کلي کې ځای کيږي او نه ورته دکابل گوډاگيان په حقه حق قايليږي ،دهرې بلا ټکه نن په مهاجر راپريوزي،مناسب داسې وه، چې بيرته ستنيدونکيو مهاجرينوته دومره تود هرکلي کيدای ،چې نړۍ کې يې ساری نه ليدل کيدای او اوسنيو چارواکيويې دومره گرم استقبال کولای، چې له امله يې دمهاجرينو دخيمو اواغزنو دښتو ترخې خاطرې هيرې شوې او له ځانه سره يې ښې خاطرې ساتلای وی ،خو متأسفانه خبره دلته بدله او معکوسه ښکاري او داخبرې هسې خيال بافي معلوميږي ،خبره مې ننگرهار کې دافغاني پوليسودظلم او استبداد کوله ،چې دې وروستيو کې نړيوالو رسنيوداسې يو ويرجن خبر ورکړ چې :

د ننگرهار ولايت په روداتو ولسوالۍ کې پوليسو په هغو کډوالو ډزې کړي، چې له پاکستان څخه راستانه شوي او د يادې ولسوالۍ د حصارشاهي په ډاگ کې يې خيمې وهلې وې.

د سيمې خلکو رسنيو ته ويلي چې يو شمير کورنۍ تازه له پيښوره خپل وطن ته راستنې شوې وې او د سرپناه د نشتون له امله يې د حصارشاهي ډاگ د غره په لمن کې خيمې وهلې وې.

د خلکو په وينا، د روداتو ولسوال «حضرت خان خاکسار» د دې پرځای چې له نومړو کډوالو سره مرستې

وکړي، پولیسو ته امر کړی، چې د راستانه شوو مهاجرینو په خیمو ډزې وکړي، چې له کبله یې ۲ تنه مړه او ۷ نور ټپيان شوي دي.

راستانه شوي مهاجرین د ننګرهار ولایت مقام مخې ته راغونډ شوي او په داسې حال کې چې دوه تنه مړي یې هم له ځانونو سره راوړي وو، له ولایتي چارواکو څخه د عدالت او انصاف غوښتنه کوله .

ډېرې خندا وړ ده چې د ننګرهار زورواکې د بې سرپنا کډوالو لخوا د حصارشاهي په ډاګ کې د خیمو وهل د «ځمکې غصب» بولي او زیاتوي چې پولیسو غوښتل نوموړی ډاګ د «غاصبینو» له منګولو وژغوري نو ځکه نښته رامینځته شوه.

خود ننګرهار دامنیه قومندانی د رسنیز دفتر مشر «حضرت حسن مشرقیوال» بیا په مهاجرینو بل الزام لګوي او وایي چې پولیسو له ځان څخه د دفاع په خاطر هوایي ډزې کړي او په متقابلو ډزو کې دواړو خواوو ته مرګ ژوبله اوښتې. خو نوموړي دا نه دي ویلي، چې کډوالو وسلې له کومه کړې، ترڅو پرې له پولیسو سره مقاومت وکړي.

رسنۍ لیکي چې : د ننګرهار ولایت مقام مخې ته یو تن راستون شوي مهاجر رسنیو ته وویل چې پولیسو پرې په ډېرې بې رحمۍ ډزې وکړې، ۲ تنه یې ووژل، ۷ یې ټپیان کړل او ۱۲ تنه یې له ځان سره بیولي دي. نوموړي له ولایتي چارواکو وغوښتل چې نیول شوي کسان بیرته راخوشې کړي او د ټپیانو په درملنه کې ورسره کومک وکړي.

راپورونه وایي چې پولیسو نه یوازې په راستانه شوو مهاجرینو ډزې کړي بلکې هغوی یې وهلي او ډبولي هم دي. د سیمې اوسیدونکي وایي چې له ډزو وروسته پولیسو دوه تنه زخمیان د پایوازانو په ملتیا د روغتون په پلمه په رینجر کې سپاره کړل، خو کله چې د پولیسو رینجر پاخه سړک ته ورسېد پولیسو د زخمیانو د پایوازانو په وهلو او ډبولو لاس پورې کړ.

د عیني شاهدانو په وینا، یادو کسانو په داسې حال کې چې د پولیسو تر وهلو لاندې پراته وو، چیغې وهلې چې «له یوې خوا مو پاکستان نه پرېږدي او راشړي مو، او له بلې خوا مو د خپل هیواد پولیس راباندې ډزې کوي............«

پـدې توګه نور راپورونه ددې څرګندونه کوي ،چې همداسې پیښې نورې هم دې سیمې کې شوي او دمهاجرو شهیدانو جسدونه یې دجلال آباد ښار دولایت مقام مخې ته داعتراض په ډول راوړي ،خو چارواکې په ډول ډول پلمو ځان له مسؤلیته خلاصوي اومجرمین نه نیسي اونه ورته سزا ورکوي ،چې داټول ددې شهادت ورکوي ،چې اصلا اوسنی افغاني واکمن افغان مهاجرین پردي بولي او دشک په سترګه ورته ګوري .

داخو به نه یادوو!!

چې دهجرت په دیار کې تراوسه نږدې (۲۰۵۰۰۰۰)دوه نیم میلونه مهاجرینو ته دکابل اداري تراوسه پورې نه انتخاباتوکې دګډون حق ورکړی او نه ورته ددې تش په نوم حکومت لخوادمعارف او روغتیاپه شمول نوروبرخو کې مرسته کړي ،بلکې ددوئ ټول اجتماعي او مدني حقوق یې ترې سلب کړي اودیوه افغاني تبعې په حیثیت ورته ندي قایل ،کله پرې دترهګرۍ ټاپې او کله پرې دنا امنیتۍ مهرونه هم لګوي ،خو اوس چې مهاجرینو ته نور ګاونډیان داوسیدلو اجازه نه ورکوي او هرچا سره هیواد ته دعودت دبیرته تګ تلوسه په څپو ده، نودکابل په اصطلاح منتخبې اداري ته نه ښايي ،چې دپولیسوله لارې دا بیچاره ګان یا شهیدان اویا ټپیان کړي ،دادوئ دمرستو وخت دی او دایې داړتیاوو دپوره کیدلو ورځې دي ،دمهاجرینو دنړیوال قانون غوښتنه هم داده، چې خپل بشپړ حقوق خپل کړي اوواکمن یې خپله غیږ کې ونیسي ،کورونه او کلې ورته آباد اودخولې ډوډۍ ورسره نیمه کړي ،نوهله به یې څه ناخه دوطنداري او افغانیت پالنې څه حقوق ورته ورکړي وي !

مجاهدينو مه خپه کيږئ!

شاهد (غزنیوال)

د جهـــاد لاره د قربـــانۍ او سربښندنو لاره ده .

پـه دې لاره کـې سـتړياوې ، ستومانۍ ډيرې خو مايوسي ورکې ځای نه لري.

د جهـــاد دلارې ســـتونزې او مشـکلات د دې لارې د لارويـانو د حقانيت لپاره تر ټولو ستر محک دی چې د هغوی د عـزم او ارادې کچه وربـاندې پيژندل کيږي.

خدای تعالی د جهادي لارې د لارويانو د ازمايښت په اړه داسې فرمايي:

وَلَنَبْلُـــوَنَّكُمْ حَتَّـــىٰ نَعْلَـــمَ الْمُجَاهِدِينَ مِنكُمْ وَالصَّابِرِينَ وَنَبْلُوَ أَخْبَارَكُمْ. (۳۱ محمد)

ژباړه: او تاسو به حتما أزمويـو تر څو ستاسي له منځه مجاهـدين او صــبرکوونکي معلــوم کــړو او ستاسي حالات و أزمويو.

که مونږ د انساني تـاريخ پـه اوږدو کـې د جهـاد او دعــوت د لارې بهيرتـه وګـورو نـو ډيـر انبيـاء عليهم السلام ، صـالحين او داعيان به ووينو چې هغـوی خپـل ټـول ژوند له باطل سره په مقابله کې تير کـړي ، هغــوی ډيـرې قربـانۍ ورکـړې، ډيـرې سـتونزې پرځـان منلي خو له دې هرڅه سره سره يي نه خپل مسير بدل کړي او نه يي د ستونزو لـه وجې مـايوسي ښکاره کړې. انبياء علـيهم السـلام د خپـل دعـوت پـه لاره کـې وژل شـوي ، تعذيب شوي ، تبعيد شوي ، خو نه له خپل مسيره منحرف شـوي او نـه هم د دعوت له پايلو مايوسه شوي.

د جهاد او دعوت په لاره کـې دغـه ډول ثبـات او اسـتقامت يـو ځانګړي امتياز دی چې الله تعالی هغو کسانو ته ور نصيب کـړی کـوم چې هغوی يې د رجال (نارينه وو) په صفت موصوف کړي.

الله تعالی په دې اړه وايي:

مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ فَمِـنْهُم مَـنْ قَضَىٰ نَحْبَهُ وَمِـنْهُم مَـنْ يَنْتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلًا.(۲۳ الاحزاب)

ژباړه: پـه مؤمنانو کـې ځينـې داسې (نران) سړي هـم شـته چې پـه کـوم شي يـې لـه الله سره لـوز کړی و هغه يې ريښتيا کړ. نو ځينو خو يې خپل نذر پوره کړ او ځيني يـې لا انتظـار کـوي او هـيڅ کـوم بدلون يې پکې ونه کړ.

له شـکه پرتـه چې انسان يـو کمـزوري او ضـعيف مخلـوق دی ، کلـه کلـه د مشـکلاتو او سـختيو لـه وجې له وارخطايي سره مخ کيږي، تردد او تزلزل يي زړه ته لاره کوي خو همـاغه وي چـې اللهـي نصرت وربانـــدې را ښــکاره او ټولــه وارخطـايي او تزلـزل يـي بانـدې ورک شي.

خـــدای تعـــالی پـــه خپـــل سپیڅلی کتاب کې د دغو کسانو له حال نه مونږ ته داسې خبر راکوي:

أَأَمْ حَسِبْتُمْ أَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَأْتِكُمْ مَثَلُ الَّذِينَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ ۖ مَسَّتْهُمُ الْبَأْسَاءُ وَالضَّرَّاءُ وَزُلْزِلُوا حَتَّىٰ يَقُولَ الرَّسُولُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ مَتَىٰ نَصْرُ اللَّهِ ۗ أَلَا إِنَّ نَصْرَ اللَّهِ قَرِيبٌ. البقره (۲۱۴)

ژباړه: ایا داسې مو ګڼلې چې جنت ته به له هغه مخکې داخل شئ چې لاړومبنیو تیرشووخلګو غونـدې حالـت نـه وي دربانـدې راغلی؟ هغوی ته کړاونه اورنځونه رسـيدلي و او آن دومـره لـړزول شـوي وو چـې هماغـه رسـول او ورسره مؤمنانو به ویل د الله مرسته بـه کلـه وي ؟ (الله وويـل) خبـر اوسی د الله مرسته نیږدي ده.

په قرآن کریم کې د جهاد او دعــوت دلارې لارويــانو تـــه د فتوحاتو او بریالیتوبونو په نسبت د مشـکلاتو او کړاونـو ډيـره يـاد ونـه شوې، او دا واقعیت د قـرآن کـریم په هغو مبارکو سورتونو کې چې د جهـاد بيـان ورکـې ډيـر شـوی پـه وضاحت سره بيان شوی.

په آل عمران ، الانفال، التوبة او محمـد سـورتونو کـې د جهـاد ، شـهادت او د الله پـه لاره کـې د مشـکلاتو گـاللو او سربښـندنو ډيـر تـذکر شـوی ، خـو بالمقابل يې د فـتح او نصرـت يادونـه پـه ډيـرو محــدودو ايتونــو کــې شــوې او همداراز د فتح یوه ښکاره مثال او هغه هم د هجـرت پـه اتـم کـال د مکي مکرمې فتح ده چې الله جل جلاله هغـه پـه فـتح مبين (ښکاره فتح) سره یاد کړی .

إِنَّـا فَتَحْنَـا لَـكَ فَتْحًـا مُّبِينًـا. (۱الفتح)

ژبـاړه: بيشـکه مـونږ تاتـه بـری درکړ بری څرګند.

د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د رسالت په لومړیو کې پر اصـحاب کرامـو پـه ډيـر مشـکلات راغلی او هغوی په نبي علیه السلام باندې د ايمان راوړلـو پـه جـرم د مشرکینو لخوا ډير ځورول شوي.

د احد په غـزوه کـې ۷۰ نفره صحابه کرام په شهادت رسیدلي ، د احزاب په غزوه کې پـر رسـول الله او ملګـرو يـې ډيرسـخت حـالات راغلی، داسې چې قرآن کـريم يـې د سختۍ او آزمایښت بیان کړی :

وَإِذْ زَاغَـتِ الْأَبْصَـارُ وَبَلَغَـتِ الْقُلُـوبُ الْحَنَـاجِرَ وَتَظُنُّـونَ بِـاللَّهِ الظُّنُونَا (۱۰)هُنَالِكَ ابْتُلِيَ الْمُؤْمِنُونَ وَزُلْزِلُوا زِلْزَالاً شَدِيداً.(۱۲) الاحزاب

ژبـاړه: او چـې سـترګې کـږې خـړې شـوې او زړونـه سـتوني تـه راورسـيدل او پــه الله مــوراز راز گومانونـه وکـړل. هماغلتـه مؤمنـان وازمایل شول او په سختو خوځولو سره وخوځول شول.

د جهـاد د لارې سـتونزې او مشـکلات يـواځې د صدراسـلام پـه دورې پوري نه دي محصور؛ بلکـې هغه د جهادي لارې له هغو تلازماتو څخه دي چـې د تـاريخ پـه اوږدو کـې د حـق دلارې لارويـان تـل ورسره مخ وي.

د حـــق د لارې ســـتونزې اومشکلات پـه يـوه ځـانګړې منزل ختميږي ..

هـو! دا مشکلات هغـه وخـت پایته رسیږي چـې د دې لارې پـر لارويانو په عالم اسباب کې د نجات او خلاصون ټولې لارې وتـړل شي، يواځې دوی او د الله تعالی نصرت سره پاتې شي بس په همدې وخت کـې الله تعـالی د همـدې مغلوبـو

بندګانو مدد کوي او هغوی ته پر دښمن غلبه ورکوي ..

وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِينَ. (الروم ۴۷)

ژباړه: او له مؤمنانوسره مرسته پرموږ حق ده.

د بېلګې په توګه حضرت ابراهیم علیه السلام ته هغه وخت خدای د نمرود له اوره نجات ورکړ چې د ده او اور تر منځ هیڅ فاصله نه وه او نه یې په مادي لحاظ د دژغورنې امکان لیدل کېده.

موسی علیه السلام ته هغه وخت خدای د فرعون له شره نجات ورکړ چې دی یې د رود نیل تر غاړې ور ورساوه ، خو په رودنیل باندې په ګډېدو سره خدای موسی علیه السلام او د هغه پلویانو ته نجات ورکړ او فرعون یې په رود نیل کې غرق کړ، همداسې عیسی علیه السلام او زموږ ګران پیغمبر حضرت محمد علیه السلام چې کله یې د مشرکینو له ظلمه د حراغارته پناه یووړه او مشرکین د غار تر خولې پورې ور ورسیدل ، خو هلته وربانديې الله تعالی مشرکین رانده کړل او حضرت محمد صلی الله علیه وسلم او دهغه ملګري ته یې نجات ورکړ.

نو مجاهدینو وروڼو!

باید دجهاد د اغزنې لارې تر وروستي منزل پورې ثابت قدمه ، صابر او د الله په نصرت باوري اووسو .

نن زموږ جهادي بهیرهغې مرحلې ته رسیدلی چې په عالم اسباب کې یې د الله له نصرته پرته بل هیڅ مادي مددګار نشته ، خو همدا قوي مددګار ، مقتدرخدای جل جلاله به حتما همدغه بهیر پر قوي دښمنانو داسې کامیابوي لکه چې تر دوی وړاندې یې د حق دلارې نور لارویان د نړۍ پر مستبدو طاغوتیانو کامیاب کړي.

موږ او تاسې ټول باید د الله پر دغې وعدې متیقن اوباوري واوسو چې فرمایي :

وَلَا تَهِنُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَنتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ.(۱۳۹ آل عمران)

ژباړه: مه سستېږئ او مه خپه کېږئ او همدا تاسې برلاسي یاستئ که مؤمنان اووسئ.

دعابدلیکنه

رسنۍ به رسوا شي!!

هسې خو درسنیو او مطبوعاتو دنوم له اوریدو سره باید هیڅاته ددې شک نه وای پیدا چې مطبوعات اورسنۍ به دچا پره وکړي اوپه طرف کې به واقع شي، ولې اوس خبره تردې رارسیدلې چې ډېرې مطبوعات اوخپرونې د 'خپلواکه، بې پرې، آزاد، مستقل، بې طرف او نور' تکي له ځان سره لیکي، داځکه چې اوس دخپرونو خپلواکي ترسوال لاندې راغلې اوپه افغانستان کې خو هره خپرونه له ورایه معلومه ده چې دچا په طرف ده او دچا نظریې خپروي ، دالاځه چې په نړیواله سطحه دمشهورو رسنیو پټه ننګه هم اوس ډېره رسوا شوې اونور یې خپل زغم له لاسه ورکړی .

دبی بی سي درادیو او جال په پاڼه ډېر ځله داعنوان راغلی چې ... 'فلانۍ ولسوالۍ له طالبانوبېرته ونیول شوه' په داسې حال کې چې دطالبانو دنیولو خبر یې نه وي ورکړی، بلکې په معکوس ډول یې داسې اعلانوي (تازه بېلګه): 'د هلمند ناوې ولسوالۍ نیولو لپاره د طالبانو برید 'ناکام شوی'' اوداسې نور ډېر مثالونه ...

''دطالبانو دخبرونو پرخپرولو بندیز ولګید، نشر اخبار طالبان تحریم کردید....'' ډېر شرمونکي تکي دي!!

حیرانتیا خو په دې ده چې دغسې لنډې اوعصباني پرېکړې په یوه اداره کې څنګه رامنځته کیږي، چې دپرېکړې حق دې هم یکې دیوه شخص دنظر مولودنه وي، بلکې دډېرو غړو اولیکپلاوي دڅورو سنجشونو نه وروسته راپیداکیږي؟ سړی نه پوهیږي چې نتیجې ته یې ولې نه دي متوجه؟!! ددرواغو منزل خو لنډ وي، همدا اوس چې طالبانو دناوې ولسوالۍ ونیوله او توله دنیا پرې خبره شوه بی بی سی ته به څه ورپاتــه وي او کومه توجیه به ورته کوي؟

په کابل کې دطلوع پرموبي ګروپ له برید سره پر کورنیو رسنیو سربېره بهرنۍ رسنۍ هم چې مستقلې یادېدلې دمقاطعې له غږ سره همغږې شوې، سره ددې چې له مخه یې هم چندانې خپله خپلواکي نه ده ساتلې اوپه ډېر جسارت یې خبرونه په اړولي بڼه نشرکړي، ولې داچې مطبوعات اوخپرونې دخپلواکی اوبې پرېتوب دعوه لري، باید ددې په ځای چې دتحریم له چیغې سره همغږې شي ددې برید په انګېزه یې ډېر فکر کړی وای!! چې ولې طالبان دمطبوعاتو په وړاندې دفزیکي غبرګون په ښودلو مجبور شول؟ خو داسې ونه شول اولګیادي لاپه هماغسې ړانده تقلیدپسې روان دي، دطالبانو دوروستیو هېښوونکو بریدونو په وړاندې یې ډېره شرموونکي کونګتیا خپله کړې ، په شمال کې په کندز، بغلان اوتخاراوپه جنوب اوجنوب لویدیځو سیموکې په پکتیا، پکتیکا، غزني، فاریاب ، اروزګان اوهلمند کې په دې وروستیوکې دولت ډېرې سیمې له لاسه ورکړې اوډېر نظامیان یې ووژل شول، خو کورنیو او بهرنیو مطبوعاتو ددې په ځای چې واقعیتونه خلکوته ورسوي یواځې ددولت کاذبې دعوې خپرولې .

که دوی پخپلو دې ډول اعمالو له طالبانو سره دښمني ښیي یایې ځینې یواځې په دې کړنو سره کولای شي له مختلفو کړیو څخه مادي ګټې ترلاسه کړي، شاید داګټې یې لنډې وي او نه یواځې داچې دخپل رسنیزمسؤلیت په وړاندې به پاتې راځي، بلکې ډېرې معکوسې نتیجې به ترلاسه کړي اوپه خلکوکې یوڅه حیثیت چې په ډېرو خواریویې کسب کړي وي له لاسه ورکړي اوبالاخره به له فلج کېدو سره به مخ شي ، مونږ ډېرې داسې ورځپاڼې او خپرونې په کابل کې ولیدې چې له بېلابېلو لارو

يې ولسي محبوبيت ترلاسه کړی و، ولې دخپل رسنيز مسؤليت په وړاندې يې ددغه ډول ناوړه کړنو په ترسره کولو سره هرڅه له لاسه ورکړل اونن يې نوم هم څوک نه يادوي .

داهم په ځای ده چې ډېر ځله ددولت له تهديدونو سره هم مخ کيږي اوپه وار وار دملي امنيت له خوا رسنيوته په رسمي ډول ګواښونه شوي، ولې يوه رسنۍ چې دوطنپالنې او ملي احساس په اساساتو خپل بنيادونه بنا ښولي؛ نه ښايي چې د (ديموکراسۍ !! اودبيان دآزادۍ !!) په ماحول کې ! بيا هم دسانسور په دغسې فضا کې داختناق ژوند تېرکړي او ددغه ډول حالت په وړاندې هيڅ غږ نه پورته کوي، لومړی خو په کار ده چې ددغسې حالت په وړاندې په کلکه مبارزه وکړي اوکه نه نو لاأقل ددواړو طرفينو ترمنځ تعادل خو خامخا وساتي، په تېره بيا داچې دخپلواکۍ دعوه ولري او خپلې کړنې دآزادۍ دبيان!! له مخې وبولي !!.

خومونږ چې ګورو ډېری رسنۍ په افغانستان کې ددغه انحراف ترڅنګ دپردي فرهنګ اوکلتور په خدمت کې دي داسلامي احکامو څخه ډېرلرې دعريانۍ اوفحاشۍ خپرولوته يې کارويلي دی اوځينې بيا يواځې ژبنې تعصبونه رامنځته کوي اوله دې لارې دافغانستان راتلونکی ثبات له خطر سره مخ کوي، دطالبانو په وړاندې درسنيو د' مور اوميره' سلوک اودا ډول ناوړه کړنې په طالبان دېته مجبوروي چې بالمثله اقدام وکړي او ديوه مسؤل او واکمن جهت په حيث پرېنږدي چې ددوی په هيواد کې منحرف حرکتونه خپل انحراف ته دوام ورکړي، داجرئت به دوی ته پخپله همدغه ډول رسنۍ اومطبوعات ورکوي چې په خپله تګلاره او مسؤليت کې خپلومطبوعاتي اصولو او رسنيزو عهودو ته متعهد او ژمن نه وي، بيا به يې دطالبانو په وړاندې دبيان دآزادۍ او نورې ګيلې ډېرې بې ځايه وي .

طالبان اوس په افغانستان کې هغه قوت او حقيقت دی چې سترګې ترې نه شي پټېدلای، دچا زړه يې غواړي اوکه يې نه غواړي هغوی اوس دافغانستان پرډېری برخه مسلط دي او له دې سره په څنګ کې مهم ټکی لا داچې ولسي ملاتړ هم له دوی سره شته ، په دې اوس ټوله نړۍ سلاده چې نور بايد اسلامي امارت ديوه داسې جهت په توګه ومنې چې دافغانستان پر خاوره او ولس يې بالفعله اوبالقوه نفوذ موجود دی، نور نه ښايي چې دنورو اشغالګرو په غلطو سياسي تګلارو تېروپستل شي،بلکې دځمکنيو واقعيتونو له مخې له افغانستان سره سياسي اړيکې ترسره شي، همدغه راز بايدکورنۍ اوبهرنۍ ټولې مطبوعاتي کړی او رسنۍ له همدې سياسي فهم نه په الهام خپله يو اړخيزه تګلاره بدله کړي ، ترڅو به په حقايقو او واقعيتونو پرده اچول کيږي او ترڅومره وخته به دافغانستان له خلکو واقعيتونه پټ شي؟؟

لکه څنګه چې په دې نوين قرن کې دمطبوعاتو اورسنيو سير ډېر ګړندی او زيات پرمختګ کړی په همدومره اندازه اوس خلک هم په هرڅه پوهيږي او ددوی دغولونې هڅې اوس ډېرې کارنده نه دي، بل داچې پخپله درسنيو ډولونه هم تردې رارسېدلي چې ټول يې ترېوه اداره او ځانګړيو کړيو نه شي منحصرکېدلی، خواله رسنۍ چې ولسي مطبوعات يې بللی شو ډېر ژر هغه څه را روښانه کوي چې په دولتي اونيمه خپلواکه رسنيوکې يې دپټېدو هڅه شوې وي، نو له واقعيتونو او ځمکنيو حقايقو مخ اړول پرته له دې چې رسنۍ له رسوايي سره مخ کړي بله کومه نتيجه نه لري، ښه به داوي چې دافغانستان خلکوته هغه څه ور ورسول او ښودل شي چې په واقعيت بنا وي، همدا د رسنيزو اصولو اصل دی اوله همدې ټکي درسنيو اومطبوعاتو تعريف رامنځته شوی، طالبان هم له رسنيو دا نه غواړي چې زمونږ پلوي وکړئ اوزمونږ کټې په پام کې ونيسئ،بلکې يواځې دومره وايي چې رسنۍ بايد تعادل په پام کې ونيسي او واقعيتونه خپاره کړي اوبس.

اشرف غني دروان جهاد نسبت ولې ګاونډي هیواد ته کوي !!؟

خلیل ـ عزیز

اشرف غنـي ، پـه دې ورسـتیوکې لـه پاکسـتاني ژورنالیسـت (سـلیم صـافي) سره دترسره شـوي مرکـې په اوږدو کې ، چې دهغه هیواد (جیو تلویزون) خپره کړه پـه ډیـرې سـپین سـترګي پـه حقـایقو دخـاورو اړولـو هڅه وکړه ، ځان یې دافغانستان منتخب ولسمشر ـ یادکړ ، داشغالګرو امریکایانوهرډول وحشت یـې دافغـان مسلمان ولس پـه وړانـدې روا وبالـه اوکـوم سـپیڅلي مقاومـت او جهاد چې دمجاهـدو افغانانوپـه پـاکو قربـانیو اوسرښـندنو پرمخ ځي هغه یـې دګاونـډي هیـواد جنګ او مداخلـه وګڼله !!

ترټولو ړومبی خبره چې لکه لمر روښانه اوبـرالا ده اودافغانستان دهر فرد او وګـړي سرپـرې خـلاص ده هغه داده چې دکابـل رژیـم هیڅکلـه دافغانـانو پـه اراده او خوښه منځته ندی راغلی اونه یې واکمن دافغانانو له متن او مـنځ نـه راپورتـه شـوي ځـیـري دي ، بلکـي دغـه رژیـم دامریکـادبهرنیو چارو دوزیـر (جـان کیـري) پـه خاصه طرحه او دامریکا دملي امنیت دیـوې استخباراتي پروژې په شکل کې جوړ او رامنځته شو، چې جوړښت او ټاکنه یې هـم دجـان کیـري کـار وو اوچلـول او اداره کول یې هم دهغه په واک او صلاحیت کې دي .

که نور مثالونه یوې خواته پریږدو همدغه دوه اوږ ی مخکـې چـې کلـه دوارسـاپه ناسـته کـې داشرف غني دګډون خبره راغلـه ، ډاکټرعبدالله هـم غـږ اوچـت کړچـې زه لـه چـا کـم یـم زه بـه هـم پـه غونـډه کـې ګـډون کـوم ، ځکـه جـان کیـری دافرمـان ماتـه هـم راکـړی چـې تـه لـه اشرف غنـي سره برابـر حقوق لري ، اشرف غني که هرڅومره دعبـدالله دممانعت خبره وکړه ، چې په اصطلاح ولسمشر زه یم اوتنها زه باید پـه ناسـته کـې برخـه واخلـم ، خـودواړو بـالاخره فیصله په دې وکړه چې موضوع به خپـل بـادار (جـان کیري) ته لیږي هغه چې څه پریکړه وکړه هغه به منو ، هماغه وو چې بادار یې فیصله ورکړه چې دواړه دوارسا غونډې ته ورشي ، ولې دناستي میز به مو یو وي .

نویوځوک چې ځانته ولسمشر ـ وایـي او هغه ددې صـلاحیت او جـرات نلـري چـې پـه نړیوالـو غونـډو کې دخپل هیواد استاځیتوب په کوم کیفیت او شکل ترسره کړي او ترهغو داستونزه نشي حل کولای چې جان کیـري پکـې خبـره ونکـړي ، نـو تردغـه ذلیـل، رسـوا او تالیځتي واکمن به دافغانستان په تاریخ کې نه راغلی وي اونه به راشي ؟

اشرف غني له جیو نیوز سره په مرکـه کـې ویـلي ، چې امریکایان دافغانستان په جګړه کـې دخیـل نـدی ، بلکـې زمـونږ صرف حمایـه کـوي ، ولـې ورسته بیا وایی چې که امریکایان په کومه جګړه کې برخـه اخـلي حتما له ده نه اجازه ترلاسه کوي .

عجیـب منطـق او عجیـب قضـاوت !!! کـه دغـه خبره داشرف غنـي کـوم ویانـد کـړې وای ، نوسـړي بـه ویـلي وو چـې هغـه ټیـټ پـوړی کـس دی ممکـن معلومـات بـه ونلـري ، خـو چـې یوځـوک ځانتـه دنـړۍ دوهم مفکر وایی ، جمهور ریس اودپوځ سراعلی قوماندان رسـتاړي هـم لـه خپـل نـوم سره تـړي هغـه چـې دغسې ببولالي وایي او دټول افغان ولس په سترګو کې

خاوري وراچوي نه پوهيږو چې دغه امريکايي نانځکي ته بل کوم لقب او نوم ورکړو ؟

کله چې اشرف غني دواک په امريکايي گدی ک يناستلی چې نيږدي دوه کاله پوري کيږي دامريکايي بمباريو ، امريکايي چاپو او مخامخ جگړو له امله شاوخوا دری زره ملکي افغانان وژل شوي اوپه زرگونو تنه بگرام ته وړل شوي اوشکنجه شوي

اوس پوښتنه داده چې دغه کار به يا امريکايانو په خپله ترسره کړي وي ،نو ته اشرف غني چې ځانته دافغانستان ولسمشر وايي اوپه لوړه کې دي هم سوگند اخيستی چې دخپلو اتباعو حقوق به خوندي کوي او په هرقيمت به ورنه دفاع کوي ،ايا تا کومه ورځ له امريکايي قومندان څخه پوښتنه کړې چې تاسي ولي زمونږ ملکي وگړي په نښه کوی ، ولې زمونږ روغتونونه ، جوماتونه، ودونه، جنازي او عامه ځايونه دډرون هدف گرځوي او يايې بمباروی؟

هغه په کندوز کې چې امريکايانو دبې سرحده ډاکټرانو روغتون په بل مخ واړاوه او لسگونه عام افغانان پکې ووژل شول،له عاملينو سره يې تاخه وکړل اوبيا امريکايانو له هغې پيښې اوغميزي سره څه ډول چلند وکړ،چې دايې يوادنی او وړوکی مثال دی ؟

اوکه چيري ته وايي چې هر بريد امريکايان ستا په خوښه او اجازه ترسره کوي ،نو بيا خو خبره خلاصه شوه ، دافغانانو درجه اول قاتل ته يې ،که وخت يې راغی افغانان به دالله تعالی په مدد ددغه يوه يوه جرم اوقتل حساب خامخا درسره کوي ؟

اشرف غني ،له سليم صافي سره دمرکي په اوږدو کې بار بار ددې خبري کوشش کړی چې دخارجي لښکرو او اشغال په وړاندې د روان جهاد افتخار گاونډي هيواد پاکستان غاړي ته ور واچوي

په دې خبره هم دبادرکو افغانانو سر خلاص دی ، کچيري امريکايان او گوډاگی رژيم يې دروان جهاد نسبت پاکستان ته ونکړي اوپاکستان په دغه عظيم مقاومت کې دخيل ونه گرځوي نو امريکا به افغانانو او نړی ته دهغه سوپرپاور لويي دعوه اوشعار په باب چ ې لری يې څه ځواب وايی ، چې مجاهد او فاتح طالب په څومره عجيب شان له امريکايی طاغوت نه کوکاري پورته کړي او ټولي جنگي ستراتيژياني اوديونيم ترلينون ډالرو لگښتونه يې ورته خاوري ايري وگرځول .

نواشرف غني او امريکايان ددې لپاره چې دمجاهدينو په نه ماتيدونکي ځواک او جهادي صلاحيت پرده واچوي او په هرميدان کې خپلې رسوايی او ماتي پټي کړي ،نو له ډيرې اسانه او بې مصرفه ټاپي او مهر څخه دضرورت په وخت کې کار اخلي چې ووايی دي او فلاني کار کې دپاکستان لاس دی !!

مونږ اشرف غني او امريکايانو ته وايو چې اسلامي امارت اوس له ډيرو سختو حالاتو اوشرايطو اوړيدلی اوستاسي له ډول ډول حربو که هغه جنگي وي که سياسي بريالی ترې راوتلی ،لدې ورسته چې تاسي په بې مفهومه او بې نتيجې لارو چارو فکر کوی اودروان جهاد جرړې بل چيرته لټوی اوخيال موداده چې څه به ترلاسه کړی، کلک باور ولری چې په دې کار سره ياځانته دوکه ورکوی او يادافغان ولس په سترگو کې د خاورواچولو هڅه کوي، چې په دواړو حالاتو کې به مو هغه دچا خبره مختور او تلي شني وي.

رښتيا!

عمري بريدونو اوفتوحاتو څه په ډاګه کړل؟

بشير

پــه ټــول هېــواد کـــې د اشـــغالګروځواکونو د شـــتون پرضـد د بـاتورو او ننګيـاليو مجاهـدينو لـه لـوري عمـري عمليات له تمې او توقع نه هم زيـات بريـالي اوموفـق روان دي، چې په نتيجه کې يوشمير ولسوالۍ او سيمې دمجاهـدينو لخوا فتحه اونيول شوي.

دکاميابو بريـدونو پـه لـړ کـې پـه پلازمينـه (کابـل) کـې دنهمې حوزې په مربوطـاتو کـې دخارجي ځواکونو په هغـه مرکـز [نارتګيټ هوټل]چې هغوی تري دميلمستون سربيره د استخباراتي او لوجيستکي مرکز په توګه هم کـار اخسـته دځلـورو فـدايې مجاهدينو لخوا وربانـدې فـدايي بريدونــه پــه بيســاري ډول کامياب او هدفمن وو، داسلامي امارت دوياند ذبيح الله مجاهد په وينا:

په ياد مرکز د عملياتو پيل لومړی ديوه فدايي مجاهد لخـوا يـو مـازدا مـوټر چـې لـه درنـو منفجـره مـوادو ډک و د نارتګيـټ هوټـل لـه ودانـۍ سره دجنګولوځخه وشو. چې ورسره دياد مرکز ګڼې ودانـۍ، د خـوب کولـو خـونې، خوړنځای، وسلتون، د نفتي او خوراکي موادو زيرمتونونه، دعياشيو او فحاشيو تالارونه پريوتل او له امله يې د ميشتو بهرنيانو لوی شمېر يې ترملبې لانـدې راتلو په وجه مړه اوټپيان شول.

په تعقيب يې درې فدايان چې په سپکو ، درنو وسلو، غورځونکو بمونـو، ماشينګڼو او واسکټونو سمبال ول د ياد مرکز ودانيوته ته ننوتـل او د پـلان سره سم يې په بهرنيو اشغالګرانو چې دغه مهال په سوړو او سوغالو کې پټ ول دټوپکو شپيلۍ وروګرځولې. چې د سهارتر۵ بجوا يـې دوام وکـړ ددې پـه نتيجه کې هوټل کې له ميشتو بهرنيانو څخه يو هم روغ پـاتې نشـو يـا ووژل شول او ياپه مرګوني حالت کې ټپيان شول.

بيا دريو واړو فدايي مجاهدينو د ورکړل شـوي پـلان سره سـم د بهـر نـه ورتلونکـو اشـغالګروځواکونو او د مـزدوررژيم عسـکر او پـوليس تربريـدونو لاندې ونيول چې تر ۲ ساعتونو پوري يې دوام وکړ په ترڅ کې يـې ګـڼ شـمير بهرني او کورني عسکر او پوليس مړه او ژوبـل شـول چـې د امبولانسـونو پـه وسيله د دښمن لخوا انتقاليدل. په دې توګه د دښمن په سوونو کسان چې د کره استخباراتي او داخلي معلوماتو په اساس په دې وخت کې ميشـت ول، زيـاتره

دوی اټکل لري افغانستان هضمول د دوی له وس نه بیرون کار دی. څنګه چې انګریزانو او شورویانو دغه ارمان له ځانو سره ګورته ویوړ هم داسې به یې امریکایې اشغالګران هم له ځانو سره ګورته یوسي.

که اشغالګران هرڅو دخپل شتون دساتنې لپاره نوي وسایل او پرمختللې ټیکنالوجې راوړي خو په مقابل کې یې مجاهدین هم په ښه عالي مورال جهادي پلانونه تنظیموي او وربانديې دژوند کړی تنګوي

او د هرې ورځې په تیریدو دخپلو کړو جناياتونو بیه پريکوي، ښه داده چې امریکا ددې هېواد له اشغاله لاس واخلي...

په ورته توګه ولایتونوکې د عمري تندريزو عملياتو لړ کې له هلمند ه نیولي د بدخشان تخار ، کندز بغلان ، لغمان او غزني ترمرکزونو فتوحات او بریدونه غځیدلي ، هلمندکې ګرمسیر، خان نشین ،نادعلي او بغران ولسوالۍ عملاً دمجاهدینو په لاس فتحه شوي او دناوې ولسوالۍ په څوسوه مترۍ کې عملیات جریان لري، مجاهدین لښکر ګاه ښارته دننوتو په حالت کې قرارلري، هم دا ډول په فراه جوزجان، بدخشان، کندز،بغلان او غزني کې دمجاهدینو له لوري د دښمن په مراکزو بریدونه دوام لري.

دشهید امیر المؤمنین ملا محمد اختر محمد منصور رحمه الله دشهادت وروسته امریکایانو او دهغوی اجیرې میډیا داسې راپورونه ورکړل چې ګواکي دطالبانو په عملیاتو کې دپخوا نسبت کمښت راغلی اوپه راتلونکي کې به نورهم کمزوري شي ، لیکن وروستیو تازه فتوحاتو دامریکایانو او کفري میډیا په دغه پروګند خاورې واړولې ، دغو سترو او تاریخ جوړونکو فتحووښوده چې دښمن دقوي ماتې په درشل ولاړدی اوهغه ورځ نیږدې ده چې په ټول هېواد کې دهغسې بد انجام سره به که خدای کول مخ شي ،کوم سره چې د شوروي لښکرې د مخ شوې وې.

دسیمې دسیاسي اوپوځي چارو شناندو په اند د عمري عملیاتو کامیاب اوچټک بهیر ددې خبرې ښکارندوی دی چې طالبان کمزوري نه بلکې دپخوا په

ترې و وژل شول او پاتې یې ټپيا شول ، په ځاني تلفاتو سربیره د مرکز ودانۍ و نړیدلي ګڼ شمیر وسایط یې تخریب او له منځه لاړل په لنډ ډول ویلای شو چې له اټکل اوتخمین نه هم زيات تلفات او زيانونه ورته واوښتل.

که څه هم دښمن دعادت سره سم کوښښ وکړچې د تلفاتو کچه کمه وښيي خو حقیقت دادی چې لمر په دوه ګوتو نه پټیږي

ددې نه څو ورځې وروسته دهېواد په ختیځ ننګرهار هډه کې د امریکایانو په یو قطار د فدايي برید په نتیجه کې ۲ ټانکونه ویجاړ او ٦ امریکایي عسکر ووژل شول

دمجاهدینو دمنابعو په وینا:
په ټوله کې ددغو بریدونو نه هدف دا دی چې څو امریکایان وفهموي دکومو شومو اهدافو پخاطر چې دوی افغانستان اشغال کړی، دهغو ترلاسه کول دومره اسان کارندی څومره چې

ځېر منظم ،پیاوړي اوغښتلي دي، هغوی به وکړای ی شي په لنډ وخت کې نورې پراخې سیمې هم ترخپلې ولکې لاندې راولي.

دعمري عملیاتو وروستي خوځنده چټک بهیر وښوده چې امریکایانو دډېرو پیسو لګولو او دنوې پرمختللې ټیکنالوجۍ دکارولو سربیره جګړه بایللې اود عسکرو مورالونه یې پرېوتي، هم دا راز جوته شوه چې مریکایانو او میډیا چې دغلامې اردو دپیاوړتیا او غښتلتیا په اړه په لوړستوني کومې دعوې او دنګلې کولې هغه ټولې درواغ وختې، دپریمانه اکمال او ډول ډول جنګي تجهیزاتو باوجود له جګړې له ډګره داسې راپورونه راځي چې هغوی د ډېر بد حالت سره مخ دي اوزیات شمیر یې د پوره نه اکمال له امله سرټکوي اوشکایت کوي چې په وخت سره ورته جنګي تجهیزات او خوراکي توکي ورته نه رسي،چې په سبب یې دوی دطالبانو په مقابل کې دجګړې تاب نلري، حال داچې پخپله دکابل غلام رژیم منلي چې دوی ته دامنیتي تړون دلاسلیکولو په عوض کې هره ورځ دامریکا لخوا ۲۴ملیونه ډالر دجنګي لګښتونو لپاره ورکول کېږي ددې سربیره داکمالاتو دنشتوالي غوغا ښیي چې دغني او د ډېل په دوه سره حکومت کې فساد ترمورګو رسیدلی، ځکه په ټولو کلیدي پوستونو یې زیاتره هغه مفسدین او غله ګومارل شوي، چې په غلا،چور اوفساد کې دوکتوراوې لري،هغوی سره یواځې دخپلو جیبونو دډکولو اوپه بهر کې دکورونو دراپیرلو غم دی،هغوی په افغانستان او افغانانو څه کوي، یواځې دځو ډالرو مندلو مجنونان دي ددې سره سروکار نلري چې په لوږې کړښه کې دچا ځوی،دچاورور وژل کېږي؟ او په څنګه حالت کې ؟ هغه ځوانان چې تش په نامه افغان اردو لیکو کې ځانونه وژني ، خپل عمرونه تباه کوي باید فکر وکړي چې دچا لپاره ځانونه وژني؟ ددوی په وینو څوک سودا کوي؟ باداران یې دچا په خلاف جنګوي؟ هغوی څوک دي او څه غواړي؟

بیشکه طالبان هغه څوک دي چې دافغانستان دازادۍ لپاره جنګ کوي او داشغالګرو له مونګلو څخه خپل هېواد ازادول غواړي، اوهرچې په دوه سره حکومت راټول خللک دي ، لوی شمیر له اروپا او امریکا نه رالیږل شوي، دځو ډالرو پیداکولو په عوض کې هغوی تیاردي چې دافغانستان او افغانانو په سر هره معامله چې کیږي، وي کړي! ددي لپارهد هیڅ قسم خیانت اوجنایت ارتکاب نه دریغوي اوطالبان هغه دي چې دافغاني ننګ او غرور شمله یې هسکه ساتلي او امریکایي یرغلګروته یې دافغانستان لویشت خاوره سوتنور کړې.... پای

د تخیل په دنیا کې له ازادۍ سره مرکه

لیکنه:مولوي عبدالهادي (مجاهد)

کله کله د ځینې مو ضوعاتو د یادولو او پر هغــو د نیوکــو لپاره د تخیل اسلوب تر نور اسالیبو ډېر غوره وي، ځکه چــې پــه دغه اسلوب کې د تعبــیر او د واقعیتونــو د تمثیـل پـراخ ظرفیـت موجود وي او لیکوال کولی شي د ترخو واقعیتونــو پــه اړه خپـل احساس او پیغام د رمز په لطیفي او عاطفي ژبې لوستونکو تــه ور نقل کړي او په اسانه هغو مفاهیمو او وضعیتونو ته د هغوئ پام ورواړوي چې کېدی شي په نورو اسـاليبو کــې د هغــو بیـان ورځخه یو څه ستغ شي.

دا چې افغانان د نړۍ یو آزادي خوښوونکی ولـس دی او د پېړیو په اوږدو کې تل د آزادۍ د ګټلو او پاللو په مبارزو کــې لــه ځینې نیمګړتیاوو سره سره پــه پرلــه پســې ډول مصـروف پـاتې شوي دي او خپل ډېر څه یې د دغه ارزښت په خوندي ساتلو کــې په پوره شهامت مصرف کړي دي، نو په کار ده چې دغه ارزښــت یې په فکري او واقعي ژوند کې نور هم ښه وپالـل شي، او ټولــو هغو خطرونو ته د دې ولس د بچیـانو پـام ورواړول شي چــې د دوئ آزادي تهدیدوي او یا یې په اړه د دوئ شعور کمزوری کوي.

د دې لپاره چې د دغه ستر معنوي او اجتماعي ارزښت پــه پاللو کې ما هم ځان ورګډ کړی وی نو د تخیل په دنیا کــې مــې د آزادۍ له مفهوم سره د یو څو موجودو واقعیتونــو پــه اړه دغــه لاندې مرکه ترتیب کړې ده، هیله ده چې د هغې لــه لارې بــه مـې مهمو مفاهیمو ته د خلکو پام وراړولی وي.

ازادي هغه ارزښتناک او بې مثاله نعمت دی چې د خپلــواک او سرلوړي ژوند ټول داورمدار د همدې نعمــت تــر شــتون او نــه شتون پورې تړلی دی. که ازادي وي نو په ژوندکې خونــدهم وي، او که ازادي نه وي نو بیا ژوند د عذاب یو بل نوم دی.

کله کله اشخاص د ازادۍ له برکتــه د قومونــو او ولســونو حیثیت تر لاسه کړي، او کله بیا هم پوره پوره ولســونه د هغــې د نشتوالي له امله په ولسونو کې هېڅ اهمیت نه لري.

ازادي هغه ښکلې قدرمن حالت او معنی ده چــې سرلــوړي ولسونه خپل ټول مادیات تر هغې قربانوي.

ازادي هغه ښکلې او پتمنه لیلا ده چې د ویښو او خپلواکــو ولسونو مېړونه د هغې د ساتنې او پالنې پــه لاره کــې لــه خپلــو سرونو تېرېږي.

آزاد خبریال (غازي) له مودو مودو راهیسې په آزادۍ پسې لالهانده ګرځېده ترڅو هغه و وینې او مرکــه ورسره وکــړي. پــه هغې پسې یې ډېرښارونه، غرونه، هېوادونه او نظامونه ولټــول، ډېر ورپسې ستومانه شو، خو دا دی په پای کې وتوانېد چــې لــه هغې سره په یو داسې ځای کې وګوري چــې نــوم يــې د امنیتــي شرائطو له امله نشي ځرګندولی، خو له هغې سره یې یوه په زړه پورې مرکه کړې چې د لوستونکو مخې ته یې ږدو:

غازي :په پیل کي که مهرباني وکړئ او لوستونکو ته خپـل ځان ورمعرفي کړئ.

آزادي: مننه! د ځان د معرفۍ خبره دې ښه وکړه، ځکه چې زه اوس په مسلمانه ټولنه کــې یــو ناپېژنــدل شــوی او مجهــول مفهوم ګرځېدلې یم. ډېره موده وشوه چې چا ډېره نه یم لیــدلې. له خلکو هېره شوې یم، ځکه خو مې اوس څوک ډېره نه پېــژني، که څه هم چې پخوا زه د مسلمانو ولســونو تــر ټولــو مشــهوره پېژندګلوي وم.

زمانوم آزادي ده. زه په اصل کې یوه معنی یم، خو کله کلــه په ژوندون کې مادي بڼه هم غوره کــوم. زه او آدم علیــه الســلام دواړه په یوه کال پیداشوي وو. وطن مې د زمکــې پــر مــخ کــوم خاص هېواد او سیمه نه ده، بلکې زه هر چېرې اوسېږم، خــو لــه ویښواو مېړنیو ولسونو سره. او چــې پــه هــر ځــای کــې زمکــه راباندې تنګه شي، او خپل راته پردي شي، نو بیا لــه هغــه ځایــه کډه وکړم او بل چېرې ولاړه شم.

زما او د انسان ترمنځ فرق دا دی چې هغــه پــه خــوراک او څښاک پایي، خو زه په غیرت، سرښندنې او قرباني. هغه مــري، خو زه مرم نه بلکې کمزورې کېږم او بیا خپل شکل بدلوم.

غازي: د شکل له بدلولو مو مطلب څه دی؟

آزادي: يعني كه لويه يم نو وړوکې شم. که په ژوندکې په يوې مادي بڼې بدله شوې يم، نو بيا بېرته معنی شم. که مې حکومتونه وشړي، او يا مې د ترلوکوښښ وکړي نو بيا زه د کوم دردمن با احساسه او عظيم انسان په مغزو کې ترې د يو څه مودې لپاره پټه شم او هماغلته د هغه د فکر په دنيا کې خپله پاچاهي کوم. زه بيا هغه دردمن با احساسه او عظيم انسان دومره مست اوسرشاره کړم چې د ټولې دنيا زورور ورته کمزوري ښکاري. هغه دومره مست او پياوړی شي چې نه يې زولنې ايساروړی شي، او نه يې زندانونه عزم ورسستولی شي.

غازي: خلک خو تا په ښارونو کې لټوي، خو ته دلته په غرنوکې اوسېږې! موږ د دې مرکې لپاره په تاپسې ډېر ښارونه او ډېرې مانۍ ولټولې، خو هلته مو ونه ليدې، که لوستونکو ته يې هکله څه و واياست؟

آزادي: ډېره موده وشوه چې ما ښارونه او قصرونه پرې ايښي دي، ځکه چې زه هلته د مسلطو خلکو نه خوښېدم، هغوئ هلته زما د له منځه وړلولپاره ظالمانه قوانين جوړکړي ول، او چې قوانينو يې هم زه ورکه نه کړای شوم، نو بيا يې زما د له منځه وړلولپاره پردۍ لښکرې راوغوښتې، ناتارونه او تاړاکونه يې جوړکړل، زما ډېر پلويان يې ووژل، او ډېر نور يې د تورو تمبو شاته بندکړل. ما هم نور د ښارونو ژوند پرېښود او له مانيو راووتم، ځکه چې دا مې نشو زغملی چې لکه د دربار د وينځې په څېر په مانيو کې د جابرانو او مستکبرانو په خدمت کې و اوسم، او د هغوئ د توطيو قرباني شم. نو دا مې ښه وګڼله چې غرونو ته پنا يوسم.

غازي: پوښتنې خو مې نورې هم ډېرې دي چې وروسته به يې درڅخه وکړم، خو ته اوس دا راته ووايه چې ته خو ماشاءالله ډېره ښه پښتو وايې! دا دې چېرته زده کړې ده؟ او بله دا چې نورې دې کومې ژبې زده دي؟

آزادي: پښتو خو مې په افغانستان کې زده کړې ده، زه ډېره موده په افغانستان کې اوسېدلې يم، په سلګونو کلونه مې له افغانانوسره تېرکړي دي. زه د افغانانو دومره خوښه وم چې خپلې په لکونو ککرۍ به يې زما د ساتنې او پالنې په لاره کې قربانولې. ما د هغوئ ټولې ژبې زده کړې دي، خو پښتو مې ځکه ښه زده کړې چې پښتنو به له ماسره بې ساري مينه درلوده. خو پدې وروستيو وختونوکې په دوئ کې هم ځينې خلک را پيدا شول چې (سيکولر) يې بولې، دوئ ډېر بې غيرته او بې دينه خلک دي، او له ما سره يې سخته دښمني ده. زه تر دې څو کلونو د مخه هم په افغانستان کې له افغانانو سره اوسېدم خو...

غازي: نو بياڅه درپېښ شول؟

آزادي: آه، خپلواکو مجاهدو افغانو زه د خپلو وينو په بيه ساتلې وم، خو په دوئ کې يو څو نا اهله او غلام صفته خلک چې له ماسره يې فطري دښمني درلوده او زه يې په افغانستان کې نه شوم زغملی، لاړل او له غرب څخه يې زما تاريخي دښمنان (د صليبي جګړو يرغلګر) راوبلل. هغوئ ټولو زما په خلاف نړيوال ايتلاف جوړ کړ، او زما په ضديې يوه بې رحمه جګړه پيل کړه.

د دښمن لښکرې، وسلې اوجنګي وسائل دومره ډېر ول چې زما پلويانو د سختو جګړو کولو او بې د ساريو قربانيو په ورکولو بيا هم د يرغل مخه ونه نيولی شوه. د سختوجګړو او د زرګونو ککريو تر قربانېدلو وروسته زه بيا له خپلو څو محدودو پلويانو سره هماغو غرونو ته وختم چې څوکاله د مخه ورڅخه راکښته شوې وم. يو څه پلويان مې خائنان او غداران هم وختل، هغوئ چې يو وخت يې ځانونه زما د پلويانو مشران او رهبران ګڼل، او د (مولوي)، (مجاهد) او (روحاني) نومونه يې هم پر ځانونو ايښي وو، خو د غيرت او وفا د امتحان پر ورځ په ډېرې بې شرمۍ د دښمن په صف کې ودرېدل.

د نورو ژبو په هکله به درته ووايم چې زه په عربي، چيچنيايي، کشميري، ازبکستاني او د قوقاز په ځينو ژبو هم پوهېږم، خو ترټولو زياته مې عربي ژبه خوښه ده، هغه چې ما له محمدصلی الله عليه وسلم، ابوبکر الصديق، عمربن الخطاب، خالد بن الوليد او نورو اصحابانو رضي الله عنهم څخه زده کړې وه، او لاتر اوسه عربان ورباندې خبرې کوي.

په عربۍ کې مې بيا د فلسطين، عراق، يمن او د سوريې د خلکو لهجې ډېرې خوښې دي. خو د خليج او مصر- د هېوادونو لهجې هېڅ خوند نه راکوي، ځکه چې هغوئ عربي له حده زياته خرابه کړې ده، او انګريزي او عبري (د يهودو ژبه) يې دومره ډېره پرې ورګډه کړې ده چې نور د عربۍ خوند ورکې نه دی پاتې.

غازي :تا خو د نړۍ ډېر ولسونه او قومونه ليدلي او ورسره پاتې شوې يې، او ډېرو ولسونو ستا تر سيوري لاندې د سرلوړۍ ژوند هم تېرکړی دی، که دا راته و وايې چې ته څنګه حاصلېدای شې؟ اويا په بل عبارت ستا او د ولسونو ترمنځ په کوموشرايطو ديووالي او يو له بل څخه د دفاع تړون رامنځته کېږي؟

آزادي: دادي ډېره ښه ا ضروري پوښتنه وکړه، ځکه چې له مسلمانو ولسونو اوس زما لاره ورکه شوې ده، او له ماسره د تعامل طريقه هم ورځخه هېره شوې ده. دوئ ته زما د ورتلو لاره يوه وي، خو دوئ پر بله زما د ورتلو انتظارباسي. پدې هکله بايد درته و وايم چې لومړۍ خبره خو دا ده چې زه چاته په خپله نه ورځم. زه هغه وخت ورځم چې دوئ مې وغواړي. او هغه ملت ته خو له سره ورځم نه چې تر مايې غلامي خوښه وي.

دويمه خبره داده چې زه هغه وخت يوه ملت ته ورځم چې په زرګونو او لکونو ځوانان يې له تورو او ټوپکو سره د جهاد او قربانۍ په ځپاندو ولولو زما د ورتلو پرلارې پـه استقبال راتـه ولاړوي، او دي ته تيار وي چې د هغو خلکو سرونه ورغوځ کړي چې دوئ ته مې له ورتللو ايساروي.

او دريمه خبره دا ده چې زه ولسونو ته په يوه شرط ورځم، او هغه دا چې زما د ساتني او پالني په لاره کې به له ټولو مادي ګټو تېرېږي. زه بايد ورته تر ټولو مادي مصلحتونو ګرانه او محترمه و اوسم. هغه خلک چې تر ما ورته ځپل ځانونه، مالونه او دنيا ګرانه وي، هغوئ کله هم مانشي ساتلای، او کېدای شي چې په ډېره ارزانه بيه مې خرڅه کړي، او يا مې لاس تړلې دښمن ته ور وسپاري. او که په لنډو يې درته ووايم نو زما د حاصلولو وسيله هم جهاد او قرباني ده، او د ساتلو ضامن مې هم جهاد او قرباني ده او بس. او هر هغه ولس چې د جهاد او قربانۍعزم او روحيه نه لري، زه له هغه سره هېڅ ترون او تعامل نه کووم.

غازي: ځيني خلک خو کوښښ کوي چې تا د ډيموکراسۍ، انتخاباتو، فرهنګي مبارزې، دعوت او دې ته ورته نورو وسيلو له لارې حاصله کړي، که دا راته و وايې چې تـه لـه دې لارو هـم ورځې؟

آزادي: لکه مخکې مې چې درتـه وويل زمـا د حاصلولو يوازينۍ لار جهاد او قرباني ده او بس. البتـه دغـه نـورې ټـولې لارې ځوکۍ، منصب، شـهرت، دلـې ټپلـې جوړولـو او سـياسي مصالحو ته د رسېدو لارې دي، خو هېڅکله له دغو لارو ما نشي حاصلولی. دغه لارې ټولې د ځان او خلکو د تېر ايستلو لارې دي، بلکې دا ټولې هغه لارې دي چې غلو، ټګانو، په مسلمانانو کې د غرب ملګرو، سست عنصره او خېټه ورو سياسي مشرانو، د دين په نامه تجارت کوونکو او د (امريکـايي اسـلام) پلويـانو خپلـو اهدافو او خوندونو ته د رسېدلو لپاره جوړې کړې دي.

غازي صيب! ددې لارو په هکلـه بـه زه خپلـې ځـو ترخـې تجربې درته تېرې کړم، کېدای شي لـه هغوځـه د دغـوو لارو د افاديت ځومره والی درته معلوم شي.

زه به خپل د سترګو ليدلی حال درته ووايم او هغـه دا چـې پدې نږدې ماضي کې يو ځل د شمالي افريقا د يوه هېـواد خلکـو چې عربان يـې (الجزايـر) او کـافران يـې (الجېريـا) بـولي زه د انتخاباتو او ډيموکراسۍ له لارې ور دعوت کړم. هغوئ په ډېـره مينه، اخلاص او ولولـو پـه مليونونـو خلـک زمـا اسـتقبال تـه راوېستلي وو، زما د راتګ يـې پـه لسـګونو کلونـو انتظـار هـم وېستلی وو، په سلګونو مليونه پيسې يې هم زمـا د راتلـو لپـاره مصرف کړې وې. ښځې، نارينه، ځوانان او زاړه ټول زما د راتلو پر لاره د استقبال لپاره راته ولاړ ول، خو افسوس چې دغه ټول خلک په تشو لاسونو او له وسلې پرته هسې د رنګينو بوتانو پـه ځېـر ولاړول.

کله چې زه چـې د دوئ د اسـتقبالیې قطـارونو تـه پـه ور رسېدو شوم، ناڅاپه يو قيامت جوړ شو، له هرې خوا وسـله وال سړي چې خبري يې د وطن د خلکو په ژبه کولې خو دريشۍ يـې پردۍ وې او نشانونه يې هم پردي ټومبلي ول، له موږ راتاو شول او دا په مليونونو خلـک يـې ټـول يـوه خـوا او بلـه خـوا پسـې واخيستل، ځيني يې ووژل، او ځيني يې وتړل. ځيني نـور يـې تـر پښو لاندې له خارو سره خاورې کـړل، او ځينـي يـې لاس تـړلي زندانونو ته بوتلل. يوازې يو څو تنه ترې په تېښته خلاص شول.

غازي صيب! ډېر بد حالت وو، هره خوا چيغـې او کوکـارې پورته کېدې، نارينه له خپلو ښځو ورک شول، او ښځې لـه خپلـو سريو او اولادونو. مسلحو غدۍ والو زما د استقبالیې لپاره ټـولې ښايسته کړل شوې او رنګينې دروازې ونړولې، او بيرغونو ته يـې اور وراچاوه. هېڅا ورته څه نشو ويلای، ځکه چې له خلکـوسره وسله او د دفاع هېڅ وسيله نه وه. که به چا د څـه ويلـو جـرأت وکړ نو سمدستي به يې سترګې ور وتـړل شـوې او پـه ډبولـو او ښکنځلو بـه نـامعلوم لـوري تـه روان کـړی شـو. دريشـۍ والا ټوپکوالو زما استقبال ته د راوتليو خلکو مشران د بغاوت په جرم په زندانونوکې واچول. کشران يې لکه يتيمان د بل در ته محتـاج او حيران کړل، او اولادونه يې ترې واخيستل او ټول يې پـه هغـو مکتبونو کې شامل کړل چـې همـدې غـدۍ والـو د فرانسـې پـه مرسته او فرمايش جوړ کړي وو چې څـو ورځـې وروسـته بيـا هماغه ټول ماشومان د کودتايي جنرالانو په مخکې پـه داسـې حال کې په نمايشي مارش کې تېرېدل چې هلکانو يې (پتلونونه)

او نجونو یې (میني ژوپ) اغوستې وو، او جنرالانو ورته له عسکري موزیک لاسونه پرقول.

غازي صیب! که د الجزائر خلک مسلح وای، او د مقاومت توان یې لرلی، نو هېڅکله به هغو څو لنډغرو دغه قیامت وربانديې نه وای جوړکړی.

غازي: ښه! نو تا ته بیا څه درپېښ شول؟

آزادي: ما مخکې هم درته و ویل چې ما څوک وژلی نشي.ما په همهغه ځای کې فوراً خپل شکل بدل کړ او غرونو ته مې مخه کړه.

څه موده وروسته بیا د ترکیې خلکو د)نجم الدین اربکان(په مشرۍ دعوت راکړ، هغه ډېر اخلاصمن انسان وو، ما دهغه له ملگرو څخه د دفاع او مقاومت د وسائلو پو ښتنه وکړه، هغوئ راته و ویل چې اوس دې شیانو ته ضرورت نشته، موږ اوس د شلم قرن په پای کې اوسېږو، او د اروپایانو گاونډیان یو، له هغوئ مو د دیموکراسۍ، عدالت او تمدن اصول او اخلاق زده کړي دي. دلته نور د وسلې استعمال او جگړې ته ضرورت نشته، او زموږ پوځیان هم نور هغه د (کمال اتاترک) او (عصمت اینونو) لنډغر بې دینه بدمعاشان نه دي چې چې له دین سره یې دښمني درلوده، هغوئ اوس زموږ ډېر احترام کوي، او تا ته هم ډېر ډېر په درنښت گوري.

غازي صیب ! (اربکانخبلو) د تخیل په دنیاکې له الفاظو داسې رنگین جنت راته جوړ کړ چې تا به فکر کاوه چې د کوم ریښتیني واقعیت حکایت درته کوي.

ما چې د هغوئ دا منظمې او خوږې خبرې واورېدې نو یقین مې راغی چې دوئ لکه چې رښتیا هم په دعوت باندې ترکیه فتح کړې ده.

خو غازي صیب ! کله چې ورغلم هماغه د (الجزایر) ناورین بیا تکرارشو. دا چې وروسته بیا دې خلکو ما ته د غرولو سترگې نه درلودې، نو له بدې ورځې دوئ هم لاړل په اروپا ورننوتل، او دا دی اوس د (ناټو) په صف کې د مسلمانانو په خلاف ولاړ دي.

غازي صیب! زه نه پوهېږم چې د دې زمانې خلک ولې زماپه اصولو ځان نه پوهوي او د ورتگ بلنې راکوي؟! د دریم ځل لپاره د مصر خلک په څه خبره د خپل بوډا فرعون (حسني مبارک) په خلاف راپورته شول، څه واضحه دعوی او آجندا یې هم معلومه نه وه، خو ښځې او نارینه ټول سړکونو ته راوتلي ول، چا به گډاوې کولې او سندرې به یې ویلې، چا به گډوډ شعارونه پورته کول، چا به الله اکبر او نور اذکار او تسبیحات زمزمه کول، چا به ډیموکراسي ډیموکراسي چیغې وهلې، خو چې د لمانځه وخت به راورسېد نو کوم (ډېره خریلی پټلون پوش) به یې مخکې کړ، او ټول به ښځې او نر په چوکونو او سړکونو کې ورپسې ودرېدل.

عجیبه حالت وو، هېڅ نه معلومېده چې دوئ اسلامي حکومت غوښت او که یې ډیموکراسي غوښته، ټولو به (آزادي آزادي) نعرې وهلې، خو معلومه نه وه چې له (چا) او (څه شي) یې آزادېدل غوښتل؟ او دا ځکه چې هغوئ یوازې د (بوډا فرعون) مخالفت کاوه، نه د (ډیموکراتیک فرعونیت). هغوئ به د فرعون ټول لښکر خپل لښکر گاڼه، او د مسلمانانو او کفارو تر منځ یو والي ته به یې د (الوحدة الوطنیة) یعنې ملي وحدت تر نامه لاندې خلک وربلل.

د مصریانو پدې گډوله پاڅون کې یو ډول خلک راپورته شول چې ځانونه یې (نړیوال اسلامي حرکت)بلل، دې خلکو په همدې غوغا کې زما په نامه د (آزادۍ او عدالت) گونډجوړ کړ. دوئ هم د اسلام او اسلامي حکومت خبره چندان په زغرده نه کوله، خو د (ډیموکراسۍ) او (قانوني دولت) چیغې به یې په واز کومې وهلې.

غازي صیب! دې خلکو زه مصر ته ور دعوت کړم، ما هم چې د دوئ مسلسلې مظاهرې، گرمې ولولې او د آزادۍ په نامه گوند ولید نو ورغلم، خو دا چې د الجزائر او ترکیې ترخې تجربې مې په یاد وې نو د(نړیوال اسلامي حرکت) له مشرانو مې جهاد ته د تیارۍ او د دفاع د وسائلو په هکله وپوښتل، هغوئ راته وویل: دا خبرې نورې مه کوه چې خلک به د (طالب) او (القاعدې) ټاپه را باندې ولگوي، او بیا به مو د غرب هېوادونه، نړیوالې مؤسسې او بانکونه تأیید نه کوي.

ما چې هر څو ورته و ویل چې ماته دا بې رحمه پردې پالونکي جنرالان او بې دینه سیکولر او غرب پلوې سیاستمداران رامعلوم دي، هغوئ مې له تاسې سره نه پرېږدي.خو دوئ به هرځل د وسلې له ضرورته انکار او په ډیموکراسۍ ټینگار کاوه، او ویل به یې چې موږ به د منبر، راډیو، تلویزون او فرهنگي مبارزې له لارې د فرعون له ملگرو جنرالانو داسې مجاهدین جوړ کړو چې هم به مصر آزاد وساتي، هم به فلسطین آزاد کړي، او هم به دوئ زموږ د (ډیموکراتیک اسلامي حکومت) داسې

مجاهدین شي چې د افغانستان، عـراق، سـوریې او صـومال لـه (سخت دریزو ترهکرو) به ډېر غوره وي.

غازي صیب! ما که هر څو ورتـه و ویـل چـې دفرعونـانو پوځونه چې د غرب ابلیسانو روزلي دي ټول سره یو دي، او زما او د اسلام دښمنان دي، خو دوئ به راته ویل چې دا خبرې مه کـوه چې پدې خبرو زموږ (ملي وحدت) ته صدمه رسېږي.

حقیقت دا وو چې دوئ به خپله هم د فرعون له پاتې شونو جنرالانو وېرېدل، خو ماته به یې پـه درواغـو اطمینـان راکـاوه. بالآخره یوه ورځ هماغه فرعوني جـنرالان چـې دوئ د اسـلام او وطن سپاهیان بلل په همدوئ پسې راپورته شول، د دوئ مشـران یې ټول په زندانونوکې واچول، او کشران یې ورته د سـړکونو پـر سر تر بلډوزرونو لاندې کړل او پـه مسـجدونو کـې پـه زرګونـو ووژل، او بیا یې د هغوئ مړي هم په بلډوزرونو را ټول کړل او اور یې ور واچاوه.

په هغه ورځ د رابعې په میدان کې او د سړکونو پر سر چې کوم څه تر ټولو ډېر پراته وو او تر پېښو لاندې لیدل کېدل هغـه د قرآن کریم مبارکې نسخې وې چې دې خلکو په شـعارونو کـې د پورته کولو او د تلاوت لپاره له ځانونو سره وړې وې، او هره خوا د مصري پوځیانو تر پېښو لاندې لیدل کېدې.

دې غولېدلیو هم ځان تېرویست او هم یې زه تېـر وېسـتم. اوس مې نو پوخ تصمیم نیولی چې نور به نه د دغه ډول خلکو په دعوو او وېناوو باور کووم، او نه به هم کله د دوئ وطنونـو تـه سر ورښکاره کـړم. دوئ خـو هسـې هـم د زولنـو او زنـدانونو معتادان دي او په غرونوکې د آزادۍ تر ژونده پـه زنـدانونو کـې ریاضتونه خوند ورکوي خو زه یې په شرمونو وشرمولم.

غازي: محترمې ازادۍ! راځم یوې بلې مهمې پوښتنې ته او هغه دا چې موږ خو ډېر ځلې له خلکو دا هم اورو چې پـه غـرب کې ډېره آزادي ده، او حتی چـې غـربي مشـران ځانونـه د آزادۍ اتلان بولي، او هر وخت دا دعوه هم کوي چې هغوئ بـه د نـړۍ نورو ولسونوته هم آزادي وربښي، خو پدې نه پـوهېږو چـې تـه اوس رښتیا هم په غرب کې له غربیانو سره یې؟

او که د هغوئ په مقابل کـې د ولاړو مظلومـو ولسـونوپه طرف کې یې چې د دوئ له ظلمونو او استبداده ځانونه خلاصول غواړي؟ که په دې هکله لوستونکو ته یوڅه وضاحت وکړې؟

آزادي: غازي صیب! دا پوښتنه دې رښتیاهم ډېره مهمه ده، ځکه چې نن ورځ خو د غرب مېډیا تقریبا د ټولونړیوالو ذهنونـه یرغمال کړي دي، او چـې هرڅـه وغـواړي هغـه تـه دربښـتیا او حقیقت بڼه ورکوي او په دومره پراخه پیمانه یې تبلیغوي چې له چاسره یې د تکذیب اراده هم پاته نشي.

غربي مېډیا دا خبره رښتیا هـم د ډېـرو خلکـو تـر غـوږو رسولې ده چې په غرب کې ډېره آزادي ده، خو مسلمانان باید پوه شي چې هغه زه (آزادي) نه بلکې هغه یوه بله ازادي ده. هغه لـه (دین) او (دینداری) څخه آزادي ده، هغه لـه اخلاقـو او معنـوي ارزښتونو څخه آزادي ده. هغه له شرف او حیـاء څخـه آزادي ده، هغه له انساني ترحم او عاطفې څخه آزادي ده. هغه لـه اصـولو قوانینو، عادلو تړونونو او میثاقونو څخه ازادي ده. هلته لور لـه پلارڅخه ازاده ده. ښځه له خپل خاونـد څخـه ازاده ده. فحشـاء، اخلاقي فساد، همجنس بازي او قمار لـه محاسـبې او پوښـتنې څخه آزاد دي. هلته انسان ته مطلقه آزادي ورکړل شوې چـې پـه هر ډول چې غـواړي لـه انسـانیت څخـه ووځـي وتلـی شي، او هېڅوک یې د انسانیت په ضوابطو کې بند نشي ساتلی. او ان تـر دې چې هلته دا آزادي هم شته چې د برطانیې د ولیعهد میرمن دې له بل چاسره د خپلو جنسي اړیکوخبرې د ملـت پـه وړانـدې پـه تلویزیون کې هم وکړي.

تر دې ورتېره دا آزادي هم شته چې نارینه دې له بل نارینـه سره واده وکړي، او قانون دې د هغوئ د حقوقو دفـاع او سـاتنه وکړي، او د مسیحي کلیسا (پادري) دې څه اعتراض هم پرې ونه لري، ځکه چې هغه په خپله هم ډېر هغه واړه ماشـومان د خپـل هوس ښکار کړي وي چې کورنیو یې د دیني زده کړې او د برکت د حاصلولو لپاره (مقدسې کلیسا!!!؟) ته ورلېږلي وي.

او دا خبره چې هغوئ غواړي نـورو ولسـونو تـه آزادي ور وبښي، دا هسې یـوه د درواغـو دعـوی ده، ځکـه چـې همـدغو غربیانو یو وخت تقریباً د نـړۍ د نیمـو اوسـېدونکو (ریښـتنې) آزادي سلب کړې وه، د هغوئ هېوادونه یې استعمارکړي وو، او د خلکو هر څه یې د خپل ځان ګرځولي وو. خو کله چې ولسونو د خپلې تورې په زور هغوئ تېښتې ته اړ کړل، او له خپلو هېوادونو یې وشړل، نو بیا یې د ولسونو د بیا غلام ګرځولو لپاره دا ډنډورې وغږولې چې موږ نور ولسونه ازادوو.

د هغوئ د ازادۍ ښېلو مثالونه خو تاسـې خپلـه پـه خپـل هېواد افغانستان او هم په عراق کې ولیدل چې څو مره خلک یې د ژوند له قیده آزادکړل؟ څومره یې بې کوره کړل؟ څومره میندې یې بورې کړې؟ څومره ماشومان یې یتیمان کړل؟

غربيان په حقيقت کې هېوادونه له خپلو اصلي اوسېدونکو آزادوي، د هغوئ له خپل حاکميت څخه يې آزادوي او بيايې يا عملا په خپله اداره کوي، او يا يې خپلو روزل شويو غلامانو ته ورسپاري. نو زما او د غربي آزادئ تر منځ بايد فرق وپېژنئ! زه د سعات سرچينه يم، او هغه د بدبختئ کنده.

غازي: تاسو مخکې و ويل چې ډېر وخت له افغانانو سره پاتې شوې ياست، له افغانانو سره ستاسو د تجربې حاصل څه دی؟

آزادي: اکثره افغانان ډېر مېړني خلک دي، خو په افسوس بايد و وايم چې پر ما مين دي خو قدر مې نشي کولی. کورته مې ور بولي خو پاللی مې نشي. زما لپاره له ډېرو شيانو تېرېږي، خو له مشرئ او زعامته په خپلو منځونو کې يو بل ته نه تېرېږي. د راتلو انتظار مې ډېرکوي، خو چې ورته ورشم نو بيا راڅخه په نورو شيانو مشغول شي. ملايان يې سبقونه ډېر وايي خو خلکو ته دين لږ ور رسوي.

او په افغانانوکې ځيني داسې خلک هم شته چې ته به وايې د دوئ خټه د غلامئ په اوبو لمده شوې ده. که انګريز ورشي هم دوئ به يې غلامان وي، که روسان ورشي هم دوئ به يې غلامان وي، که امريکايان ورشي هم دوئ به يې غلامان وي. دغه ډول خلک په افغانانوکې لږ دي خو ډېر زرنګ او چالاکه خلک دي او له هرې زمانې سره ځان برابروي. دوئ کله د (مقاومت سنګرداران) شي او کله بيا د (ډيموکراسئ قهرمانان). خو دا خلک بيا ډېر ژر له منځه ځي.

يو کار چې افغانان په مجموعي ډول ورکې تر نورو ولسونو غښتلي دي، هغه دا دی چې زما د حاصولو په لاره کې له قربانئ او سرښندنې نه ستړي کېږي. هر نسل يې تر پخواني نسله د لويو حماسو زېږونکی او د بدلونونو راوړونکی وي.

غازي : ستا په اړه مې يوه بله تاريخي پوښتنه په ذهن کې وه چې ما ويل په خپله به يې تاڅخه کووم، او هغه دا چې ځيني (سيکولر) افغانان دعوی کوي چې هغه مخکې ځل افغانستان ته (امان الله خان) راوستلې وې، او ستا د راوستلو افتخار هم د هغه په نصيب شوی وو. تا خو به هغه وخت هر څه په خپلو سترګو ليدلي وي، که دا راته ووايې دا خبره څومره حقيقت لري؟

آزادي: د ډيکولرو په خبره کله هم باور مه کوئ! هغوئ ډېر مکار او درواغجن خلک دي او دا خبره يې هم سپين درواغ دي. د امان الله خان چې خپل ذهن او فکر د انګرېز د افکارو او نظرياتو له غلامئ آزاد نه وو نو افغانستان به يې له هغوئ څه آزاداوه؟ او زه به يې څنګه افغانستان ته وروستلم؟

حقيقت دا وو چې زه ملي غازيانو او د انګريز په خلاف راپورته شويو مجاهدينو وروغوښتلم. خو کله چې ورغلم د امان الله خان راسره ورانه شوه، ځکه چې هغه غوښتل افغانستان د غرب پر لاره روان کړي، خو ما او غازيانو ورسره نه منله، نو يې له خپل خسر (محمود طرزي) سره چې په افغانستان کې د سيکولريزم پلار ګڼلی کېږي او په شام او ترکيه کې د ترکيې له (سيکولرانو) او د شام له (عربي مسيحي نشنلستانو) د سيکولريزم او نشنلزم مرض ورنقل شوی وو زما د له منځه وړلو مشوره وکړه. امان الله خان او طرزي دواړه د شاهي کورنئ له ډېرو ښځو سره پدې نيت اروپا ته ولاړل چې له اروپايانو سره پر هغوئ زما د خرڅولو خبره وکړي، هلته يې تقريبا اوه مستې مياشتې تېرې کړې، خپله (نيم لنډغره) ښځه يې چې د محمود طرزي لور وه هم د اروپا پاچايانو ته پدې مقصد وروښوده چې هغوئ په دې قانع کړي چې دی نور هغه افغان نه دی چې خپله ښځه له خلکو په پرده کې ساتي، او د افغانو ښځو د پردې د ساتلو پخاطر د اروپايانو په خلاف جنګېږي.

غازي صيب! کله چې امان الله خان د اروپا له اوه مياشتينئ مستې دورې وطن ته ستون شو، نو سمدستي يې زما او زما د پلويانو په خلاف په پغمان کې د جنګ اعلان وکړ. زما ملګري يې بنديان کړل، او زما طرف ته بلونکي عالمان يې په ډېرو بدو نومونو ياد کړل، او ان تر دې چې هغوئ يې د انګريزانو ملګري وبلل پداسې حال کې چې د انګرېز له کوره دی تازه راستون شوی وو، او د هغوئ قوانين يې له ځانه سره افغانستان ته د عملي کولو لپاره راوړي وو.

دا هسې د (سيکولرانو) لخوا د امان الله خان د اسلام دښمنئ د کرغېړن تاريخ د ښايسته کولو هڅه ده چې په سپين سترګئ يې ترسره کوي. همدا اوس تاسې نه ګورئ چې د ده د فکر او تګلارې پلويان ټول له اشغالګرو امريکايانو، انګرېزانو او نورو درغليو کفارو سره ولاړ دي. او نه ګورئ چې د امان الله خان عکسونه همدا اوس د انګرېزانو او امريکايانو په لاس د جوړې اداري پر دفترونو لګېدلي، که د مجاهدينو او غازيانو پر سنګرونو؟

غازي : ښه نو بيا ستا او دامان الله خان په جګړه کې څوک بريالي شول؟

آزادي: هغه ماتې وخوړه، ما او زما ملګرو هغه ته داسې ګوزار ورکړ چې په یوه ګوزار مو ایټالیا ته ورساوه، چې بیا یې کله هم افغانستان ونه لید، او له هماغه ګوزاره یې د (پاپ) د کلي ترڅنګ سا وخته.

غازي: په افغانستان کې ستا په نامه پورې د تړلي یو بل څه پوښتنه هم درڅخه کووم او هغه د (آزادۍ راډیو) ده. که دا راته ووایې چې دارښتیا هم ستا راډیوده او که ستا په نامه د بل چا راډیو ده؟

آزادي: دا راډیو په ما پورې هېڅ اړه نه لري. دا نه د آزادۍ راډیو ده، او نه هم خلکو ته د آزادۍ تلقین ورکوي، بلکې دا د امریکا راډیو ده چې د امریکا د کانګرس لخوا تمویلېږي او اداره کېږي. د دغې راډیو اصلي نوم د(فري یورپ ریډیو) یعنې د آزادې اروپا راډیو ده. یعنې دا د هغې آزادۍ راډیو ده چې په اروپا کې وجود لري، او د هغې په هکله خو مې مخکې درته وویل چې هغه څه ډول آزادي ده. دغه راډیو په اسلامي نړۍ کې د غربي نظریاتو او مفاهیمو د خپرولو په مقصد د عراق او عربي نړۍ لپاره د (العراق الحر)، د ایران لپاره د (رادیو فردا)، د پاکستان لپاره د (مشال راډیو) او د افغانستان او تاجکستان لپاره د (آزادۍ راډیو) په نامه خپرونې کوي، او تر ټولو غلام صفته خلک یې ورکې راټول کړي دي.

دا په حقیقت کې د(غلامۍ) راډیو ده، خو نوم یې ورباندې د (آزادۍ) راډیو ایښی دی. د دې مثال داسې دی لکه د(بدلمنې) ښځې چې نوم (طاهره) وي.

غازي: که دا راته و وياست چې بيا به افغانستان ته راځې او که نه؟

آزادي :ولې نه، افغانستان ته به ان شاء الله حتماً درځم، که د بل چا پخاطر نه وي نو د هغو فدایانو پخاطر خو به هرومرو درځم خپلې د ګل په څېر ځوانۍ یې د الله د دین د حاکمولو لپاره لوګی کړې. خو بیا هم یو دوه شرطونه لرم او هغه دا چې:

۱ــ له درغلو یرغلګرو او د هغوئ لخوا له جوړې شوې اداري سره به هېڅ ډول جوړجاړی نه کوئ، بلکې په جهاد به یې له منځه وړئ.

۲ــ په خپل وطن کې به (سیکولرو) او (نشنلستانو) ته د هېڅ ډول فعالیت اجازه نه ورکوئ، او نه به یې مشران په وطن کې پرېږدئ، ځکه چې دوئ له ماسره سخته دښمني لري، او تل زما په خلاف له کفارو سره شریکې توطیې جوړوي.

غازي :ښه، نو افغانستان ته به کله راځې؟

ازادي: په دې ورځوکې خو ما ته ډېر بلنلیکونه له بېلابېلو هېوادونو لکه له افغانستان، عراق، سوریې، فلسطین، چیچنیا، ارتیریا، صومالیا، کشمیر، ازبکستان ، د فلپاین له مندناو او نورو هېوادونو څخه رارسېدلي دي. ما هم خپل د ورتللوشرطونه دې ټولو ته بیان کړي، و به ګورو چې دکوم هېواد خلک زما شرائط تر نورو مخکې پرځای کوي. هر چا چې زما شرائط مخکې پوره کړل نو لومړی به هم هغوئ ته ورځم، او بیا ورپسې نورو ته. خو مخکې له مخکې له هېچاسره وعده نه کووم، ځکه چې نور د خلکو په تشو وعدو نه غولېږم. ترڅو یې چې زما شرطونه په عملي ډول پوره کړي نه وي، او زما دښمنان یې له منځه وړي نه وي د هېچا وطن ته نه ورځم.

غازي: که د وروستۍ پوښتنې په ځواب کې دا راته و وایاست چې نور خبریالان او ژورنالیستان چې غواړي له تاسو سره تماس ونیسي، نو څنګه کولای شي له تاسو سره رابطه وکړي، ځکه له ماسره ډېر نور مسلمان ژورنالیستان هم ول چې له تاسو سره یې لیدل غوښتل ، خو ځیني په ښارونو او ځیني نور یې راڅخه د لارې په کړلیچونو کې پاتې شول؟

آزادي :نن سبا خو زه د اسلامي نړۍ په غرونو او ځنګلونوکې اوسم ، خو کله کله خپلو پلویانو ته په ښارونو کې هم سر ورښکاره کووم. له ما سره تر ټولو اسانه د تماس لار له مجاهدینو سره رابطه نیول دي، هغوئ ما په اسانه ورپیداکولی شي. خو یوه خبره په پام کې ونیسه او هغه دا چې زه یوازې له رښتینیو (آزادو) خبریالانو سره غږېږم، او د هغو خبریالانو پوښتنو ته هېڅ ځواب نه وایم چې د پردیو لخوا په کار ګومارل شوي وي،ځکه چې د هغوئ اکثره یې جاسوسان وي، او زما د دښمنانو لپاره کار کوي.

غازي: ستاسو له څرګندونو ډېره ډېره مننه، هیله ده چې یوځل بیا زموږ هېواد ته راشې، او موږ دې په ښادیو ښاد کړې.

آزادي: غازی صیب ستاسې له راتګ څخه هم ډېره مننه چې په خطرناکو حالاتوکې مو ځان ماته را ورساوه، او زما پیغام مو د نړۍ مسلمانانو ته ورساوه.



.... دتاریخ ترټولو اوږده ناکامه جګړه!

اسلم امید

د مشهورې امریکا یي ورځپاڼې (لوس انجلس ټایمز)په یوه تازه ګڼه کې د(اندریوباسیویچ) په نوم یو امریکایي لیکوال په افغانستان کې دامریکایانو لخوا په روانه جګړه دنیوکو ترڅ کې لیکلي:روانه جګړه چې اوس شپاړسم کال ته غځیدلې دامریکا راتلونکي ولسمشر ته به په داسې حال کې په میراث پاتې کیدونکې ده، چې دولسمشرۍ دواړه کاندیدان یې په باب له ویلو ډډه کوي او ترمهاله یې په اړه خپلې خولې ګنډلي!

دواړه دهغې جګړې په اړه له څه ویلو نه ډډه کوي، چې هغه په روانه پېړۍ کې دامریکا لپاره ترټولو اوږده، ناکامه اوبې هدفه جګړه ګرځیدلې!

دلیکوال په اند: دامریکا هر وګړی تمه لري چې دامریکا دولسمشرۍ کاندیدان باید دروانې جګړې پای ته رسولو په باب هم خپل دریځونه او کړنلارې روښانه کړي،ځوجوته شي چې په هغوی دواړو کې کوم یو رښتیادا جګړه پای ته رسوي اوکوم یوې نوره هم غځول غواړي؟

نوموړی زیاتوي: تردې مهاله نه ډونلډټرمپ په دې اړه دڅه وینا کولو هوډ ښودلی او نه هیلاري کلنټن ددې لویې او اوږدمهالې جګړې دمنطقي انجام په باب دامریکا ولس ته کوم ډاډ ورکړ دی.

چې په سبب یې دامریکا ولس د زیاتې ناهیلۍ سره مخ دی، امریکایان نه له ډونلډ ټرمپ څخه توقع لري چې هغه به په افغانستان کې دامریکا دلویو ناکامیو توجیه کولو په اړه قانع کوونکي دلایل وړاندې کړي او نه یې له هیلارۍ کلنټن څخه...

نوموړی لیکوال هغو خپلواکو څېړونکوته ورته نظر لري چې په اندیې: امریکا دټولې نړۍ څخه دعسکرو راوستلو سربیره هم ونشوای کولای چې په افغانستان کې جګړه وګټي او جنګیدونکي مجاهدین وځپي! دهغوی په نظر: امریکا په دې موخه کې له بشپړې ماتې سره مخ شوې او نه یې په راتلونکي کې دبري چانس لیدل کېږي دنوموړي په وینا:دا وړاندوینه هیڅوک نشي کولی چې په افغانستان کې به امریکا خپل شکست په بري باندې بدل کړي کنه؟

که څو هم سپینه ماڼۍ د جګړې ګټلو لافې شافې وکړې اویا جګړې ته پام نورهم ډېر کړې ، دامریکا د خلکو دمالیوپیسونه نورې هم پرې

ولګوي خو نتيجه يې همدا به وي چې نن يې مونږ ګورو...

دافغانستان جنګ امريکا نه له امنيتي ګواښونو خوندي کړه او نهورسره په افغانستان کې رښتينی ديمکرات نظام قوي شو، امريکا يې حکومت له يوه ټريليون زياتې پيسې مصرف کړې خو پخپلو موخوته درسيدو څرک يې نه ليدل کېږي

افغانستان تراوسه پخپلو پښو ولاړ هېواد نشو اوس هم دبهرنيو مرستو په تکيا ولاړ او دبهرنيانو لخوا يې ساتنه اودفاع کېږي! دا ددي ښکارندويه دی چې امريکا او ايتلافيان افغانستان کې دخپلو اهدافو له ترلاسه کولوڅخه په ليري واټن کې دي او په راتلونکي کې اميد نشته چې دتوپان څپو په مخ کړې امريکا يې بيړۍ به دهلاکت له څپونه دبري ساحل ته ووزي! ځکه امريکا په افغانستان کې دپوځي او سياسي پلوه د دغوڅې ماتي سره مخ ده په افغانستان کې نن هم هغسي ګډوډې خوره ده کومه چې دامريکا او نړيوالې ټولنې له يرغل دمخه وه.....

د امريکا يې ليکوال دا خبرې واقعبينانه او حقيقت دي افغانستان کې روان جنګي حالات ددې ښکارندويه دي چې امريکا په تيرو شپاړس کلو کې ونشواى کړاى افغانان دځان تابع کړي .

نن هم دامريکا په مقابل کې مجاهدين منظم شتون لري اوله قوي دريځ نه برخمن دي، لګيادي پرلپسې د والسواليو او سيمو په نيولو او ازادولو سره په امريکا يانو او دهغوی په لاسپوڅو باندې دژوند کړۍ تنګوي، دا تنها زمونږ دعوه نده بلکې دياد ليکوال پشان ګڼ امريکا يې شناندي دا خبرې ګردانوي چې افغانستان کې امريکا دملياردونو ډالرو مصرفولو سربيره بيا هم دجګړې ګټلو په موقف کې نده، بلکې دماتې اوشکست حالت ته نيږدې ده.

ورلډ پوسټ په نوم يوه امريکايي جريده کاږي په افغانستان کې مونږ دهغسي- سرخوږي سره مخ يو ، کوم سره چې په ويت نام کې مخ وو امريکايي واکمن لکه دقماربازانو چې پاتې پيسې هم په قمارکې وبايلي د مسلسل شکست سره مخ دي او لاسته راوړني له لاسه ورکوي خو بيا هم دبري په نيت افغانستان ته نوي ځواکونه او پيسې ليږي، ددي چې ددې پايلې به هم دزيانونو او تلفاتو له ډېريدو پرته نور څه نه وي.

پای

سید شریف

په طالب پوهنه کې د دښمن ستونزه

د طالبانو دمشر ملا اختر محمد منصور صاحب تر شهادت وروسته امریکایې ولسمشر ـ اوباما زیاته کړه چې د منصور صاحب په ښبه کیدو دسولي لپاره لاره هواره کړه او په وینا یې چې همدا چاره به دفشار دالې په توګه طالبان سولي ته حاضر کړي.

دامریکا خارجه وزیرکیري وویل طالبان باید دخپل مشر د په ښبه کیدو څخه عبرت واخلي،کنه نور مشران به یې هم د ورته برخلیک سره مخ شي.

دکابل حکومت مشرانو (غني او عبدالله) طالبانو ته اخطار ورکړ چې وسله پر مځکه کښیږدي، د سولي له پروسې سره ځای شي،کنه نو د ډرون بریدونو ښکار به شي.

طالبان روانه جګړه دخدای جل جلاله په لار کې مقدس جنګ (جهاد) ګڼي،په دې لاره کې کړاونه، ستونزې، زخمونه،اسارتونه یو لوی فضیلت او ثواب او په همدې لاره کې مرګ شهادت ګڼي، شهادت هغه اوچت مقام دی چې انحضرت صلی الله علیه وسلم یې دترلاسه کولو دعاء او تمنا کړې ده،د قران کریم په مختلفو سورتونو کې د خدای جل جلاله په لار کې مرګ لویه نیکمرغي بلل شوې،ان تردې چې لوی خدای جل جلاله په خپل کلام کې انسانانو ته فرمایې چې :« تاسي هغو کسانو ته مړه مه وایاست چې دخدای جل جلاله په لار کې وژل شوي وي،دوی مړه نه ،بلکې ژوندي دي،خو صرف تاسي پرې نه پوهیږئ،بل ځای الله تعالی فرمایې چې تاسي پر هغو کسانو دمړو ګومان مه کوئ چې دخدای تعالی په لار کې یې سرونه ښندلي وي،دوی ژوندي دي اووده عزوجل له لوري رزق ورکول کیږي».

د طالبانو تحریک دمشرتابه د شهادت او اسارت لویه مخینه لري،خو تېر ته په پام کله هم د طالب مشرانو شهادت دطالبانو خوځښت کمزوری کړی نه دی،په ځینو مواردو کې دمشرتابه شهادت او وفات نور هم طالبان مضبوط کړي دي.

د طالب د دښمن لویه ناکامي همدا ده چې طالب یې نه دی پیژندلی،مثلا امریکا او دکابل حکومت طالبانو ته په واک کې دونډې ورکولو مکرري نارې وهي،اما واقعیت دادی چې طالب دچوکۍ لپاره مبارزه نه کوي،که د طالب دمبارزې هدف د منصب ترلاسه

کول اوساتل وای،نو ولي به يې دامريکا غوښتنو ته منفي ځواب ويلای، له امريکا سره به يې پرځينو موضوعاتو توافق کړی وای،نور به يې هماغه امارت وای،نه به تور او جايزه ليستونه وای،نه به د ترهگرۍ تورونه وای،نه به گوانتانامو،بگرام او کندهار کي زندانونه ترې ډکيدلای او نه به هم دموجوده ستونزو او گواښونو سره مخا مخ کيدلای،خو اصل خبره داده لکه مخکې چې هم ذکر شوه، دطالب مبارزه دماديانو لپاره نه ده،طالب خپله مبارزه جهاد گڼي،دې لاره کې ستړياوي، مشکلات، زندان، زخمونه او له ژوند سره خدای پاماني کول دالله تعالی د رضاء ستر سبب بولي او جالبه لا داچې پرې وياړي او يو تربله مبارکی سره ورکوي.

ايا داله عقله ليري نه ده؟، چې څوک ديو شي سره دومره مينه ولري چې د ترلاسه کولو لپاره يې پنځه وخته لاسونه لپه کوي،همدا يې لوی ارمان وي،پرې وياړي،ذکر وفکر يې داوي چې فلان ډير نيکمرغه ؤ چې دشهادت جام يې پر سر واړاوه،خو يوبل څوک يې بيا په همدغه مينه،ارمان او ارزو ډاروي او گواښ ورته کوي چې که له خپله هوډه وانه وړې نو همدغه ارمان(شهادت) به دي در پوره کړم.

د طالب دښمن دخپل حماقت او جهالت له امله د طالبانو نظام ړنگ کړ او په خپل پوځي شتون سره نور

هم خپل حماقت ته دوام ورکوي،تېره يوه نيمه لسيزه طالب بندي شو،شکنجه شو،زخمي شو،معلول شو، شهيد شو،دکور وکلي پريښودلو ته مجبور شو،شتمنی يې چور شوې،باغونه او فصلونه يې له خاورو سره برابر شول،پاسفورس،کيميايي او بيلوژيکي وسلې پرې استعمال شوې،خو له خپلي مبارزې بيزاره نشو،پور ته ذکر شوو واقعيتونو ته په پام سره چې نور هم د طالب ډارولو کمپاين ته د حماقت نوم ور نه کړو څنگه به يې تعبيرو؟.

په طالب پوهنه کې تمبل اوناکام شاگرد که پر خپل کار يعني طالب سره مقابله باندي له سره غور ونه کړي او پر تيرو کړنو پښېمان نشي، له يو عالم رسوايي سره به مخ شي او ستونزي به يې نوري هم پسي زياتي شي.

د کونړ ولایت له جهادي مسؤل

مولوي محمد اسمعیل سره مرکه

مرکه کوونکی: حبیب مجاهد

کونړ ولایت دافغانستان په ختیځ کې موقعیت لري ، چې ختیځ ته یې دپاکستان سرحدي سیمه ، جنوب ته یې ننگرهار ولایت ، شمال ته یې نورستان ولایت او لویدیځ ته یې دنورستان او لغمان ولایت ځینې برخې پرتې دي.

دکونړ ولایت مساحت ۴۹۴۲ مربع کیلومتره او نفوس یې دوروستیو احصایو له مخې ۵ لکه تنه ښودل کیږي ، دکونړ ولایت مرکز اسعداباد ښار دی ، چې دوتلي مسلمان مفکر علامه سیدجمال الدین افغان دزیږیدو سیمه ده ، دکونړ ولایت داداري واحدونو نومونه په لاندې ډول دي .

مرکز اسعداباد ، مانوگي ،مروره ، وټه پور ، نرنگ ، سرکاني ، دانگام ، شیگل ، چپه دره ، نورگل ، څوکی ، خاص کونړ ، ناړی ، غازي اباد ، اسمار .

کونړ ولایت چې یو غرنی ولایت دی ډیر غرونه یې په ځنگلونو پوښل شوي دي ، دکونړ مست سیند ، ځنگلونو او شنو درو دې ولایت ته ځانگړې ښکلا ورکړې ده، دغه راز همدا رنگین طبیعت ددې ولایت په ستراتیژیک اهمیت کې هم مهم عامل بلل کیږي .

د غزني ولایت د اندړو ولسوالی اوسیدونکی مولوي محمد اسمعیل صاحب چې تردې وړاندې یې د غزني او زابل ولایاتو دنظامي جهادي مسؤل یا والي په حیث دندې اجراء کړې همدا اوس د اسلامي امارت لخوا د کونړ په ولایت کې د جهادي چارو مسؤل/ والي دی، له نوموړي سره مو د کونړ ولایت د جهادي وضعیت په اړه مرکه کړې چې ستاسو توجه ورته راگرځوو.

پوښتنه

محترم مولوي صاحب له هر څه وړاندې تاسو ته هرکلی وایو، که په پیل کې د کونړ ولایت په جهادي وضعیت باندې عمومي رڼا واچوئ مهرباني به مو وي.

ځواب

نحمد و نصلی علی رسوله الکریم اما بعد: له هر څه مخکې تاسو او محترمو لوستوالو ته سلام او نیکې هیلې وړاندې کوم. ستاسو د پوښتنې په ځواب کې باید ووایم چې کونړ د افغانستان د هغو ولایاتو له جملې څخه دی چې د روسانو په خلاف د جهاد د ځلانده تاریخ په شان یې اوس د امریکایي یرغل په خلاف جهاد کې هم ونډه او کارنامې خورا ښکاره او د افتخار

وړ دي. دا ولایت چې خورا مهم ستراتیژیک جوړښت او موقعیت لري لله الحمد د جهاد حالت یې ډیر د امید او خوښۍ وړ دی.

کونړ ولایت چې ۱۴ ولسوالۍ لري همدا اوس د اسلامي امارت مجاهدین په ټولو ولسوالیو کې فعال حضور او منظم ملکي او نظامي تشکیلات لري. د کونړ یوازې یوه ولسوالي چې هغه خاص کونړ دی حکومتي عسکر په کې د ولسوالۍ له ودانۍ بهر په اطرافي سیمو هم تر یوه حده واکمني لري د نورو ټولو ولسوالیو یوازې مراکز له دښمن سره دي. مجاهدین په ټولو کلیو، اطرافو، پراخو درو او ولسي سیمو باندې بشپړ واک لري او د اسلامي نظام په چوکاټ کې ورباندې واکمني چلوي.

پوښتنه

که څه هم د امریکا ولسمشر بارک اوباما د ۲۰۱۴ میلادي کال په پای کې په افغانستان کې د جګړې د پای اعلان وکړ، مګر عملا معلومه شوه چې دا یوه تیرایستونکي خبره وه او امریکایان عملا د افغانستان په اشغال کې دخیل پاته شول، که دا راته ووایاست چې په کونړ ولایت کې آیا امریکایان یا نور خارجي عسکر عملا شتون لري او که نه ؟ او یا دا چې په جګړو کې شرکت کوي او کنه ؟

ځواب

په کونړ ولایت کې پخوا امریکایانو خورا پراخ حضور درلود او په ډیرو سیمو کې یې پاخه بیسونه جوړ کړي و، خو وروسته د مجاهدینو ځپونکو بریدونو اشغالګر له دې ولایت څخه تیښتې ته اړ کړل، اوس چې زموږ څومره معلومات دي امریکایان په دایمي شکل په دې ولایت کې نه اوسي، اما د ځانګړو عملیاتو لپاره موقتا راځي، لکه څو میاشتې وړاندې کله چې مجاهدینو د برګمټال، کامدیش او ناړۍ لاره د اسمار په ساحه کې بنده کړه او تر دوو میاشتو یې حکومتي عسکر تر سختې کلابندۍ لاندې ساتلي و، د کابل رژیم ددې لارې د خلاصون لپاره لوی عملیات پلان کړل چې ورسره امریکایي اشغالګر هم یو ځل بیا کونړ ته راغلل او موقتا د سرکاڼو په مرکزي بیس کې میشت شول.

په دې سربیره امریکایانو د بې پیلوټه الوتکو په توسط لا هم په کونړ کې جګړې ته دوام ورکوي، دوی هلته پرلپسې ډرون بریدونه کوي، خو دا چې مجاهدین له احتیاطي تدابیرو کار اخلي ددښمن دغه بریدونه کومه څرګنده نتیجه نلري اما د تأسف خبره داده چې په کونړ کې د امریکایي ډرون بریدونو له امله ولسي خلکو ته ډیر تلفات رسیږي، اشغالګر په مکرر ډول د ولسي خلکو په کورونو، نقلیه وسایطو او تجمعاتو باندې ډرون بریدونه کوي چې ځیني پیښې یې شاید تاسو له رسنیو هم اوریدلي وي اما ددښمن دغسې ډیر مظالم پټ پاته کیږي او غربي رسنۍ یې په اړه هیڅ هم نه نشروي.

پوښتنه

څو کاله وړاندې چې امریکایانو په کونړ اود افغانستان په نورو سیمو کې په مخامخ جګړو کې سخت تلفات ولیدل نو د امریکایي پوځ مشرتابه د نوې ستراتیژۍ سره سم اعلان وکړ چې خپل ځواکونه به له اطرافي سیمو راشاته کړي، او مرکزي نقاط به وساتي او په اطرافي سیمو کې به د عراق غوندې محلي ملیشې یا اربکیان جوړ کړي تر څو د مجاهدینو د سلطې مخه

ونيسي. که دا وواياست چې آيا په کونړ کې ددښمن دغه ستراتيژي کامیابه شوې او د محلي مليشو په توسط يې د مجاهدينو د پرمختګ مخه نيولې که څنګه؟

ځواب

امریکایانو او د هغوی مزدور رژيم رښتيا هم په کونړ کې د مليشو يا اربکيانو جوړولو لپاره ډير تلاش وکړ، د دوی هڅه دا وه چې د دغو ټوپکيانو په توسط به اطرافي سيمې تر خپل کنټرول لاندې وساتي، اما لله الحمد د اولس د ويښتيا او بصيرت له امله دوی ددې پروګرام په بشپړ تعميل ونه توانيدل.

دوی په ځينو ولسواليو کې اربکيان جوړ کړل مگر اربکيان يې د پوليسو او اردو په شان د ولسواليو له مراکزو سره نږدې پاته شول او اولسي سيمې يې اشغال نکړای شوې،يوازې د دانګام په ولسوالۍ کې اربکيانو په څو کليو واک درلود او هلته يې پوستې جوړې کړې وې، چې تير کال مجاهدينو وربانـدې بريـالي عمليات ترسره کړل چې په نتيجه کې يې دغـه کـلي او پوستې ترې مکملې ونيول شـوې، د دانګـام داربکيـانو مشر قومندان خانجان هم په سږ کال کې له منځه لاړ دغه راز د کونړ په سطحه د اربکيانو عمومي قومندان چې په سره قومندان سره مشهور و د عمري عملياتو په لړ کې سږ کال د روژې په وروستيو کې د سرکانو په ولسوالۍ کې په يوه چاودنه کې ووژل شو.په ټوله کې ويلی شو چې اربکيان او د محلي حکومتي مليشې په کونړ کې د مجاهدينو په وړاندې کوم جدي خطر نه دی.

پوښتنه

په تير کال کې اسلامي امارت له څو مهمو ازمويښتي پړاوونو تير شو چې لومړی د اسلامي امارت د مؤسس د وفات اعلان او د اميرالمؤمنين په حيث د شهيد ملا اختر محمدمنصور ټاکل کېدل و او ورپسې دتير شعبان په مياشت کې د ملا اختر محمد منصور شهادت او د اميرالمؤمنين په حيث شيخ هبت الله صاحب ټاکل کيدل و.

په کونړ کې دغه بهير څرنګه تير شو آيا مجاهدين متحد او امارت ته وفادار پاته شول او که د تفرق ښکار شول؟

ځواب

په کونړ کې هم د نور افغانستان په شان لله الحمد دغه دواړه مرحلې په خير سره تيرې شولې، مجاهدين ټول متحد او متفق پاته شول هيڅ کوم مخالفت ونه ليدل شو، د کونړ ولايت مجاهدين او په خاص ډول مشران يې الله تعالی له ستر داريت او بصيرت څخه برخمن کړي دي، دوی پوهيږي چې اسلامي امت او په اوس وخت کې جهادي ډلو ته ټول مشکلات له دې نه ورپيښ دي چې دوی د ډيرو وړو خبرو او اختلاف الرأی له امله په ډلو ويشل شوي دي، تفرق او ډلبازۍ ته يې مخه کړې، چې په دې سره هر ځای د مجاهدينو قوت اوبه شوی دی، ځواک يې له منځه تللی او دښمن ته ناوسه شوي دي.

نو اوس لله الحمد مجاهدين ټول په دې پوهيږي چې د کفري يرغل په مقابل کې زموږ د اتحاد او پايښت راز لومړی د الله تعالی نصرت او دوهم يووالی او اتحاد دی، په تير شعبان کې چې شيخ هبت الله اخندزاده صاحبد اميرالمؤمنين په حيث وټاکل شو، ټاکل شوې داسې وه چې د هرولايت مسؤل به د ولايت په نمايندګۍ له شيخ صاحب سره بيعت کوي، ځايي مجاهدينوپه ډير

اخلاص او پرته له هیڅ اختلاف له ماسره نیابتا بیعت او ما له شیخ صاحب سره ددوی او ځان په استازیتوب بیعت وکړ. نو مطلب دا چې په کونړ کې که څه هم د مسلکونو په لحاظ د مختلفو مسلکونو سره تړلي مجاهدين اوسي، مګر ددوی ټول هدف او نصب العين يو دی، چې هغه د کفر په خلاف جهاد دی او دوی تر خپل منځ د وروڼو په شان دغه مبارزه پر مخ بيايي.

پوښتنه

تاسو په نږدې ورځو کې د کونړ ولايت له بيلابيلو سيمو څخه ليدنه وکړه، مجاهدين او اولسي- خلک مو وليدل که دا راته ووایاست چې په کونړ کې عام اولس له اسلامي امارت او جهاد سره څومره خواخوږي لري؟

ځواب

په کونړ کې چې په بيلابيلو ولسواليو وګرځيدم، لرې پرتو سيمو، درو او کليو ته لاړم دا راته معلومه شوه چې لله الحمد ددې سيمې خلک په ډير ټينګ عزم د اسلامي امارت او مجاهدين سره ولاړ دي، يوعمده توپير دادی چې په نورو سيمو کې چې ما ليدلي عام اولس يا خلک له مجاهدينو سره خواخوږي لري او همکاري هم ورسره کوي، مګر همکاري يې تر ډيره د خوراک، اکمالاتو، پناه ورکولو او تر ډيره حده مالي او لوژيستيکي همکاري وي.

مګر په کونړ کې چې ما وليدل اکثره عام خلک عملي مجاهدين ول، دوی هر چا په کور کې د جهاد لپاره اماده وسله درلوده، کله به چې د عملياتو غږ شو، يا به ددښمن د تعرض اوازه راغله، نو د عام اولس ځوانان به ټول له خپلو وسلو سره راوتل او جهادي وظيفه يې ترسره کوله.موږ يو ځل په ناړۍ ولسوالۍ د عملياتو لپاره پلان درلود چې په ډير لږ وخت کې ۸۰۰ مسلح مجاهدين عملياتو ته تيار شول، چې اکثره يې عام اولسي ځوانان وو. نو بناء ويلی شو چې د کونړ ولس يو مجاهد اولس دی چې د اسلامي امارت تر بيرغ لاندې له هيڅ راز جهادي هڅې او قربانۍ څخه ځان نه دريغوي.

پوښتنه

د امريکا ولسمشر بارک اوباما څو مياشتې وړاندې اعلان کړه چې په افغانستان کې يې خپلو پوځيانو ته يو ځل بيا د پوځي عملياتو صلاحيت ورکړی دغه راز يې تازه په تازه اعلان کړی چې ۸۰۰ عسکر به يو ځل بيا افغانستان ته راولي چې په چينوک او بلک هاواک چورلکو به سمبال وي دوی به د طالبانو په خلاف جګړه کې برخه اخلي، ددې اعلان په اړه ستاسو غبرګون د يوه مجاهد په حيث څه دی؟

ځواب

لکه څنګه چې د اسلامي امارت لخوا په دې په اړه په رسمي بيان کې راغلي دغه اعلانونه او دقدرت نمايشات د شکست خوړلي دښمن تبليغاتي نيرنګونو دي، دښمن چې د جګړې په ډګرکې يې ماته خوړلې کوښښ کوي په دغسې اعلاناتو مجاهدين وويروي مګر دوی دې خبر وي چې مجاهدينو په تيرو پنځلس کلونو کې ثابته کړه چې د امريکا يا کوم بل طاغوت له زور او وسلو څخه نه ويريږي.

زما په فکر امريکايانو چې دوه کاله وړاندې په افغانستان کې د خپلو پوځي عملياتو پای اعلان کړ، هغه مهال هم دوی عملا له جګړې لاس نه و اخيستی، بلکې يوازې يې د جګړې شکل بدل کړی و، دوی ته په مخامخ

جګړو کې ډېر تلفات اوښتل نو يي د ځمکنيـو عمليـاتو ډېر اختيار داخلي ګوډاګيانو ته وسپاره او خپلـه يـې د ځانګړو عملياتو، چاپو او ډرون بريدونو غونډې عمليات پيل کړل. اوس چې امريکايان يو ځـل بيـا غـواړي پـه مخامخ جګړو کې برخه واخلي د مجاهدينو پـه روحيـه يي ځکه ښه اغيز کړی دی، چې امريکايي پوځ د فسـاد اصلي جرړه ده او په دې ډول مجاهدين امکان پيدا کوي چې د فساد په اصلي جرړه ګوزار وکړي او تلفات ورتـه ورسوي.

اوباما چې وايي ۸۰۰ پوځيان يي راليږلي، بايد پـه دې پوه شي چې يو وخت په افغانستان کې د امريکا او نورو غربي طاغوتيانو ۱۲۹ زره مجهز پوځونه ميشـت او په جګړو بوخت ول، هغوی چې په دې وطن کې بريا ونه مونده نو دغه ۸۰۰ پوځيان به کومـه بريـا ترلاسـه کړي.

د يوه مجاهد په صفت بايد ووايم چې په کـونړ او درست افغانستان کې مجاهدين د کفارو هر نوع مقابلې ته بشپړ تياری لري، مجاهدين ځکـه لـه جهـاده ځـه ستړي نه دي چې جهاد يو تر ټولو لوړ عبادت بولي او د مرګ ترساعته ورباندې ځان مکلف بولي نو ځکه ورتـه پوره امادګي لري.

پوښتنه

په پای کې که څه پيغام لرئ لطـف وکـړئ راسره شريک يي کړئ!

ځواب

پيغام مې مجاهدينو ته راجع دی او هغه دا چـې د اسلامي تاريخ له عبرتناکو واقعو او په دې نږدې کلونو کې د جهادي جرياناتو له سرګذشت څخه عبرت واخلي او د خپلې لارې په ټاکلو کې ورنه استفاده وکړي.

موږ وليدل چې ډېر لوی لوی خوځښتونه چې کلـه د معمولي خبرو په سر د ذوقي اختلافاتو ښکار شـول، الله تعالی له خپل نصرت څخه هم محروم کړل،او بيا لـه سخت بد حالت سره مخامخ او په لويو فتنو کـې واقـع شول. دې ته په پام سره بايد موږ د الله تعالی دې پيغام ته چې وايي: و لا تنازعوا فتفشلوا . . . په ډېر دقت سره توجه وکړو او عمل ورباندې وکړو. که موږ غواړو چـې مبارزه مو بريـالۍ شي، کـه غـواړو چـې د دې اوږده انقـلاب د شـهيدانو، مجروحينـو، معلولينو،بنـديانو او مهاجرينو ارمانونه پوره کـړو بايـد چـې خپـل اتحـاد وساتو، او اسلامي امارت چې اوس په ټوله نړۍ کـې د جهادي حرکاتو په منځ کـې د اسـتقامت،ثبات، درايـت، اتحاد او جهادي بصيرت سمبول بلل کيږي دا امارت بايد د الله تعالی يو لوی نعمت وبولو، قـدر او احـترام يـې وکړو، اطاعت يي وکړو . او که خدای مکړه ددې نعمـت ناشکري مو وکړه يا مو په ټيټه ورته وکتل ضرور بـه د الله تعالی له سخت عذاب او امتحان سره مخامخ کيږو.

نو مجاهدينو ته مې همدا پيغام دی چې خپل اتحاد ټينګ وساتئ،د مشرانو اطاعت کوئ او لـه مخالفـت او انحراف څخه ډډه وکړئ!

هغه چې د جاهلیت غرور یې مات کړ

لیکوال: باهر حقپال

د جاهلیت په پېر کې، د ژبې فصاحت او خوږژبی له امله، داسې شخص چې د شاعرۍ ذوق او مینه ونه لري، یا خو بیخي نه و، او یاهم ډېر کم وو، د دوی نارینه او ښځینه، زوړ او ووړ یې هرو-مرو څه ناڅه د شاعرۍ د ښاپیریو په دام کې ښکیل وو، ته وا: له پیدایښت سره یې شاعري او خوږژبي تړلي وه، د دوی شاعري د عصري شاعري په پرتله ډېره ناشنا وه، عصري شاعري ته ورته اکتسابي او جبري نه وه بلکې عربي شاعري عموماً في البدیهه وه، ښه تر ښه شعر ویلو/لیکلو کې یې آند واند، فکر، غور او د مضمون پلټنې ته اړتیا نه پیښې ده، خپل فصاحت او قادرالکلامۍ دومره غرور او کبر وربښلي وو، چې له عربي نړۍ پرته یې د نورې نړۍ ژبې عجم) گونگ(بللې.

پر دې سربېره فصاحت او ژبورې دومره په سر اخیستي و، چې مخکښانو عربو به خپل نوپیدا ماشومان د دایه او روزنې له پاره صحرایې تی ورکونکو مېرمنو ته په اجرت ورکول، تر څو د صحرا اب وهوا یې ماشوم څواکمن او غښتلی لوی کړي، او ژبه یې فصیحه او روانه وګرځي؛ ځکه چې د صحریانو ژبه د ښاریانو په پرتله روانه، سوچه او خوږه وي.

ریښتیا هم که ځیني عربي اصطلاح و پلټل شي، او عربي لغت ته ځیر شو ډېر توري به داسې په لاس راشي چې نورې ژبې یې په اړه گونګې پاتې سوي، ډېر داسې توري او اصطلاح به زموږ مخې ته راشي چې نورو ژبو کې یې معادل توري نه مومو.

د بیلګې په ډول یوازې هغه اصطلاح چې د جاهلیت پر مهال به عربو د ښکار متعلق کارولې، معادل یې نشو ښودلی، مثلا:

کوم ښکار به چې له ښي اړخه راغی هغه ته به یې "سانح" توری کاره و.

کوم ښکار به چې چپ اړخ څخه راغی هغه ته به یې "بارح" توری کاره و.

کوم ښکار به چې مخامخ راغی هغه ته به یې "قعید" کاره و.

کوم ځای کې به چې ښکاري کمین نیولی وو هغه ته به یې "قره" او ښکاري به چې له ښکار کولو ناتوانه راستون شو هغه ته به یې "اخفاق" توری کاره و.

هوکې! هغه چې نه یوازې د جاهلیت عربي غرور یې مات کړ، بلکې د نړۍ ټول خوږژبي ژبور یې مات او غرور یې ورته له خاورو سره خاورې کړ، ستر کتاب د اسلام د ستر پیغمبر ستره او تل ترتله معجزه "قران شریف" یادوم.

هغه څوک یې مات کړل، څوک چې له فصاحت او خوږژبی سره_سره له ټولو زیات دې ته لیواله وو، چې څه رنګه د قران خپره شوې رڼا تېته او خپله ناتوانی

پته کړې، سره له دومره بې دریغه فصاحته هم که د دوی تر توان پوره وای، نو د سترګو د رپ تر کچې به هم نه وای تم شوي، د دې پر ځای چې سالمه معارضه او محکم دلیل وړاندې کړي، خپله ناتواني، پر خپل عناد او خندوتکیو ماشومانه خبرو پټوي،

کله وایې: سحر دی. کله وایې شعر دی. کله وایې پخواني نقلونه دي. که سحر وای! نو سحر خو لنډ مهاله کارنده وي، او بیا د وخت په تېردو خامخا د فنانیت تل ته غورځي/ له منځه ځي او قران دا دی له څه باندې څوارلس پېړۍ، داسي ځلیږي چې ځلا یې ورځ تر بلې لا زیاتیږي او تورتمونه رڼوي.

که شعر او یا پخواني مروج نقلونه وایې! نو د شعر او درواغجنو ناولونو کې خو عربو له هرچا وړې بیا ولې له تحدیدونو او ننګونو سره یې و نشو کړای، چې قران ته ورته خبرې جوړې کړې.

تحدیدونه/ننګونې...

قُلْ فَأْتُوا بِكِتَٰبٍ مِّنْ عِندِ اللَّهِ هُوَ أَهْدَىٰ مِنْهُمَآ أَتَّبِعْهُ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ.

]سورت القصص: ۴۹[

] اې پیغمبره (ص)!] دوی ته ووایه: "نو تاسي د الله له لوري داسي کوم کتاب راوړئ چې له دغو دواړو څخه زیات هدایت ښونکی وي، که تاسي رښتیني یاست، زه به د هماغه پیروي وکړم".

بیا یې ننګونه ورته اسانه کړه، چې ټول قران نشئ راوړلای نو لس سورتونه قران ته ورته خو جوړ کړئ، الله جل جلاله وایې:

أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَىٰهُ ۖ قُلْ فَأْتُوا بِعَشْرِ سُوَرٍ مِّثْلِهِۦ مُفْتَرَيَٰتٍ وَادْعُوا مَنِ اسْتَطَعْتُم مِّن دُونِ اللَّهِ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ.

]سورت هود: ۱۳[

ایا دوی وایي چې پیغمبر دا کتاب له ځانه په درواغو جوړ کړی دی؟- ورته ووایه: "ښه که داسي ده، نو دده په څېر لس سورتونه په درواغو جوړ کړي راوړئ او له الله څخه پرته نور چې هر څوك (ستاسي معبودان) دي، هغوی که د مرستي لپاره رابللی شئ نو راویې بلئ که تاسي (د دوی په معبود ګڼلو کښې) رښتیني یاست.

بیا یې نور هم سخت وننګول، چې له هرچا مرسته غوښتی شئ و یې غواړئ او قران ته ورته یو سورت جوړ کړئ.

أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَىٰهُ ۖ قُلْ فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِّثْلِهِۦ وَادْعُوا مَنِ اسْتَطَعْتُم مِّن دُونِ اللَّهِ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ.

]سُورَةُ يُونس : ۳۸[

بلکي، ایا دوی وایي چې پیغمبر دا په خپله د ځانه جوړ کړیدی؟ - ورته ووایه: "که تاسي په خپل دغه تور لګولو کښې رښتیني یاست، نو دده په څېر یو سورت تصنیف کړی راوړئ؛ او له یوه خدایه پرته چې نور هر څوك راغوښتلای شئ، د مرستي لپاره یې راوغواړئ"!

وَإِن كُنتُمْ فِى رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلَىٰ عَبْدِنَا فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِّن مِّثْلِهِۦ وَادْعُوا شُهَدَآءَكُم مِّن دُونِ اللَّهِ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ

]سُورَةُ البَقَرَة : ۲۳[

او که تاسي د هغه کتاب (قرآن) په هکله شکمن یاست چې موږ خپل بنده ته نازل کړی دی، نو د هغه غوندي یوازې یو سورت راوړئ، او له الله پرته خپل (ټول) مرستیالان هم راوبلئ، که تاسي رښتیني یاست.

کله چې سره له دومره قوته پر کلام جوړونې برلاسي نه شو او ناتوانه شول، الله جل جلاله یې ناتوانې او د قران اعجاز ورته په ډاګه کوي..

قُل لَّئِنِ اجْتَمَعَتِ الْإِنسُ وَالْجِنُّ عَلَىٰ أَن يَأْتُوا بِمِثْلِ هَٰذَا الْقُرْءَانِ لَا يَأْتُونَ بِمِثْلِهِۦ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيرًا.

]سُورَةُ بنىٓ اسرآئيل/الإسرَاء : ۸۸[

ورته ووايه: "که انسانان او پیریان ټول لاسونه یو کړي چې د دغه قُرآن غوندي د کوم شي د راوړلو هڅه وکړي، نو را به یې نه شي وړلای، که ټول یو له بل سره مرسته هم وکړي".

پر خپلې ناتوانۍ او د قران شریف په ځواکمنۍ د ماتې خوړلیو مخالفینو اعتراف.

کله چې ټول فصیح او اورژبي عرب ادیبان و ننګول شول، تر څو را مخې ته شي، د قران مجید یو سورت یا لږ تر لږه د لسو ایاتونو په څېر کلام خلکو ته واوروي،

او دا ننګول/ ننګونه به تر قیامته باقي وي، د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې هم یو شمیر عربو شاعرانو هڅې وکړي چې قران ته ورته خبرې جوړې کړي خو هیڅا ونشو کولای، حتی چې کوم شعرونه به د نامتو شاعرانو پر خانه کعبه را ځړلول شوي و،)چې اوس هم په کتابي بڼه شتون لري او په سبع المعلقة شهرت لري(، هغه یې لري کړل، بیا په تېره لوی دښمن ولید بن مغیره چې استهزاءا به یې ویل: د تعجب وړ خبره خو دا ده چې زه) ولید(او زما انډیوال ابو مسعود ثقفي سره له دې چې زه د قریشو سردار او مشري یې پر غاړه لرم او ثقفي د ثقیف قبیلې مشري لري؛ بیا هم موږ دواړه پرېښوول کیږو او وحي پر محمد نازلیږي؟!

یو وخت همدا ولید اعتراف کوي... خپلو خپلوانو ته وایې: څه چې تاسو د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حق کې وایئ، ټول له پلوه دروغ دي، هغه نه کاهن دی، نه مجنون، نه شاعر دی نه ساحر، قسم په خدای د محمد په کلام (قران) کې عجبه خوند او ذوق دی، ناشنا ښکلا او روښنایې لري، د ده د خبرو جرړ بې حده زیات تازه دی او ښاخونه یې میوه دار دي.

د عتبه بن شیبه اعتراف.. کله چې د رسول الله تره حمزه رضي الله عنه ایمان راووړ او ورځ په ورځ د مسلمانانو شمیره زیاتیدله، د قریشو مشرانو مشوره وکړه او له رسول الله ص سره د خبرو لپاره یې عتبه وټاکی، تر څو صلح وکړي.

عتبه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی او په تقریر یې پیل وکړ، وایې: ستا په حسب ونسب کې د شرافت او قدردانۍ هیڅ شک نشته؛ خو له بده مرغه، تا زموږ تر منځ واټن پیدا کړ، زموږ د بتونو سپکه دې وکړه، پلرونه او نیکونه دې راته احمقان معرفي کړل، زه چې اوس راغلی یم څه درته ویل غواړم!

رسول الله صلی الله علیه وسلم و ویل: وایه! زه یې اورم.

عتبه و ویل: زما وراره! له دې خبرو دې هدف څه دی؟

که دې شتمني هدف وي، نو موږ ټول به دومره شتمني درته راغونډه کړو چې لوی نه لوی شتمن به دې هم سیال پاتې نشي؟ او که دې واده هدف وي، نو چې کومې مېرمنې او څومره مېرمنو سره غواړې، مونږ یې درته ودوو؟

او که مشري یا درانوی مو هدف وي، موږ دې خپل مشر ټاکو؟ او که ناروغ یاست، درملنه دې کوو؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم و ویل: ابو الولید! (د عتبه کنیه ده) خبرې دې پوره شوي؟ عتبه ویل: هو. رسول الله و فرمایل: نه مو شتمنۍ غواړم، نه مو حکومت او سرداري... لنډه دا: هیڅ مو نه غواړم، زه د الله رسول یم، پر ما یې قران نازل کړی، او تاسو خوا ته یې پېغمبر لېږلی یم، او بیا یې د حم السجدة لومړي ۱۳ ایاتونه تلاوت کړل، کله چې رسول الله صلی الله علیه

وسلم تلاوت ختم کړ، و یې ویل: د څه دې چې اوریدل غوښتل وا دې اوریدل، اوس ورځه نور ستا خوښه.

عتبه چې خپلو ملګرو ته ورتلی، عتبه هغه عتبه نه و، ابو جهل چې عتبه ولید و یې ویل: عتبه هغه عتبه نه دی، عتبه بې دینه)!(شوی.

عتبه ملګرو ته وایې: ما د هغه کلام واوریده، قسم په خدای هغسی کلام مې هیس وخت له بل چا نه دی اوریدلی!!

نه خو هغه شعر دی، نه سحر او نه هم کهانت، هغه یو بل ډول شی دی!!

زما قومه! که مې خبره منئ نو محمد خپل کار ته پریږدئ! په الله قسم کوم کلام مې چې تري واوریده په لنډ وخت کې به جلا ستروالی ولري...

پر زړونو یې اغېزمنتیا او اثر

طفیل بن عمرو دوسي رضي الله عنه له اسلام راوړلو وړاندې هم ستر شاعر، ځیرک، هوښیار، میلمه پال او شریف النسب و، له قریشو سره یې تړون درلود، هغه مهال چې رسول الله پر تبلیغ بوخت و، مکي ته راغی، د قریشو څه کسان ورته غونډ شول او د رسول الله په هکله ورته وایې: په موږ کې یو کس پیدا شوی، ټول قوم کې یې تفرقه زیږولې، خبرې یې سحر او جادو ته ورته دي، دپلار او زوی تر منځ، د ورور او ورور، د میره او میرمن تر منځ بیلتون راولي، ګوره! ځان تري ساته! موږ وېره لرو هسي نه ستا او د قوم تر منځ دې شخړې را پورته شي.

طفیل رضي الله عنه وایې: قریشو دومره و ډار کړم چې غوږونو کې مې ټوټې کیښودي تر څو د رسول الله له کلام اوریدو بچ پاتې شم؛ خو دا چې انسان په خبل فطرت کې، حقیقت پسي لالهانده او پلټونکی مخلوق دی، تل هڅه کوي چې حقیقت را برسیره او واقعیتونه درک کړي او په دې ډول د پایښتي بریا او تلپاتي خوښۍ پر لور پرمختګ وکړي، په تېره بیا دا ډول انسان چې تل یې فکر تر پرمختګ او بریا پوري نښتی وي، ورته اړینه ده چې د داسي کلام چې مخالفین یې له اوریدلو وېره لري، باید واوریدل شي او ژور غور پکې وشي، طفیل رضی الله عنه هم ځنډ و نکړ، له ځان سره یې ویل: زه خو هوښیار سړی یم، لوی شاعر او د هیڅ خبرې ښه والی او بدوالی را څخه پټ نه دی، زه به دا کلام ضرور اورم که باوري او خوږ کلام و، منم یې، او کنه نه یې منم.

طفیل وایې: حرم ته ولاړم، رسول الله صلی الله علیه وسلم په عبادت بوخت و، له فارغیدو وروسته روان شو، زه هم ورپسي شوم، له کیناستو سره سم مې کړه: ستا قوم ستا په اړه داسي او هغسي خبرې کوي، حتی زه یې دې ته اړ کړم چې خپل غوږونه دپ کړم تر څو ستا کلام وانورم، تاسو خو ماته د خپل دین په اړه معلومات راکړئ او لږ راته پر تاسو نازل شوی کلام واوروئ! رسول الله ص ورته اسلام وړاندي کړ او سورت اخلاص او معوذتین یې ورته واورول. طفیل له اوریدو سره سم کړل: قسم په خدای له قران مجید مې ښکلی کلام او له اسلام څخه زیات معتدل دین، مې نه دی لیدلی او هماغه مهال مسلمان شو.

همدا ډول ابن الدغنه چې ابوبکر الصدیق رضي الله عنه له پاره له مشرکینو پناه وغوښته هغوی پنا ورکړه خو تړون یې وکړ چې ابوبکر به په لوړ غږ تلاوت نه کوي، او په خپله به مشرکینو اعتراف کاو چې: به لوړغږ د قران تلاوت موږ ته تاوان رسوي، پر دې سربیره موږ پر خبلو مېرمنو او ماشومانو وېرېږو چې د قران په اوریدل به مسلمانانې شي.

همدا ډول د عمربن الخطاب رضي الله عنه د اسلام راوړلو حقیقي سبب که هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم دعا ده، خو ظاهري سبب یې قران ده. او.....

هغه چې یوه جمله یې کولی شي ژوند بدل کړي...



د لسم کال د بعثت د شوال اخري لسیزه کې چې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم له طایف څخه پرهارژلی او له ډول_ډول کړاوونو ګاللو وروسته بېرته ناهیلی راستون شو، پر لاره د عتبه او شیبه د بڼ د ونې سیوري ته تم او دم اخیستو له پاره کښیناست، مبارک لاسونه یې لپه کړل، اشرف المخلوقات، ستر خالق ته په زاریو و، ویل یې: اللهم الیک أشکوا ضعف قوتي وقلة حلیتي و... که له یوې خوا مستجاب الدعوات دی له بلې خوا مظلوم، مسافر او فردیسی دی.

الله جل جلاله یې دعا قبوله کړه، له ټولو سرسخت دښمن عتبه او شیبه خپل غلام (عداس) را غواړي، په کاسه کې د انګورو اوښکالي ور کوي او ورته وایې: دا هغه له ونې لاندې ناست سړي ته ور وړه! او ورته وا: هرو_مرو څه ناڅه تري وخوره.

عداس هم د بادار د حکم پرځای کولو په پار انګور راوړل او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې مخې ته کړل.

رسول الله صلی الله علیه وسلم بسم الله الرحمن الرحیم ویلو وروسته په خوراک پیل وکړ.

عداس د جملې (بسم الله) ښکلا هېښ کړ، اوریدو سره سم یې لوړه وکړه او ویې ویل: په الله قسم دا ډول ښکلی او زړه راښکونکی کلام مې دلته له هیچا نه دی اوریدلی؟!

رسول الله صلی الله علیه وسلم وپوښتل: ته د کوم ځای اوسیدونکی یې؟ او دین دې څه دی؟

عداس: زه د موصل د نینوی سیمې اوسیدونکی او دین مې نصرانیت دی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم و ویل: دهغې نینوی یاست، چرته چې د الله جل جلاله نیک بنده یونس بن متی علیه السلام اوسیدلی؟

عداس و ویل: تاسو د یونس په اړه څه علم لرئ؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم و ویل: هغه نبي وو، زه هم نبي یم.

عداس د رسول الله تندی مبارک لاسونه او پښې ښکل کړل او کړه یې: أشهد أنک عبدالله ورسوله.

]ابن سیدالناس عیون الاثر: ټوک ۱ / مخ ۱۳۴[

]سیرت ابن هشام: ۱۴۶/۱[

پورته واقعه کې د عداس د اسلام راوړلو لامل د قران د یوې جملې (بسم الله) اوریدل و، چې د عداس ژوند یې له کفر څخه اسلام ته بدل کړ، وروستی خبرو یې تر منځ تعارف راوستی او بس.

پای: قران شریف داسې کتاب دی چې جلا ډول کلام او ځانګړی خوند او ذوق لري، تر دې چې ټول عرب یې فصاحت، بلاغت او ځانګړي خواک ته مات او پر خپلې ناتوانۍ معترف شول، او دا دی څوارلس پیړۍ تېرې شوې خو څوک ونه توانیدله چې مقابل یې وکړای شي.

و ما علینا الا البلاغ

کلورینې پاڼې

دار فلسفه

عرفاني

نـړېدې شـــوې مو ساحـل ته ده بېړۍ
ډېر دی شـکر چـــې وړی مو شوه شړۍ

موږ د پــاکې تانـدې مینې عاشقان یو
مست جنـــون مومـاتې کړې دي کړۍ

فلسفه د دار مــو مخـــکې لا ویـــلې
ځکه نن ورځو خوشــحال هسکه غړۍ

د رقیب پرتنــــدې داغ زمـا د خنجر دی
لا روغ نـــدی تېـرې شوې پرې پېړۍ

که جـــهان ټول پاړوګر او ښاماران شي
د موســـی امســاته دي یـــوه مـــړۍ

عقیده د وحـــدانیت مونــږه خپره کړه
په خبـــرو مو کـــړه پوه ګونګه نړۍ

پر هـــــواره مــو ولاړ دي چـناړونــه
جګ جګ غرونه مـــو لـــري غټې ځیږۍ

قره قول،پکول سم زېب ورسـره نــه کا !
(عرفاني) سره کـړي خوند شخه پګړۍ

سپین کتار دطالبانو

رضوان الله (فیضاني)

مالیـــــــدلی دی ګـــــوزار د طالبـــــانو
بوړنـــــــوونکی دی هـــــر وار د طالبـــانو

د الله د دیـــن دښـــمن مـــرداروي تـــل
الجهـــــاد دی پـــاک شـــعار د طالبـــانو

د زړه مینـــه پـــرې مـــاتېږي چـــې روان وي
ښـــکلی ښـــکاري ســـپین کتـــار د طالبـــانو

پـــه کفـــارو بانـــدې تنـــدر د اســـمان دی
شرنګېـــــدونکی ذوالفقـــــار د طالبـــــانو

رب دې تـــل لـــري اباد پـــه مـــخ د ځمکـــې
هـــر یـــو کلـــی هـــر دیـــار د طالبـــانو

چـــې عظمـــت تـــه یـــې ســـلام ملایکـــان کـــړي
معـــزز دی ســـپین دســـتار د طالبـــانو

تـــور ټوپـــک چانتـــه پیکـــا او شریدونـــه
عجیبـــــه دی دا ســـــینګار د طالبـــــانو

(فیضـــاني) پـــه مینـــه مینـــه بانـــدې لیکـــه
غزلونـــــه او اشـــــعار د طالبـــــانو

لا خوشته سرونه

هاشمي

۲۰۱۶-۰۶-۲۷

تا نه به یې ځار کړو لا د ځار سرونه پاته دي
خدایه! ستا په لار کې ستا د لار سرونه پاته دي

تول منصور منصور یو په ښکاره درته بدل ښکارو
مه نریږه داره لا د دار سرونه پاته دي

کفره! ته به ستړی شې خو موږ به په خندا درځو
دلته د هدف د انتظار سرونه پاته دي

تاو کړه د فولادو کلاکانې ترځان تاوي کړه
ډیر د موټربم د سخت ګوزار سرونه پاته دي

موږ د استشهاد بلبلان، موږ به ځو ګلونو ته
زاغه! تا ته تل د وچ چنار سرونه پاته دي

اې د ازادی ناوې! بد رنګه چیرته مه اوسه
ستا د غاړې هار ته د سینګار سرونه پاته دي

موږ د سپین بیرغ لپاره ځو تر سپین بیرغ لاندې
کله به مو بیل کړي، شته د کار سرونه پاته دي

اې قربانی! تا ته مو ساتلي ډیر سرونه دي
یو د (هاشمي) او نور بیسار سرونه پاته دي

ازادي او خپلواکي

ملنګ

نن عجیبه غوندي یو فکر راغلو
دې ازادۍ پوري نن ذکر راغلو
مونږ اوریدل به له پلرونو څخه
نقل یې کړو له تیرو ختونو څخه
کابل کې شیخ دی او سیاف نومیږي
هغه به ویل چې مجاهد یمه زه
نن د یهودو سره خوا کې ناست دی
دا خپل ضمیر هم ورته بد نه وایي
ورسره مل دي ورته لاره ښیي
زما د مرګ ورته جواز ور کوي
اوس خو ملت ورځیني ښه خبر دي
چې د افغان خاوره ناموس خرڅوي
په خپلواکیو راته لوبي کوي
دروغ به نه وي، دې انځور ته ځیر شئ
ورته قسم ور کړئ مفتي صاحب ته
قِبلې ته مخ کړه حقیت ووایه
چې هغه تا کومه دعوه کوله
ها د اسلام او د جهاد په نامه؟
له عربانو دې چنده کوله؟
د حریت او ازادۍ په شعار
ته د لکونو افغاني زلمیانو
هغه تنکیو شهیدانو ته چې
د ستا په خوله یې کړل ځانوه قربان
نن دې هغه مخې ته نه ودریږي
ته د هماغو قاتلانو ظالمانو سره
په یوه تغر باندي شراب شړوپوې
ستا دي قسم وي خپل ضمیر هم درته
کله څه ستغې سپورې نه دي ویلي
ملنګ کاکا دربانديي پوه یمه اوس
چې ته بې ننګه بې غیرت وختې
تاسو تکړه شی ازادي ولمانځئ

ايا افغانستان کې

رحيمي

امريکا پرمختللي دفاعي سيستم دکومو اهدافو لپاره نصبوي؟

دخبري راپورونو په اساس د هغه وروسته چې دامريکا ولسمشر اوباما په افغانستان کې دخپلو ميشت عسکرو په شمير او لوجيستکي اکمال کې دزياتوالي پريکړه وکړه ، امريکا يې پوځي چارواکو ددي سره هم مهال په افغانستان کې د پرمختللی دفاعي سستم د نصبولو هوډ هم څرګند کړ!!

درسنيو له قوله: امريکا په پام کې لري دا پرمختللی دفاعی سيستم دپروان ولايت د باګرام هوائي ډګر جنوب ته کوه صافي ولسوالی په مربوطاتو کې جوړ اوعيار کړي

ياده ولسوالۍ د پلازمينې کابل په ګډون باګرام هوئي ډګرته څيرمه په لنډ واټن کې واقع مهمه ستراتيژکه نقطه ده...

!! دخبري منابعو په وينا: امريکايانو سرله اوس له يادې سيمې څخه دماينونو پاکولو لپاره د يو افغاني شرکت سره د ۵۰مليونه ډالرو په بيه يوتړون هم لاسليک کړی دی.

دافغانستان او سيمې دسياسي کتونکو په ګمان امريکا يان په افغانستان کې دخپلو څواکونو داوسلو طويل المدت عزايم او پلان لري،هغوی په لنډه موده کې دوتلو اراده نلري ، هغه خبرې او ژمنې چې دڅو کلو راهيسي امريکايې چارواکو په ميديا کې ګردانولې دروغ وې .

دهغوی په نظر امريکا له لومړي سره دافغانستان دارضي تماميت دايمي اشغال ته غله وه او دهمدې موخې لپاره يې ديوولسم ستمبر په پلمه ناروا يرغل وکړ.

هغه غرض چې امريکا دخپل يرغل دليل په توګه وړاندې کاوه، دادی شپاړس کاله جګړې وروسته يې هم يادوي او هره ورځ په همدې يرغلګر عسکرې دمسلمانو ويني دابو پشان تويوي!

هو! امريکا چې افغانستان کې کوم پرمختللی دفاعي سستم نصبول غواړي ، هغه ته افغانستان دخپلې دفاع لپاره ضرورت نلري دا فقط امريکا په منطقه اوسيمه کې دخپلو شومو استعماري اهدافو خوندي کولو په غرض فعالوي...

امريکا غواړي دافغانستان له مهم جغرافيوي استقامت نه په ناوړه ګټه اخستلو دټولو ايشيايې هېوادو مهارکولو کار تري واخلي! د ايشايي هېوادو امن اوثبات وتروري ، په خاصه توګه هغه هېوادونه چې په نړيواله سطحه په سياسي اقتصادي او پوځي ډګر کې دامريکا سره سيالان او حريفان ګڼل کېږي لکه چين او روسيه ترخپل رعب او تاثير لاندې راولي او ورته دا اجازه ورنکړي چې هغوی په نړيوال ډګر کې دامريکا د استعماري موخو ننګولو ته بډې ووهي!

اوبل ددې استقامت نه هڅه کوي څو د هغو ايشايې هېوادونه د ستونزو او ګډوډيو اور ته لمن ووهي کوم چې ترډي مهاله د نسبي امنيت او ارامی نه برخمن دي او هغه هېوادونه چې امريکا تورنوي او ورباندې نيوکې کوي لکه ايران او... ترخپل استخباراتي څار او پوښښ لاندي ونيسي!

نو له شک پرته د امريکادغه اراده دټولې منطقې لپاره ګواښونه رامنځته کوي او ورته جدي ستونزې پيدا کوي ،اونه به ددي سستم نصبول افغانستان لپاره دخوشۍ ارمغان ثابت شي ، امريکا به ددې فرصت نه په ناوړه ګټه په سيمه کې خپلې استعماري پريکړې او ارادې تحميلوي اودسيمې ولسونه به دخپلو نامشروع غوښتنومنلوته اړباسي

داسلام اولویدیځ کلتوري جنګ!

شیخ الحدیث مولانا زاهد الراشدي
ژ: سجاد

په دا وروستیو کې دامریکائي کانګرس یوې پخوانۍ ویانـدې (نیـوټ ګنګـرچ)ویلي: هغـه مسـلمانان چـې پـه شریعت باور لري له امریکا نه دي هغوی وشړل شي .

دهغې ددې څرګندونو دمخه دامریکـا د ولسمشرۍ لپاره کاندید (ډونلډ ټرمپ)هم امریکـا تـه دمسـلمانانو پـه ورتلو دبندیز لګولو رایه وړاندې کړې وه...

د کانګرس پخوانۍ ویاندې (نیـوټ ګنګرچ)دمرکـې څو نور بارزټکي دادي: غربي تهـذیب دجګـړې پـه حالـت کې قرارلري! شریعت د مغربي تهذیب سره سمون نه لـري! هغه روڼ آندي مسـلمانان چـې دشریعـت پـه قوانینـو بـاور ونلري،مونږه په خوشالۍ هغوی قبلوو! نومـوړې دامریکـا دمتحده ایالاتو حکومت ته نظر ورکـړی چـې پـه امریکـا کې دجوماتو نو څارنـه دې پیـل او دهغـو ویـب پـاڼو چـې سخت دریځې ستایې چلونکي دې زندانوته ولیږدوي!

دامریکـائي کـانګرس دپخـوانۍ ویانـدې یـادې څرګندونې یواځې نن مونږ دلویدیځ دکومې مشرې دخـولې نه اورو بلکې ددینه وړاندې مو هم لـه ګـڼو امریکـایي او اروپایي مشرانو لـه خولـو دغـه ډول څرکنـدونې اوریـدلي البتـه دنیـوټ ګنګـرچ دخبرو ځانګړتیـاوې دادي چـې د ډیپلوماسۍ دلحاظولو پرته یې هرڅه نیغ او په ښکاره ویلي لکه:

* غربي تمدن او تهذیب پـه جنګـي حالـت کـې قـرار لري

* اسلامي شریعت دغربي تهذیب سره سمون نه لرى.

*هغـه مسـلمانان چـې پـه شریعـت عمـل کـوي مونږ(امریکایان) یې نشو زغملی.

*هغه روڼ آندي چې مغرب یـې یـادوي ، مطلـب یـې دشریعت له حکمونو اوقوانینو نـه لاس پـه سرکیـدل دي او ددې څخه په کمه بیه غرب هیڅکله راضي ندی.

زمونږ دختیځو هېواد ځیني پوهان او دنظر خاندان لا تراوسـه ددې خـبرې منلـو تـه تیارنـدي چـې: دلویـدیځ او مسلمانانو ترمنځ اوسنی کشمکش کلتوري او ثقـافتي دی !د هغوی په اند: روان کشمکش کلتوري او ثقافتي ندی بلکـې د اقتصادي ګټـو وټـو جنـګ دی، دپرمختللیـو ولسـونو اود بیرته پاتي هېوادو ترمنځ کشمکش دی، چې پکـې اسـلامي هېوادونه اوولسونه دنه پرمختګ له امله مغلـوب دي او پـه کلتوري ارتقاء کې دلویدیځ سره دنه ملګرتیا کولو لـه املـه بیرته پاتي دي.

خو نیوټ ګنګرچ دا خبره په څرګندواوسـپینو ټکیـو کې کوي چې: روان جنګ کلتوري دی؛ چې یولور لویـدیځ دی کـوم چـې د ساینسي- پرمختیاوو،عسـکري پیاوړتیـا اقتصادي برترۍ اوپه میډیا دواک لرلو په وجه دنړۍ ګـڼ هېوادونه اوټولنې ترخپل سیوري لانـدي کینـولي اوبـل لـور اسلامي هېوادونه دي کوم چې پخپل ټول تـوان دخپلـې بقا لپاره په جګړه بوخت دي اوداخبره تجربـو ښـودلې او لکـه دلمر پشان روښانه ده چې هر هغه ثقافـت اوکلتـور دبشرـي

ټولنې دقیادت کولو وړتیا لري، کوم چې له ستونزمنو حالاتو سره د ډغر وهلو حوصله ولري او دبشري ټولنې دمشکلاتو او قضایاوو دحلولو صلاحیت ولري ، دا څه زمونږ دعوه نده بلکې دفطرت داصولو او دتاریخي تعاملاتو غوښتنه ده.

هو! دکانګرس دپخوانۍ ویاندې داخبره دپام وړده چې شریعت او مغربیت سره سمون نه خوري!دا داسلامي نړۍ دهغو پوهانو لپاره دفکر اوغور وړده څوک چې دتیرو دوه پیړیو راهیسې په دې هڅو او کوښښ کې لګیادي څو اسلام دغربي کلتور سره هم آهنګ وګرځوي!اوکوښښ کوي چې داسلامي احکامو اوقوانینو لپاره داسې تعبیرات ولټوي کوم چې دغربي قوانینو او حکمونو سره ورته والی ولري خو دغه ښاغلي دومره پوهه نلري چې وفمهوي داسلامي قوانینو او تمدن اساس په وحي دی او په اسماني لارښوونو ایمان اوباور دی او دغربي کلتور اوتهذیب اساس له اسماني لارښوونو څخه انکار او دهغو نفي ده! دالله تعالی ارشاددی: "کتاب انزلناه الیک لتخرج الناس من الظلمات الی النور"داکتاب مونږ په تاباندې ددې لپاره نازل کړی دی چې ته خلک له تیارو څخه وباسي درڼا او نور لورته یې راولې.یعنې اسماني لارښوونو ته رجوع اسلام روڼ اندې بولي، او دلویدیځ په اند: داسلامي قوانینو او احکامو څخه انحراف او لاس په سر کیدل روڼ آندي ده؛ مطلب دادی هرهغه څېز ته چې اسلام روڼ آندي وایي. دلویدیځ په نظر هغه جهل او ظلمات دي.اوکوم څه ته چې لویدیځ روڼ اندي وایي هغه اسلام په جهل او تاریکي تعبیروي ، له دې وجې ددې دواړو ترمنځ دمطابقت او یو والي لپاره دلارو لټول او و کوښښونه خام خیالي او یولاحاصل کاردی.هم دیته په کتو پخپله لویدیځ داسلامي شریعت دیوې برخې منلو ته هم تیار ندی داخو لا پریږده چې په اسلامي هېوادو کې یې نفاذ ورته له زغم بیرون دی چې ترډیره یې په دې برخه کې رویه دضد او تعصب څخه ډکه ده چې وخت په وخت دډونلډ ټرمپ او نیوټ کنګرچ په څېر مشرانو له خولو بیرون ته سرایت کوي.

اوس ددې په ځای چې مونږ د ډونلډ ټرمپ یا نیوټ کنګرچ دڅرګندونو په غندلو کې وخت تیر کړو ددې په ځای غوره داده چې دزمکني حقیقت په توګه اومنو او دمسلمانانو د سمې رهنمائي لپاره لار ولټوو،مونږ دیوې مودې راهیسي دفکري کړیو او علمي مرکزونو څخه په دې غوښتنه بوخت یو چې داسلامي کلتور او غربي کلتور ترمنځ شته نړیوال کشمکش دعلمي اوفکري پلوه د روښانه کولو اړتیا مخ په زیاتیدو ده په ځانګړي توګه دغربي کلتور په اساس دجوړ شوي مروج نړیوال نظام او دهغه داحکامو اوقوانینو واقعبینانه څېړنه او ارزیابي اوپه څرګندو ټکیو کې داښکاره کول اړین دي چې دقرآن اوسنت په رڼا کې کومه خبره دمنلو وړده؛ او دکومې دمنلو ګنجایش نشته؟دلویدیځ نظر پوره څرګند دی چې هغه ته په شریعت باندې عمل په هیڅ صورت دمنلو وړ ندی او نه یې منلوته تیاردي،دهغوی په ځواب کې زمونږ مسؤلیت دادی چې داسماني لارښوونو او دبشري ټولنې اجتماعي ګټو په پام کې نیولو سره دلویدیځ وال کلتور تیروتنې اوغلطۍ رابرسیره کړو او دهغو له امله چې بشریت ته کوم زیانونه رسي هغه په ګوته کړو اوپه مقابل کې یې داسلامي شریعت افادیت او ضرورت په دلیل او منطق سره وړاندې کړو ځښتن تعالی دې وکړي چې زمونږ فکري کړۍ دیني مراکز اوعلمي مراجع ددغې اړتیا په ادراک لرلو سره دداسې یوه علمي ګام د پورته کولو کلک هوډ وکړي

آمین یارب العالمین

د ابن ماجه رحمه الله ژوند او تالیفات

سید سعید

د الصحاح الستة د شپږم کتاب(سنن ابن ماجه) مؤلف نومیالی حافظ او لوی محدث ابو عبدالله محمد بن یزید ماجه قزویني ربعي مشهور په (ابن ماجه رحمه الله) په ۲۰۹هق کال په قزوین کې پیداشوی دی.

ابن ماجه رحمه الله په خپل ښار قزوین کې دجیدو علماوو څخه داحادیثو درس پیل کړ،ډیر احادیث یې حفظ کړل، داحادیثو سره د ډیر شوق له امله یې د سفر موزې په پښو کړې،له قزوین څخه حجاز،شام،خراسان،عراق او مصر ته ولاړ او هلته یې له مختلفو نومیالیو علماوو سره داحادیثو په دورو او درسونو کې ګډون وکړ.

امام ذهبي په سیر اعلام النبلاء کې لیکي چې ابن ماجه نومیالی حافظ او لوی مفسرؤ، په سنن،تفسیر او تاریخ کې ښه مصنف او په خپل وخت کې د قزوین تر ټولو لوی حافظ ؤ.

دالوافي بالوفیات کتاب مصنف صلاح الدین خلیل لیکي چې: حافظ ابو عبدالله محمد بن یزید ابن ماجه دسنن،تاریخ او تفسیر دکتابونو مصنف او دقزوین لوی محدث ؤ.

علماء د امام ابن ماجه رحمه الله د فقهي مسلک په اړه مختلف نظرونه لري، د حضرت شاه ولی الله محدث دهلوي رحمه الله په نظر ابن ماجه د امام احمد بن حنبل رحمه الله مسلک ته رجحان درلود.

شاه انور شاه کشمیري رحمه الله په دې نظر ؤ چې ابن ماجه د امام شافعي رحمه الله د مذهب پیروي کوله.

د ابن ماجه رحمه الله استادان:

علی بن محمد طنافسی، عبدالله بن معاویه، هشام بن عمار، محمد بن رُمح، سوید بن سعید، عبدالله بن جراح قهستانی، مصعب بن عبدالله بن زبیر، إبراهیم بن محمد شافعی، یزید بن عبدالله یمامی، جُباره بن مغلس، داؤد بن رشید، إبراهیم بن منذر حزامی، أبی بکر بن أبی شیبه، محمد بن عبدالله بن نمیر او....

دابن ماجه رحمه الله شاګردان:

د ابن ماجه څخه هم لویو علماوو احادیث روایت کړي دي، دبېلګې په ډول محمد بن عیسی أبهری، ابو عمرو أحمد بن محمد بن حکیم مدائني، علی بن إبراهیم بن سلمه قطان، سلیمان بن یزید فامی قزویني او ابو طیب أحمد بن روح بغدادي یاد ولای شو.

د ابن ماجه رحمه الله تالیفات:

- سنن ابن ماجه
- تفسیر القران الکریم
- کتاب التاریخ

سنن ابن ماجه:

دابن ماجه رحمه الله مشهور تالیف سنن ابن ماجه دی،سنن ابن ماجه د احادیثو د شپږو صحیح(الصحاح

الستة) کتابونوشپږم کتاب دی، لومړنی کس چې سنن ابن ماجه یې د مبارکواحادیثو په موجوده شپږو معتبرو کتابونو کې حساب کړی ابو الفضل طاهر بن مقدسي دی.ورپسې حافظ عبدالغني په کتاب الاکمال په اسماء الرجال کې سنن ابن ماجه داحادیثو شپږم صحیح کتاب ګڼلی دی.

امام ذهبي په سیر اعلام النبلاء کې لیکي چې: سنن ابن ماجه پر ۳۲کتابونو او ۱۵۰۰بابونو مشتمل دی او ۴۰۰۰احادیث پکې تدوین اوخوندي شوي دي،استاد محمد فواد عبدالباقي وایې چې په سنن ابن ماجه کې ټول ټال ۴۳۴۱ احادیث راټول شوي دي،په سنن ابن ماجه کې درا ټولو شوو احادیثو له جملې ۳۰۰۲ احادیث د صحاح سته پنځو لومړنیو کتابونو هم را نقل کړي او پاته ۱۳۳۹ احادیث د صحاح سته په پنځو کتابونو کې نشته، دهمدې زوائدو احادیثو په هکله ویل کیږي چې ۴۲۸ احادیث صحیح الاسناد،۱۹۹حسنه الاسناد،۶۱۳ ضعیف الاسناد او ۹۹واهیه الاسناد(منکره\ مکذوبه) دي.

دابن اثیر رحمه الله په وینا ابن ماجه په فقهه کې کټور کتاب دی،خو ددې ښېګڼې سره سره ضعیف احادیث هم پکې کم نه دي.

ځینې علماء په سنن ابن ماجه کې د بعضو ضعیفو احادیثو د درج له امله همدغه کتاب په صحاح سته کې نه شمېري،دوی د سنن ابن ماجه پر ځای د امام مالک رحمه الله مؤطاء د صحاح سته شپږم کتاب ګڼي.

پر سنن ابن ماجه خورا لویو عالمانو شرحې او تعلیقات لیکلي چې د ځینو نومونه یې په لاندې ډول دي:

- شرح ابن ماجه د حافظ علاوالدین المغلطایي حنفي اثر
- شرح ابن ماجه،د علامه ابن رجب زبیدي اثر
- ما تمس إليه الحاجة على سنن ابن‌ماجه،د شیخ سراج عمر بن على الملقن تالیف
- الدیباجه شرح سنن ابن‌ماجه،د شیخ کمال محمد بن موسی دمیري تصنیف
- شرح سنن ابن‌ماجه،د حافظ برهان ابراهیم بن محمد معروف به سبط ابن‌العجمی اثر
- مصباح‌الزجاجة،د علامه سیوطی تالیف
- شرح سنن ابن‌ماجة،د شیخ ابوالحسن محمد بن عبد الهادی سندی حنفی اثر
- إنجاح الحاجة بشرح سنن ابن‌ماجه،د شیخ عبدالغنی مجددی دهلوی حنفی اثر
- حاشیه بر سنن ابن‌ماجه،د مولانا فخرالحسن ګنګوهی تالیف.
- مفتاح الحاجة، د شیخ محمد علوي حاشیه

دابن ماجه رحمه الله وفات:

د اسلامي نړۍ ستر حافظ،محدث او عالم او د الصحاح السته دشپږم کتاب (سنن ابن ماجه) مؤلف امام ابن ماجه رحمه الله په ۲۷۳هق کال د ٦٤ کلونو په عمر په قزوین کې وفات او همالته دفن شوی دی.

ماخذونه: ویکي پیډیا

بیداري اسلامي

عقیــــده

او.....



د ازادۍ دور ځي په پلمه ......!

مشفق حریت مل

ازادي او خپلواکي هغه څه ته وايي چې يو څوک په خپله ځمکه او خپل ژوند کې د بشري اصولو سره سم د خپل واک او اختيار خاوند وي او د بل چا تر اغيز او امر لاندې نه وي. د ژوند له پاره ازادي يو ستر نعمت دی او له ازادۍ پرته ژوند بې معنا بې خونده او له انديښنو ډک وي.

زمونږ ګرانو هيوادوالو ته به دا خبره ډېره سخته تمامه شي چې څوک ورته ووايي چې تاسو خپلواک نه یاست، ازادي نه لرئ، دا خبره هم د افغانانو د ازادۍ د احساس ښکارندوی کوي چې د غلامۍ په ځای خپلواکۍ ته ترجيح ورکوي؛ خو متاسفانه چې موږ لاهم خپلواکي او ازادي نه لرو او لاهم د اشغال له سپيره سيوري لاندې ژوند کوو.

کله چې يو انسان ناروغ وي، نو هيڅوک به ورته څوک روغ ونه وايي او که څوک يو ناروغ ته روغ وايي خلک به ورباندې د ليوني ګومان وکړي، همدا مثال هم د يوه هيواد د ازادۍ او اشغال دی. هر کله چې يو هيواد اشغال وي دا يو ناروغ او رنځور هيواد دی؛ خو کله چې له اشغال څخه ازاد شي نو بيا دغه هيواد روغ رمټ وي او څوک ورته اشغال شوی او ناروغ نه وايي.

د ۱۲۹۷ لمريز کال د زمري د مياشتې ۲۸ مه نېټه چې د ۱۹۱۹ زيږديز کال د اګست د مياشتې له ۱۹ مې نېټې سره برابره ده دا هغه تاريخي او وياړلې ورځ ده چې افغانستان له انګريزانو څخه ازادي ترلاسه کړه نو هغه مهال مونږ خپل ګران هيواد د يوه ازاد او خپلواک هيواد په توګه تر هغه وخته درلود چې بيا روسانو په افغانستان يرغل وکړ، ګران هيواد يې اشغال کړ او د افغانانو ازادي يې وترورله.

په افغانستان د شورويانو يرغل هغه څه وو چې د ګران هيواد ازادي يې يو ځل بيا له منځه يوړه؛ خو د وخت مخلصو مجاهدينو په کمزورو وسلو خو قوي ايمان او هيوادنۍ مينې شوروي دښمن ته نه هيرېدونکې غابښ ماتی ځواب ورکړ، شوري اتحاد يې ټوټه کړ او افغانستان يې د هغوی له ناپاکو منګولو څخه خلاص کړ.

افغانستان د خپل اهميت له مخې هر وخت د نړۍ د زورواکو او بدبينو دښمنانو تر يرغلونو راغلی دی چې وروستی يرغل يې هم د امريکا په مشرۍ د ناټو ځواکونو يرغل دی چې د ۲۰۰۱ کال د اکتوبر راهيسې يې تر اوسه د ګران هيواد خاوره نيولې ده او دلته يې د افغانستان په مظلوم ملت هغه ظلمونه وکړل چې له امله يې په ميليونو افغانان اغيزمن شول او لاهم ددغه ناتار شور د افغانانو ژوند نا ارامه کړی دی.

ځنګه چې يوه پيړۍ مخکې افغانستان د انګليسي يرغلګرو تر ناتار لاندې و نن هم همغه شان د انګليسانو په ګډون د نړۍ د لسګونو هيوادونو يرغلګر عسکر په افغانستان کې شتون لري چې دلته هر څه د هغوی په اشاره او حکم ترسره کيږي، هيڅوک نه شي کولای چې د دوی له اجازې او خوښې پرته قدم پورته کړي، د هيواد د چارو واګې، اختيارات، ځمکه او هوا ټوله همدوی نېولې ده او هيڅ ازادي غوښتونکي افغانان ترې په کرار نه دي، نو ځنګه مونږ ويلای شو چې مونږ خپلواک يو او مونږ ازادي لرو؟

اشغال د هغې بدبختۍ او سپيره توب نوم دی چې په هر هيواد او سيمه کې رامنځته شوی دی، هغه سيمه يې په هر لحاظ ځپلې ده، په افغانستان کې د افغانانو مرګ ژوبله، بدبختي، نا امني، بمبار، چاودني جنګونه او ورور وژنه دا ټول د روان يرغل لامل دی چې افغانان يې له بدبختيو او انديښنو سره مخ کړي دي. اوس که څه هم بهرني عسکر په افغانستان کې په ځمکنيو جګړو کې برخه نه اخلي؛ خو دوی دومره وکړل چې طالب او عسکر يې چې له دواړو لوريو افغانان دي په جګړه کې سره ښکيل کړل چې اوس جګړه ټوله افغاني ده او له هر لوري د افغان کورنۍ ته د مرګ ژوبلې درد رسيږي، چې دغه حالت له بل هر وخت نه ډير ځورونکی او د انديښنې وړ دی.

که بهرني يرغلګر دلته نه وای، جنګ به نه و، بمبار به نه، سرتيري بريدونه به نه وو، د جګړو له امله به د ميليونو افغانانو زيانمنېدل، وژل او ټپي کيدل به نه وو، څوک به د کورونو پريښودلو ته نه اړ کېدل، نه به هم په خپل منځ کې افغانان له دومره بد بختۍ سره مخ وای؛ نو همدا لامل دی چې افغانستان او افغانان د امريکايي يرغل قرباني شول او لاهم قرباني کيږي.

افغانان د نړۍ پر مخ تر ټولو مظلوم او د زړه خوږي وړ ملت دی، نړۍ ددې په ځای چې د دغه جنګ او غربت ځپلي مظلوم هيواد له خلکو سره خواخوږي ولري، ارام ژوند ته يې پريږدي، نور هم افغانستان او افغانان د خپلو ناروا سياستونو ښکار کوي او د افغانستان په خاوره د بل شوي اور څخه خپلې سياسي او اقتصادي ګټې لاسته راوړي.

دا چې اوس ځينې افغانان په دغه د اشغال حالت کې د ازادۍ د لمانځلو له پاره خوښي کوي؛ په دوی کې يې ډير په دې پوهيږي چې ازادي نه لري او هيواد يې اشغال دی مګر بيا هم د هيواد د ازادۍ مينه په يوه نه يوه ډول ځرګندوي؛ خو زما په نظر په داسې ورځو کې بايد ددې په ځای چې هسې بې معنا ازادي ولمانځو؛ په دې فکر او کار کول په کار دي چې ځنګه ګران هيواد له روان اشغال څخه وباسو او ځنګه ازادي ترلاسه کړو، مونږ ته په کار دي چې له هيواد څخه د يرغلګرو ځواکونو د وتلو له پاره کار وکړو او ټول افغانان د يوې تلپاتې سولې د راتلو له پاره په يوه ټغر سره راټول کړو او هر کله چې دې هدف ته ورسېدو چې يرغلګر له هيواده وشړل شي او په خپل منځ کې د سولې، يووالي او خپلواکۍ ژوند ولرو نو هغه مهال به مو په رښتيني توګه ازادي درلودلې وي او همغه وخت به يو بل ته په خوښۍ د هيواد د ازادۍ او خپلواکۍ د ورځې مبارکي وايو، الله دې دغه ورځ ډير زر په افغانانو ووينې.

په هيواد کې د خپلواکۍ او تلپاتې سولې او د ټولو افغانانو د ګډ او سوله ييز ژوند د راتلو په هيله

د پوچ کارتوس د معما حل؛

۳۰ کاله د راز په پردو کې پټ حقیقت

شهرت ننګیال

۱۳۶۲لمریز کال په مهاجرت کې د ادبي زلزلو کال و. په دغه کال کې مرحوم مولوي خالص داسې ادبي زلزله ګډه کړه چې هیڅ یې اټکل او وړاندوینه نه‌شوای کولای.

دا چې د یو تنظیم رهبر دې راولاړ شي او د شعر په ژبه دې له مسلط چاپېریاله د بغاوت هنګامه توده کړي.

له ځانه بغاوت، پر ځان نیوکه، پر تنظیمي حاکمیت، مشرتابه او اړیکو انتقاد...

ده دغه بغاوت له ځانه پیل کړ، په خپل سر یې د بغاوت اور بل کړ او پر خپل ځیګر یې د دغه بغاوت جنډه لکه کړه، ځکه خو یې چې څومره ولړزول، تر دې زیات یې وپارول.

ده د خبرو یو داسې قلمرو فتحه کړ چې سملاسي یې په‌کې د قلم د امپراتوري بیرغ پورته کړ.

ده د شورویانو تر ماتې له‌مخه، د کابل تر لاندې کولو وړاندې، په خپل قلم د خبرو ملکونه فتحه کړل. د دغو ملکونو پولې بریدونه نه وو، کوم سیال او مدعي یې سر نه‌شوای پورته کولای.

دغې فتحې ډېر غټ زړه غوښت، دغسې زړه د بل جهادي مشر نه و.

په داسې یوه ټولنه او حاکمیت کې چې انتقاد جرم او کفر ګڼل کېده، خالص دغه تور په خپله غاړه واخیست. ده دغه ګناه سپېڅلې ثابته کړه، ثواب یې وګرځاوه.

د تورو جنګ به ما کولای

د سترګو جنګ دی، وارخطا ولاړه یمه

هیڅ دغسې جنګ ته زړه نه‌شوای نیولای، خو خالص په دغه جنګ کې هم فتحه په خپل نامه کړه. ده د «وهي په بډه» تر سرلیک لاندې یو شعر وکیښ.

دغه شعر جهادي او تنظیمي رهبران چې ځانونه یې معصوم او سپېڅلي ګڼل، وننګول. په دې توګه مولوي خالص د تنظیم له مشرتابه په راکوزېدو ځان له عامو افغانانو، لیکوالو او شاعرانو سره مل او همغږی کړ.

دغې همغږي خالص ته د ابدیت مخه ورکړه، خالص په حق ورسېده، خو ادب د ده ژوند ابدي کړ.

دغه ابدیت ده په ټوپک نه، په خپل قلم د خپل تقدیر پر تخته وکیښ، د قبر شناخته او ډبرلیک یې وګرځېده.

د خالص «وهي په بډه» شعر په داسې وخت کې ادبي زلزله ګډه کړه چې یو جهادي مشر تر اوښانو غټ ځیزونه، بلکې ټول اتحاد په بډه وهلی و.

په دغه شعر کې سرې لړ و ډېر د دې پته لګولای شوای چې خالص کوم رهبر ته، له کومه اړخه ګوته نیولې، ځکه خو یې پر تعبیر د ډېرو لاس بر و.

یو بل ته سره غله دي، خو دعوه کړي د یووالي

په نــــوم د اتحـــاد واړه
سامان وهي په بډه
ځان ساته «نبي‌خېله» چې تـا
هم په بډه نه کړي
رهـبر چـــې شي بـــې‌لارې
رهبران وهي په بډه

د خالص دويمه ادبي زلزله د «کوځه‌ډب رهبر» شعر و، پـه دغـه شعر کې هم تنظيمي چاپېريـال او جهادي مشـران د رټنـې تـر بريـده کړل شوي وو.

د «کوځه‌ډب رهبر» اصـطلاح په لومړي ځل مولـوي خـالص پـه خپلو ادبياتو کې راپورته کړه.

پــه دغــه شــعر کـــې هـــم لوســتونکي د دې درک لګـولای شواى چې په کوم بيت کـې کـوم مشر ته له کوم پلوه نغوتـه شـوې ده؟

خالصه! خير دې غـواړه چـې
شپې ورځې دې ترخېږي
چـــې غلـــه شي مجاهـــد او
رهبران شي کوځه‌ډب

دغـــــو دواړو شـــــعرونو د کېوالو خولو ته په لوېـدو دومـره منښت وموند چې لـه ليکنـو پرتـه پــه بنـداړونو کــې هـم يــو ماخـذ وګرځېدل، ځکه خو ډېر ژر په ورځني ژوند او اړيکو کې دود او موډ شول.

«وهي په بډه» لومړی ما د پاڅون په نامه او مرحوم استاد پسرلي او استاد رفيـع د جيحون او سمون په نامه بدرګه کړ. په مجاهد ولس کې دا لړۍ دومره وغځېده چې ولسمل صاحب دغه شعرونه په ځانګړې رساله کې خپاره کړل.

د مرحوم درېيمې زلزلې داسې ادبي ټکانونه رامنځ ته کړل چې کلونه يې خلـک په ازمايښت کې غورځولي وو. د چا خبره له داسې شش و پنج سره يـې مخـامخ کـړل چې په اټکلونو، قياسونو او پوښتنو يې هم اصلي درک نه‌شواى لګېداى.

تر اوسه هم د دغـې زلزلـې افټرشـاکس ټکانونـه دوام لـري. دغـه شـعر د پـوچ کارتوس تر سرليک لاندې و.

خالص له هيــــچا نه ګيــــله نه لري
پـوچ يې له خپل جېبه کارتوس وختو

ګڼو خپرونو دغه شعر چاپ کړ، چا ويل قومندان عبدالحق يـې ښوولی، چا پـر مولوي حقاني ګوته کېښوده، چا به څوک ياداوه، چا څوک...؟

هيڅا هم د ښنې منځ نه‌شواى ويشتلاى.

په ۱۳۷۹لمړي کال چې حفيظ الله غښتلي د جلال‌اباد په پنډغالي کې له مولـوي خالص سره د ګوربت له‌پاره مرکه کوله، ما ورته د دغې پوښـتنې يادښـت ورکـړی و، خو مرحوم يوازې دغې څرګندتيا ته نوک نيولی و چې نه يې حاجي عبدالحق ښوولی، نه مولوي حقاني...

په دې توګه يې له ګوربت سره په هغه مرکه کې هم خپله ښنه پټه ساتلې وه.

ان خپل نږدې ملګری عبدالکبير خان طلايي ته يې هم لـه دغـه رازه پـرده نـه وه پورته کړې، ځکه خو ښاغلي طلايي په خپل کتاب کې د دغـې معما پـر حـل بريـالی شوی نه دی.

زه، ولسمل صاحب او ښاغلی عبدالباري غيرت په پېښور کې د مولـوي خـالص پوښتنې ته د اب‌دره روډ حوېلۍ ته چې د سياسي حوېلۍ پـه نامـه يادېـده، ور برابـر شوو، مرحوم يې د درملنې له‌پاره راوړی و، غالباً له پروټسټاټه کړېده، له فزيکي پلوه کمزوری، خو حافظه او يادښت يې پر ځای وو.

موږ چې ورغلو په کټ کې يې ښې لاس تر مخ لاندې ايښې و چې د روغبړ لەپاره يې موږ تـه را اوږد کړ.

ويـل زړه خـو مـې د غېـږې روغبړ ته دى، خو څه وکړم؟

مـوږ لـږ لېـرې پـر توشـکو «ناليو» کښېناستو، د ده خبرې مـو نەشواى اورېداى. بيا يې موږ تـه پلاسـتيکي چـوکۍ راوړې، د ده کټ ته نږدې کښېناستو.

ما چې موقع مناسب وليـده، د پــوچ کــارتوس خــبره مــې راواخيسته.

ويل هغه دې حاجي صـاحب تېرايست، ما نەشي دوکه کـولاى، ولسـمل او غـيرت لـه يـوې بلـې لارې پـرې راوگرځېـدل، بـس را گير مو کړ.

ويل الفت صاحب زموږ ټولو استاد دى، دى وايي خبره پـه پـرده کې ښه ده چې ليکنه، مقاله، وينا، خطابه تـول د تانيث ښنـې لـري، ځکه خو يې سرې بايد بې‌پردې نـه کړي.

خو درې زوروور راته ناست دي، دا يـو «غـيرت» مـې د استاد زوى، صاحب حق دى، دا بل «ولسمل» مې پخوانى ملگرى او د اسـتاد زوم دى او دا ننگيال زما د اشنا نازولى دى، پر ما هم گران دى. نه غواړې چې راز، راز پـاتې شي، له لنډې موسکا سره يوه شېبه غلى و. بيا يې يو ټکى له خولې ووت چـې لـه مـا سره امانت دى، له يو څه چوپتيا سره؛

سياف! «په لږ خنډ» هو، سياف! ورسره يې سر درې ځله وښوراوه.

تر يو څه اوږد سکوت وروسته يې ويـل؛ سـياف لـه زندانـه پـه خلاصېدو پـه پېښور کې ماته راغى، پر ما له دې اړخه هم ښـه لگېـده چـې لـه زندانـه زمـا د زوى مولوي محمد نسيم بوى ورسره دى، په سوځنده ترنم يې دا شعر ولوست؛

ز مصرش بوى پيراهن شمـيدى
چرا در چاه کنـــعانش نه ديدى

سياف له ما سره د ملگرتيا ژمنه وکړه، مـا ده تـه د خپـل تنظيم او دفـتر کيلـۍ ورکړې، بانکي شمېرې هر څه مې ورته کېښودل، د اتحاد رياست ته مې کانديـد کـړ، خو ده بله وکړه...

په لږ خنډ يې زياته کړه؛ دريغه سياف د خپلې پـوهې، علميـت او ذکـاوت پـاس ساتلى واى...

پــوچ کــارتــوس

ما وې چې باز دى خو تېپوس وختو — په دووســــــانو کې دووس وختو
د زړه په وينو مې روزنه ورکـــــړه — چې زړه ترې جوړکړم، خوپپوس وختو
ډېر مې ټولنه کې درونــــــد وتللو — اخېر کې ســپک انډى د بوس وختو
په جهادي هدف يې لوټې وکـړې — خدايــېږو له روس څخه چړوس وختو
د امريـــــــکا په ډالــــر ونځېده — د خـــداى له مرستې نه مايوس وختو
موږ وې د ده له بخته مخکې به ځو — خو دى پەخـــــپله کې منحوس وختو
خالص له بـــل چا نه گيله نه کوي — پوچ يې له خپـــل جېبه کارتوس وختو

عبدالرحمن

زمونږ د شاتګ او د لویدیځ د پرمختګ راز په څه کې دی؟

کله چې په غرب کې یو کتاب بازار ته ورانـدي شي، په یوه ورځ یې په ملیونونو نسخې خرڅي شي، دې ته وایي د کتاب سره مینه او دې ته وایي د پرمختـګ راز. کله چې په غرب کې د کتاب لوست کم شي، هغوی بیړنی حالت اعلانوي، د کتاب لوستلو رنګا رنګ مسابقې اعلانوي، راډیو، تلویزون، مکتبونه او ورځپاڼې ټول د کتاب پر اهمیت غږیږي، د کتابونو لیکوالانو سره مرکې کوي، هغوی ته اهمیت ورکوي، د هغوی کار ستایي ، د هغوی د کتابونو پر منځپانګه پوښتنې مطرح کوي او خپل ولس دې ته اړبا سي چې د کتاب په وړاندې تجسس را وپاروي او خلک یې لوستلو ته اړایستل سي.

ددې تر مخه د کتابونو د لوستلو په اړه د شرقي او غربي نړۍ تر منځ ډیري پرتلې شوي، همداسي بیا په شرق کې د جاپان، چین غونـدي پرمختللیو هیوادونو د ولسونو او عربي نړۍ غونـدي هوسا ژوند لرونکو او استهلاکي فکر لرونکو تر منځ پرتلې شوي چې د ځمکې او اسمان تر منځ غوندي فاصله سره لري او همدا پرتله که چیري زمونږ د سیمي هیوادونو ته راسي، لکه افغانستان، ایران او پاکستان، نو بیا خو شاید پرتله د ځمکې او اسمان دوچنده برابری ته ورسیږي.

مونږ چې کتابونه چاپ کړو، خلک خبریږي هم نه چې څه مو چاپ کړي، چیرته مو چاپ کړی، اکثره لیکوالان د خپل جیب په خرڅ باندي کتاب چاپوي او بیا یې د یوې مکتبې څخه تر بلې په شا ګرځوي کـه یـې څوک په خپله مکتبه کې د خرڅلاو لپاره کښیږدي، خو اکثره نسخې یې داسي کسانو ته په تحفو او د لیکوالانو د ډالیو په متن ولاړې سي چې کله یې هم بیا د را پورته کولو تکلیف نه کوي، چې له امله یې لیکوال نهیلی او د بیا کتاب لیکلو او چاپولو لـه ډاره ځان یـو خواتـه کوښه کړي.

زه خپله چې په یو عربي هیواد کې اوسم، دلته هر کال د کتابونو د خرڅلاو میله لګیږي، چې د حکومت لـه خوا په ډیر اهتمام او د وزیرانو تر کچې خلکو په وجود کې پرانیستل کیږي ، ډیر کله میلمانه ولسمشران هم ورته را بلل کیږي، خو کتابونه بـه هغه ښه په کښې خرڅیږي، چې یا غزل وي، یا د عربو په ځایي لهجو په ګډوډ تورو بیخونده شاعري وي، د تلیفون او واټس اپ مسیجونه به وي، د تویټر او فیسبوک لپاره بـه کوچني کوچني پوستونه وي، او یا بـه هم د اشپزخانې د پخلي تجربې او طریقې وي.

دا خبري می تر دې را یادي سولې چې همدا اوس په غرب کې د یوې خیالي کیسې (ناول) یو کتاب چاپ شوی، چې د هاري پوټر په نامه ناول د لړۍ اتم نمبر کتاب دی، لیکواله یې وایي چې دا به یې وروستی کتاب وي.

ددغه ناول کیسه پر یوه هلک باندي را کرځي څوک چې د سحر او جادو په نړۍ کې ژوند کوي، هلته خپل ځان ورته مالومېږي چې دده جادو زده دی..

د وروستي کتاب سرلیک دی: هاري پوټر او جادوی شوی هلک یا مسحور هلک.

د وروستیو راپورونو سره سم په لومړیو دوه درې ورځو کې یوازې په امریکا کې ددغه کتاب تر دوه ملیونه زیاتې نسخې خرڅې شوې، په برتانیا کې تر ۶۸۰ زره نسخې او همداسې په نورو هېوادونو کې ټولې هغه مکتبې چې ددغه کتاب د خرڅ جواز یې له مخکې لرلو، وایي چې دوی خپلې ټولې نسخې ایستلې، څوک چې د کتاب غوښتنه کوي هغوي دي انتظار وکړي تر څو بل ځلي چاپ او مکتبو ته را ورسیږي.

که څه هم دا یو ناول دی او ټوله کیسه یې خیالي ده، خو ددې څخه مالومیږي چې د لیپ ټاپ، موبایل او ټابلیټ جوړونکي د ورقي کتاب سره څومره مینه لري او مونږ څرنګه ورقي کتاب خوشي کړی او سترګې مو په سکرین باندي خښې کړي دي، تر دې پورې چې اوس ډېری خلک مو قرآن کریم تلاوت هم پر هغه سکرینونو باندي کوي چې وروسته یا مخکې باندي دښځو نڅا ویني او یا خپل بل مسلمان ورور ته باندي ښکنځلي کوي یا ورته بد رد لیکي، که داسي نه کوي نو غیبت خو به خاماخا باندي کوي.

دلیــوال صاحب کیـسه

قاري ســعید

عبدالغفور لیوال صیب د امریکایي یرغل په لومړیو کلونو کې د ازادۍ راډیو خبریال و، د اسد ۲۸مه راغله او د کابل په غازي لوبغالي کې د ازادۍ جشن جوړ شو، لیوال صیب ته دفتر وظیفه ورکړه، چې غازي لوبغالي ته لاړشي او د جشن راپور ترتیب کړي،لیوال روان شو، خو لوبغالي ته نارسیده، د آیساف برتانوي عسکرو دریش کړ.

ــ څوک یې او چیرې روان یې؟

ــ خبریال یم، غازي لوبغالي ته ځم...

ــ په غازي لوبغالي کې څه کوې ؟

ــ هلته جشن دی، ورځم چې راپور ترې جوړ کړم

ــ د څه شي جشن دی؟

ــ د آزادۍ جشن

ــ له چانه د ازادۍ جشن؟

ــ اممم ... اممم

ــ ولې غلی شوې خو ځواب راکړه!

ــ نه شم ویلی، ډیره سخته ده، شرمیږم!

ــ زر ووایه او کنه نو...

ــ هسې ما ویل له تاسو (انګریزانو) نه د آزادۍ جشن...

ــ ښه هههههههه، جشنونه یې لمانځۍ خو د ازادۍ فکر مو د بیا لپاره له مغزو وغورځوئ!!

یادونه

د تلپاتې ازادۍ دعملیاتو عسکرو، د ازادۍ په ورځ، د ازادۍ راډیو خبریال ته د بیان د ازادۍ په رڼا کې د آزادۍ په اړه کټ مټ همداسې خبرې کړې وې کنه له لیوال صاحب نه پوښتنه وکړئ؟

داسلامي نړۍ ثقه عالم مولانا سید ابو الحسن علي ندوي ژ: ابوظهیر لومړۍ برخه

دلویدیځ د نړیوالي لاملونه

دجدیدیت ځپلو اسباب اودرملنه یې:

تردي ځایه په اسلامي نړۍ کې داتاترک په قیادت (۱۹۲۴-۱۹۳۸ز) کې دجدیدیت او غرب ځپلي خوځښت اجمالي تاریخ له پیله په لنډ ډول راوړل شو، درنو لوستونکو ولوستل چې په نویو ازاد و اسلامي هېوادو کې دجوړوشویو نویو اسلامي حکومتونو زیات رهبران د اتاترک له ایډیا سره متفق او د هغه متاثر بریښیدل اودهر هېواد ذهینو ،لوستو او دځواک خاوندانو میلان دکمالي طرز اصلاحاتو، پرمختیاوو او دمغربي جدیدیت په لوردی، مونږ ته په دې باندې غور پکار دی چې ایا دا محض اتفاق دی یا د کمال اتاترک دځواکمن شخصیت تتیجه ده؟ او که ددې په تل کې نور کره ، قوي ،مؤثر او نړیوال لاملونه مندل کېږي چې په اسلامي نړۍ کې د ملک ، ټولنې، بیا رغونې او جوړښت په نامه هرګام اخستل کیږي هغه دکمال اتاترک په قدم پورته کېږي او دهېواد دترقۍ استحکام راز دجدیدت او مغربیت په ړانده تقلید کې ګڼي؟

زمونږ په اند دا یو شمیر ژور، کره او عمومي لاملونه لري، چې په اړه یې مونږ دلته په لنډه توګه جلا، جلا دهغه لاملونو (factors)څېړنه او ارزیابي کوو:

غربي نظام تعلیم:

دنظر خاوندان پوهیږي چې د بشري وجود په څېر تعلیمي نظام هم خپل جلا روح اوضمیر لري ، دغه روح او ضمیر په اصل کې دهغو جوړونکو او ترتیبوونکو دعقایدو او دهغوی دژوند په اړه دهغوی د لرلیدونو ،د کائناتو د مطالعې او دهغوی د اخلاقیاتو انځور وي؛ کوم چې تعلیمي نظام ته دخپلواکۍ په بڼه یو خپلواک روح او ضمیر وربښي، دا روح دنظام په ټول قالب کې ،په ادبیاتو ، فلسفه، تاریخ، هنرمندۍ، عمرانیاتو آن په اقتصاد اوسیاست کې هم سرایت کوي چې دیوچا لپاره ترې مصؤن پاته کیدل ستونزمن کاروي، دا دیو لوی اجتهاد ي صلاحیت او ستر ناقدانه کمال دی، چې د هغه ګټور اجزاء له مضرو څخه را جلا کړي او د [خُذ ماصفا وَدَع ما کَدر] اصل باندې په عمل سره داصل او زوایدو په توپیر سره جوهر او روح را واخلي،هو! په تجربوی او طبعي علومو کې دا کار ډېر ستونزمن ندی البته په ادب او فلسفه او عمراني علومو کې له زیاتو ستونزو ډک نازک کار دی، په ځانګړې توګه یوداسې ولس چې هغه دمتعینو او محکمو عقایدو، مستقلې فلسفې او د ژواند انه مسلک، خپل جلا تاریخ (کوم چې دراتلونکو نسلونو لپاره دلارې دنشان په بڼه دی) لري، دکوم لپاره چې دی د پیغمبر او دلارښود حیثیت لري ، کله چې په یو داسې قوم داسې تعلیمي نظام اومنل شي ، چې په اساس ،بنیاداو معیار کې دهغه نه جلا وي، بلکې دهغه ضد واقع وي نو په نتیجه کې به یې ګام په ګام تصادم رامنځته کېږي چې دیوه تعمیر دبل تخریب دیوه تصدیق او د بل نفی دیوه احترام او دبل تحقیر پرته ممکنه نده

چې په دغسې حالت کې ذهني کشمکش، په عقایدو کې تزلزل، له خپل دین څخه انحراف، د پخوانیو افکارو او اقدارو په ځای دنویو افکارو او اقدارو منل خامخا کیدونکې دي دا یو قدرتي عمل دی او بلکل هغسې وړاندې درومي څنګه چې د قدرتي کارونو کیدل حتمي دي، هیڅ ډول خوش فهمي، دضمیرګډوډي او دمشرانو بهرني جزئي انتظامات یې دوقوع په وړاندې خنډ نشي کېدای، داسمه ده رفتاریې سست کیدای شي او وقوع یې وروسته کېدای شي خو یو مخ معطل نشي کېدای، کله چې یوه ونه خپل طبعي نشوونما مومي نو هغه به خامخا پاڼې او څانګې پیدا کوي او پخپل وخت به میوه نیسي انسانان ددې اختیار لري چې ونه نهال نکړي یا ورته اوبه ورنکړي یا کله چې هغه زرغونه شي، هستې یې له منځه یوسي خو ددې وس نلري چې ښه تازه، توانا او مسته ونه دخپل نوعي وجود او شخصیت ثرګندولو پرمهال دمیوه نیولو څخه مهار کړي.

دیته ورته معامله دغرب تعلیمي نظام ده، هغه یو جلا روح او خپل منفرد ضمیر لري کوم چې دهغه دمصنفینو او جوړونکو دعقیدې او ذهنیت عکاس دزرګونه کلو دطبعي ارتقاء(ودې) نتیجه دلویدیځ دمنل شویو افکارو او اقدارو ټولګه او تعبیر دی! دغه تعلیمي نظام چې کله په کوم اسلامي هېواد یا مسلمانه ټولنه کې پلي کړای شي نو په نتیجه کې به یې ذهني کشمکش اعتقادي تزلزل او بیا ذهني (الاماشاء الله)دیني ارتداد زیږي یو داسې غربي مفکر (محمد اسد [پخوانی LEOPOL WEISS]چې د سلیم طبعیت خاوند دی او هم دختیځ او لویدیځ دتعلیمي نظامونو دپایلو په اړه اوږده تجربه لري سهي لیکلي:

مونږ په وړاندې مخونو کې ددې خبرې په تائید څو لاملونه اودلایل وړاندې کړل چې اسلام او غربي تمدن چې دژوند په دوه متضادو نظریو ولاړ دي، له یو بل سره کېدای نشي، هرکله چې داسې ده نو مونږ بیا څنګه دا توقع لرو چې دمسلمانانو نوي نسل ته دغربیانو پشان ښوونه روزنه او ورکول (کومه چې په ټوله کې دلویدیځ د علمي او کلتوري تجربو او دهغوی دغوښتنو زیږنده ده) چې داسلام له اغیز او اثر څخه پاکه وي!!

مونږ ددې تمې لرلو لپاره هیڅ جواز هم نلرو، که مونږ ځیني غیرمعمولي حالات استثناء هم کړو چې په هغو کې دکومې لوړې درجې رڼو مغزو لپاره داسې ممکنه ده چې هغه دې دخپلو درسي مضامینو څخه تاثر وانخلي نو بیا هم عامه اصول دا پاتې وي چې نویو نسلونو ته غربي ښوونه او روزنه ورکول هغوی ددې وړنه ګرځوي چې هغوی ځانونه دخپل هغه ځانګړي تمدن استازي اوګڼي کوم چې هغوی ته اسلام راوړی، په دې کې دزرې اومره شک نشته چې د هغو روڼ اندو دیني عقاید دې نه وي مضمحل شوي چاچې دغربیانو په څېر پوهه حاصله کړې.(islam at the crossrods.۸۳.۸۴)

بیا نو موږي دتعلیم دبېلابیلو اجزاوو په اړه جلا ،جلا نظریات وړاندې کړي او لیکي:

دغربي ادبیاتو تدریس چې اوس مهال په کوم شکل په ډېرو اسلامي هېوادو کې جریان لري دا به ددې پرته چې داسلام او مسلمانو ځوانانو په نظرونو کې دې یو اجنبي څېزکینوي بله فایده ونلري، دا خبره ډېره داروپایي فلسفې د تاریخ په اړه دپام وړه ده ځکه داروپایي تاریخ پخوانی نظریه داده چې: په نړۍ کې یوائې دوه ډلې وې رومي (ROMANS) او وحشي (BARBARIANS) په دې ډول دتاریخ وړاندې کولو څخه یو پټ غرض دی چې څو ثابته کړې چې غربي ولسونه او دهغوی تمدن له هرچا نه ډېر پرمختللی دی! کوم چې تردې مهاله په نړۍ کې شتون لري او په راتلونکې کې هم شتون به ولري، څو په دې پلمه لویدیځ ځانته په نړۍ کې

دمادي واک او ځواک ترلاسه کولو اخلاقي جواز پیدا کړي او په دې اراده کې ځان حق په جانب ثابت کړي.

وړاندې لیکي:

دتاریخ دغه ډول تدریس دځوانانو په مغزو کې ددېنه علاوه بل اثر نه پرېږدي چې هغوی دکمترۍ په احساس کې مبتلی کړي او خپل ټول تاریخي دور او کلتور ته دحقارت په نظر وګوري او په راتلونکي کې دهغه دترقۍ او اوپراختیا د ړنو امکاناتو څخه انکار وکړي اوپه دې ډول هغوی یو داسې منظم تربیت واخلي چې پکې ورته خپله ماضي او خپل راتلونکی دواړه حقیر وبرېښي! دهغوی په اند د دوی راتلونکی بری یوازې په دې کې دی چې هغوی دغربي معیار سره برابر او له غربي افکارو سره هم آهنګ وي (P.۹۷)

نوموړي وړاندې درومي او په خورا جرئت سره لیکي:

که مسلمانانو په ماضي کې دعلمي، څېړنیزو او فکري خدمتونو د پامه وغورځولو تیروتنه وکړه نو په دې کې هیڅ شبه نشته چې دهغې تیروتنې د اصلاح طریقه دانده چې دغرب تعلیمي نظام دي چې څنګه دی هغسې دي قبول کړي، زمونږ ټوله تعلیمي پسمانده ګۍ اوعلمي کمزوري ددې مهلک اثر په وړاندې کوم حیثیت نلري کوم چې دغرب دتعلیمي نظام ړانده تقلید داسلام په مخفي ځواکونو غورځولی، که مونږ داسلام جوهر یوازې دا بولو چې ورباندې پوشو او خوندي یې کړو چې هغه یو مستقل کلتوري عنصر دی نو مونږ لپاره به اړینه وي چې دغربي تمدن دذهني ماحول اوفضا نه لیرې اووسو هغه فضا کومه چې زمونږ په ټولنه اوزمونږ په خواهشاتو د غلبې مندلو لپاره تیار ده، دلویدیځ دکړو وړو او طریقو پخپلولو دهغوی دلباس او دژواندانه د مظاهرو په قبلولو سره کرار کرار مسلمانان دلویدیځ د فکر په قبلولو به مجبورشي دبهرنیو مظاهرو تقلید به یې د هغه ذهني تقلید ته ورسوي(۹ .p) ددې نتیجې وړاندوینه ځینو هغو مفکرانو هم وړاندې کړې څوک چې په اسیا او شرقي هېوادو کې غربي تعلیمي نظام ته ترویج ورکونکي ګڼل کېږي مشهور انګریز لیکوال لارډ میکالي څوک چې په ۱۸۳۵ز کې د دغه تعلیمي کمیټې مشرو، هغه ددې پروسې بشپړولو لپاره کینول شوی و چې هندوستانیانو ته دختیځو ژبو په ځای په انګریزې ژبه لیک لوست او زده کړې وروښیي، پخپل راپور کې هغه لیکي:

مونږ ته یوه داسې ډله جوړول پکار دي چې هغه زمونږ او زمونږ دڅو ملیارد رعایاوو ترمنځ ترجمانه اووسي داسې ډله روزل پکار ده چې درنګ او او وینې له پلوه هندوستانیان وي خو دمزاج، ذوق، رایې، الفاظو او پوهې له پلوه انګریزان وي(تاریخ التعلیم دمیجرباسو ۸۷مخ)

دا غربي تعلیمي نظام په حقیقت کې ختیځ او شرقي هېوادونو کې یوه ژور قسم لیکن خاموشه نسل وژنه(Genocide) وه غربي پوهانو له جسماني پلوه دپوره نسل وژلو او هلاکولو دپرسوده زړې طریقې په پرېښودو پخپلو قالبونو کې دهغو دځایولو پرېکړه وکړه اوددې کار لپاره یې ځای په ځای مرکزونه جوړکړل چې هغه دپوهنتونو او لیسو په نومونو ونومول شول او ابناد اکبر الآبادي دغه څرګند تاریخي حقیقت پخپل ځانګړي ظریفانه شاعرانه سبک اولهجه کې ښه انځور کړی دی دنوموړي مشهور شعر دی:

یون قتل سی بچون کی وه بدنام نه هوتا
افسوس کي فرعون کو کالج کي نه سوچي

په یوبل شعر کې وایي:

مشرقي توسرِ دشمن کو کچل دیتی هی
مغربی اس کي طبعیت کو بدل دیتي هی

دهغـه نـه څـو کالـه وروستـه اقبـال (چـاچې ددي تعليمي نظام زخم پخپله خوړلی) دغه حقيقت نور هم په ښه په زړه پوري ښه وړاندي کړ:

مباش ايمن ازان علمی که خوانی

که ازوی روح قومی می توان کُشت (ارمغان حجاز ۱۴۴مخ)

تعليم دقالب ماهيت لري څنګه چې يو قالب مات شي په ځای بل قالب جوړ شي وايي:

تعلـيم کـه تيـزاب ميـن ډالا اس کـي خـودی کـو

هو جائے ملائم تو جدھر چاهي اسی پھر

تاثير مين اکسير سی بڑه کرهی يه تيزاب

سونی کا هماله هو تو مٹی کا هي اک ڈهر

(ضرب کليم)

نوموړی دغـرب تعليمـي نظام ددين او اخلاقو په ضد يو سازش بولي وايي:

اوريـه اهــلِ کليسا کانظــام تعـليم

ايک سازش هی فقط دين ومروت کي خلاف

اقبال له هغو څو ګوته په شمار بختورو شخصيتونو څخه دی چاچې دغربی نظام تعليم په سمندر کې غوپه وهلې او بيا تري راپورته شو ی او نه يوائې داچې سهي سـالم سـاحل تـه رسيدلی، بلکې لـه ځـان سره يې ګڼې ملغرې د سمندر د تل نه را ويستلې، دهغه په ځان باور او داسلام په ابديت او دهغه په پراخو مضمراتو کلک ايمان و، اګرکه دا ويل به مشکل وي چې نوموړي دغربي تعليم او غربي فلسفي اثر ندی قبول کړی! دنوموړي ديني فهم دکتاب او سنت سره پوره برابر دی، خو په دې کې شک نشته چې دنمرود اتش لمبود زرګونـه ځوانانو پشان داقبـال خپلـو اک شخصيت نـدی سيزلی او تر ډېره ځايـه هغه ته ددي ويلو حق حاصل دی چې و وايي:

طلسم علمِ حاضر را شکستم

ربودم دانـه و دامش ګسستم.

خدا دانـد که مانند براهيم

بنارِ او چه بي پروا نشستم (ارمغان حجاز ۷۰مخ)

ددې نوي تعليم او دهغه اغيزو په اړه دمولانا محمد علـي جـوهر شـهادت هـم ډېـر ارزښـتمن دی چـاچې پـه يو راسخ العقيده ديني چاپيريال کې روزنه مندلې او بيا دهندوستان په لوړو غربي تعليمي مرکزونو کې زده کړې پيل او سرته رسولې هغه پخپل لاس ليکلو سوانحو کې ليکلي:

برتـانوي دولـت دبشـپړې مـذهبي بيطرفـی قايـل او علمبردار و، مذهبي تعليم څه چې اخلاقي تعليمات يې يو مخ وويستل ،دې پالسې ته يې دومره عملي ښه ورکړه ،چې هغه معلومات چې هلکانو بـه پخپلـه لـه انګريزې او يا ختيځو ژبولـه درسي کتابو اخذ کول ممنوع وګرځول

بـل پلـو هغـه تعليمـي نظريـه کومـه چې حکومـت دهندوستان ځوانانو ته راوړې وه "جديديت" وخو دخپلو تخريبي صلاحيتونو ترڅنګ تـول زوريـې پـه دې و چې دشاګرد دننه د يو بې ځايه همه دانی احساس پيدا کړي او دپيريوپخوانـو توهمـاتو ترڅنـګ دروايـت، سـند او حجت تـول عظمتونـه ونړوي پـه دې کې شـک دی چې دزماني رفتار سره يو ځای دغه تعليم دحقيقت په تلاش او جسـتجو کـې د مخلصـانه جذباتو درا ويښـولو لامـل وګرځيـد دپخوانيـو توهمـاتو پـه بدلـه کې چې کـوم څـه ورکول هغه پخپله په بي بنسټه توهماتو بنا وو هو! ضرور لږ نوي وو (my life fragment.p.۲۳.۲۴)

نور بيا....

چنګیزخان څوک و؟

وسیم

چنګیز خان په تاریخ کی یو وحشي او بی رحمه او خونړی مغولی سوبمن (فاتح) سردار او واکمن تیر شوی دی، تاریخونو د ده اصلی نوم تموچین راوړی دی، ویل کیږي چې نوموړی د اوسني مغلستان (منګولیا)د هیواد د ګوبی د صحرا (دښتې) په هنتی نومي سیمه کې په (۱۱۶۰ زیږدیز) کال زیږیدلی، پلار یې (یسوګی)او نیکه یې (کبلی خان) نومیدل، په دیارلس کلنۍ کې یې پلار د تاتاریانو له خوا ووژل شو او د ده د قبیلې مشرانو دی د ده ورونه خویندې او مور دښتو او صحراو ته تبعید کړل، ده وروسته د یوې قبیلې له سردار جاموخان سره دوستانه اړیکې ونیولې خو وروسته بیا د خپل پلار له یوه ملګري اونګ خان سره چې هغه هم د یوې قبیلې سردار ا مشر_ و ،د ده د دوستۍ مزي او اړیکې ټینګې شوې، هغه د چنګیزخان هر کلی وکړ خو بیا وروسته د دغې قبیلې د سردار اونګ خان او دد ه ترمنځ اختلافونه رامنځ ته شول او اونګ خان او زوی یې سرنګون او و وژل شول.

په ۱۲۰۶ ز کال دده د قوم مشرانو تموچین د سترخان او مشر_ په توګه وټاکه او ستر روحاني (کوکوچو) ده ته د چنګیز خان لقب ورکړ چې سخت او پیاوړي ته ویل کیږي، چنګیز خان نهه دیرش کلن و چې د پاچاهي پرتخت کښیناست او لومړنی کار یې چې وکړ د نورو قبایلو ځواک او قدرت یې محدود کړ، ده یو پیاوړی پوځي جوړښت رامنځ ته کړ، ده خپل پوځ له لس زریزه پوځي ډلو نه جوړ کړ چې تومان به ورته ویل کیدل او بیا یی هر تومان په زرو پوځی ډلو وویشل چې هزاره به یی ورته ویل، ده یو داسی پیاوړی او منظم پوځ جوړ کړ چې ساری یې نه درلوده، چنګیز خان په ۱۲۱۸ ز کال خپل یرغلونه پیل کړل او د نړۍ د نیولو په فکر کې شو، ده پرچین روسیې افغانستان ایران او منځنی ختیځ بریدونه وکړل ، دی به چې هر ښار ته تلو نو د خلکو کورونه عبادت ځایونه مدرسې جوماتونه او کتابتونونه به یې ورانول او سوځول او پر انسانانو څه چې پر حیواناتو او سپیو او پیشوګانو یې هم رحم نه کاوه، د چنګیز په خونړیو بریدونو کې دمنځنۍ اسیا د سمرقند بخارا او مروې ښارونه چې د اسلامي ثقافت او کلتور یوه بېلګه وه د خاورو سره برابر او د دغو ځایو سم نیمایي خلک پکښې ووژل شول، ده د افغانستان د بلخ ښار چې ام البلاد (دښارونو مور) یې ورته ویل او هرات ښار تباه کړل، ده د ایران په نیشاپور او نورو ښارونو کې هم خونړي کارونه تر سره کړل او په بغداد کې عباسی خلافت د ده د لمسی هلاکوخان له خوا له منځه لاړ، چنګیز خان ډیرې میرمنې درلودلې چې د خپلو دغو میرمنو نه یې ډیر اولادونه درلودل، خو په تاریخ کې د ده دغه لاندینی زامن ډیر مشهور دي، جوجی ،جغتای، او ګتای او تولی چنګیز ۲۵ کاله واکمنی وکړه او د دری اویا کلونو په عمر مړ شو، دده تر مړینی ورسته دده زوی اوکتای د چنګیز پر ځای واکمن شو.

په ترکیه کې ناکام بغاوت او کامیاب قیادت

حسن مومند

دجولای په ۱۵نېټې دجمعې په ورځ دترکې ولس په عادي ژوند کې مصروف و؛ هیڅ‌ادکومې نوې لویې پېښې تمه نه لرله اونه یې څه نښې ښکارېدې ؛ ناڅاپه دترکې تاریخي ښار استنبول ته دټانکونوقطار راننوت چې مخکې وروسته ترې فوځي لویې لارې روانې وې اوپدې لاریوکې په عصري وسلوسمبال فوځیان داسې ښکارېدل لکه چې دجنګ ډګرته روان وي ؛فوځ په لږ ساعت کې د استنبول په مرکزي پلونواوسرکونو ټانکونه اوفوځي لارې ودرولې او دباسفورس هغه پول یې هم قبضه کړ چې داستنبول دآسیااواروپابرخې سره یوځای کوي ؛ په څولمحو کې ایف ۱۶ ډوله الوتکې راښکاره شوې او ورسره یوځای جنګي هلیکوپټروهم تیټ پروازونه پیل کړل ؛ په همدې وخت کې داستنبول ترټولولوی داتاترک هوایې ډګرته ټانکونه ننوتل اوفوځ په بشپړ ډول داډګر قبضه کړ ؛ ددولتي تلویزون خپروني بندې کړای شوې ؛ دصدارت ماڼۍ نه فوځ تاوشو؛ فوځ لوی درستیزجنرال هولوسي په خپل فوځي مرکزکې برمته کړ اوځنې نورې دولتي ودانۍ یې هم ونیولې.

دشپې د۱۱ نه پس فیس بک ، ټویټر اویوټوب بندکړای شول او فوځ دترکې دمنتخب دولت پرضد رسماًبغاوت اعلان کړ دتلویزون له لارې یې اعلان وکړچې فوځ پرټول هېواد واکمن دی ؛ په هېوادکې بیړني حالت اعلان شویدی اودولتي چارې دامن یوه واکمنه شورى مخ په وړاندې بوځي ؛ دفوځیانو دې باغي ډلې دا اعلان هم وکړ چې هېوادکې به له دې نه پس نوی اساسي قانون رائج شي .

دفوځ دکودتا داعلان سره سم داستنبول په زیاترو برخو کې ډېره لویه چوپتیا خپره شوه ؛ خولږساعت پس داچوپتیا ماته شوه ؛ دتقسیم په څلورلاري کې ددولت دحامیانواوباغي فوځیانوترمنځ نښتې پیل شوې چې پکې ګڼ ولسي وګړي مړه اوټپیان هم شول.

دکودتا پرمهال ولسمشراردګان په تفریحي ښار مار مریس کې و چې له هماغه ځایه دیومختصرویډیویې پېغام په خپرولووتوانېدچې پکې یې له ولس وغوښتل چې له کورونو دې راووځي او ددولت پرضد دې فوځي بغاوت ناکام کړي .

نړۍ ولیدل چې دطیب اردګان دیوپېغام خپرېدوسره سم دترکې ولس سرکونوته راووت ؛دمرګ اوډردنه بې پروا داخلک دټانکونومخې ته څملاستل اودفوځ مخه یې ونیوله .

دفوځ او ولسي وګړوترمنځ ټوله شپه نښتې روانې وې چې پکې له ۱۵۰ زیاتو ولسي- وګړوخپل ژوندله

لاسه ورکړ ؛ ترسهاره فوځ دولس په مقابل کې دمقاومت توان له لاسه ورکړ اوپه ځمکه يې وسلې اېښودل پيل کړل ؛ دفوځ سره چې په کوموځايونوکې ټوله شپه نښتې شوې وې سهارپه هماغو ځايونو کې دفتحې اوخوښۍ جشنونه اوددولت په حمايت کې لاريونونه روان وو.

په ترکيې کې دناکام بغاوت نه پس چې بېړنۍ حالت اعلان شوی واوترننه دوام لري په ترڅ کې يې په بغاوت کې دککړوتنانوپرضد دعملياتولړۍ لاجريان لري؛ تراوسه د۱۱۸ جنرالانوپه شمول ۷۵۰۰فوځيان نيول شويدي او۱۵۰۰قاضيان او۸ زره پوليس دخپلودندونه گوښه کړای شويدي ؛ تراوسه د ۵۸ زرونه زيات تنان ددولت دعکس العمل سره مخامخ شويدي ؛ ددې لويې شمېرې نه داڅرگندېږي چې په بغاوت کې يوازې فوځ نه بلکې ددولت دنورو ارگانونوسره تړلي افرادهم شريک دي چې شايد ډېرژر له ټولوپرده پورته شي.

فوځ دهرهېوادترټولوستره سرمايه اويوازنۍ هغه دفاعي طاقت گڼل کېږي چې وجودته دراتلوسره سم يې دا ويل کېږي چې تري به دبهرنوخطرونونه ددفاع کار اخستل کېږي خوعموماًد دريمې نړۍ اوپه ځانگړې ډول داسلامي نړۍ په زياتروهېوادونوکې همدا فوځ دنوروپه لمسون دمنتخبو ادارو دړنگولو ، دولسي پاڅونونودځپلو اود هېوادوالو دوژلو اوزنداني کولولپاره کارول کېږي ؛ تقريبا په هرځای کې فوځ ټاکلواهدافوته پر رسېدلوبريالي کېږي اوکله هم ندی ناکام شوی چې له دې وړاندې په همدې ترکيې کې هم ۳ ځلې فوځ بغاوت کړی اوهرځل يې په ډېرې اسانۍ دولت ړنگ کړيدی.

داحقيقت دی چې دکمزوري اوبې وسلې ولس لپاره دوسله وال خونخوار فوځ په مقابل کې بريالیتوب اسان کار ندی ؛ بس داړومبی ځل دی چې فوځ د ولس په مقابل کې دناکامۍ سره مخامخ شو اويوازې دناکامۍ سره دمخامخ کېدلوپورې خبره پاتې نه شوه بلکې د ترکيې هغه فوځيان چې ترپرونه يې ځانونه دترکيې مالکان گڼل نن يې ټول عالم د ولس په مقابل کې دبې وسۍ اود ولس په لاس د بې عزتۍ ننداره کوي.

هغه فوځ چې دعزت ،رعب اودهشت علامه گڼل کېدله نن دشرم اوبې عزتۍ مثال گرځېدلی دی .

پرکوم فوځ چې دداخله وزارت پوليس گولۍ وه وروي ؛دکوم فوځ نه چې بې وسلې خلک وسلې واخلې اودوهلواوټکولوترځنگ تر ي فوځي يونيفارم وباسي هغه فوځ ته به څه مورال ورپاتې شي ؟

داداسې ستره بې عزتي وه چې تاريخ کې به يې ساری نه وي ؛ دې دترکيې دفوځ مورال دخاوروسره خاورې کړچې تريوحده به دا ددولت لپاره هم دتشويش وړخبره وي ؛ دولت به غواړي چې دخپل فوځ عمومي مورال اوچت کړي خوژربه پرې ونه توانېږي .

پوښتنه داده چې دطيب اردگان په يوپيغام اويواوازکې دادومره زيات طاقت له کومه ځايه راغلو ؟

دترکيې ولس ولې دده داداري دساتنې لپاره دسرونوقربانۍ ته تيارشو؟

کوم حاکمان چې اوږد حکومت وکړي عموماًترې ولس ناراض وي اودنوي حاکميت راتلوته خوشالېږي ، دلته ولې طيب اردگان سره داوږ

حکومته نه یواځې داچې خپل محبوبیت له لاسه ورنکړبلکې ورځ تربلې پکې زیاتوالی راغلو ، داسې زیاتوالی چې ولس یې دسرونوپه قرباني بقاغواړي ؟

ددې پوښتنولنډجواب دادی چې په کامل اخلاص دخپل هېواد او ولس خدمت دطیب اردگان ددې دومره لوی محبوبیت اومقبولیت سبب شویدی .

طیب اردگان د۲۰۰۲م نه تر ۲۰۱۴م پورې په مسلسل ډول درې ځلې په انتخاباتوکې بریالی او دترکې لومړی وزیرمنتخب شو؛ اوبیا چې دصدارت لپاره انتخابات ترسره شول نوپکې په قاطع اکثریت کامیاب اونوروگوندونوته له احتیاج او ورنه دمرستې غوښتلوپرته دترکې ولسمشر- شو.

دطیب اردگان دامسلسل بریالیتوبونه او اوس دهغه په یواواز اویوپیغام سرکونوته دولس راوتل اودمرگ اودردنه بې پروادفوځ په مقابل کې داسې کلک ودرېدل چې ټانکونواوجنگي هلي کوپتروهم داردگان دحمایت نه پشاکېدلو اوخپلو کورونوته ستنېدوته اړ نکړای شول بلکې پخپله ټانکونه اوطیارې پشا کېدلوته اړ شوې .

دامسلسل بریالیتونه او دولس داکلک حمایت څه د رسنیوله لورې ده ته دزیات شهرت ورکولو؛ بیوروکراسۍ کې دهغه اوج ته درسېدلو یادمخالفینوسره په سیاسي سوداگانوکې دکمال درجې ته درسېدلو له امله ندي بلکې دولس دبې مثاله خدمت ؛ په خپلوپښودترکې دودرولو اوپه نړۍ کې دترکې دخپل مقام دحصول لپاره دکامیابوهلوځلوپه نتیجه کې داهرڅه رامنځته شویدي .

دا مسلسل بریالیتوب او بې ساری ولسي حمایت یې ځنې تنان په خپلو لیکنوکې داسې تعبیروي لکه چې دترکې د ولس په افکارو کې دمثبت بدلون او پراخ مذهبي تمایل یواځنۍ پایله وي ؛حال دا چې خبره داسې نده .

هو! دا دخوښۍ ځای دی چې واک دعدل اوپرمختگ گوند درسېدلونه پس په ترکې کې داسلام دنشأة ثانیه نښې راښکاره شویدي؛ داسلامي شعایرو قدر مخ په زیاتېدو دی؛دسیکولرزم پرضد نفرت او اسلامي لار ښوونو ته ژمنتیا هم ورو ورو په خلکو کې ډېرېږي او دولت هم په تېرو کابو۱۵ کلونو کې داسلام او مسلمانانو په گټه گڼ اقدامات ترسره کړي دي خو ددې هر څه سره لاهم په ترکې کې دسیکولرزم رېښې پوره کمزورې شوی ندي او په ۷ لسیزو کې ترکرغېړن چتر لاندې پیدا شوي او راستر شوي ترکان دومره ندي بدل شوي چې ځوک دې ورنه داسلام په نوم رایې وغوښتلای شي ؛ یا دې کوم گوند ته یواځې له همدې امله زیاتې رایې ورکړي چې اسلام خوښی دی اویادې دیودولت ترشا له دې امله کلک ودرېږي چې دمشرانوپه اړه یې دامشهوره ده چې داسلام سره ډېره مینه لري .

موږ دا منو چې دترکې دینداري طبقې به دنیوي خبرې په پام کې نه وي نیولې او یواځې داسلام سره دمینې پربنسټ به یې هرځل طیب اردگان ته رایې ورکړې وي خو دترکې عامو خلکو دعدل او پرمختگ دگوند دمشرانو دخپل هېواداوملت سره اخلاص ، ددوئ خدمت،دفساد پرضد اوږدې مبارزې،ټولنیزو اصلاحاتو، دترکې داقتصادي پرمختگ لپاره کامیابو پروگرامونو او هڅو ته لېدلې

او له همدې امله يې هرځل زياتې رايې وركړيدي اوترننه يې ترشا ولاړ دی .

دايقيني خبره ده چې ولسونه دحاكمانوكړنوته ګوري اوهماغسې غبرګون ښايي .

اردګان په ۱۹۹۴ کې دسياست ډګر ته راووت ؛ دنجم الدين اربكان درفاه ګوند ديوفعال غړي په حيث يې دښاروالۍ‌لپاره په ترشويوانتخاباتوكې ګډون وکړ اوپه انتخاباتوكې دبرياليتوب نه پس داستنبول ښاروال شو دتاريخي ښار استنبول ښاروال كېدل دده لپاره دښه خدمت ، شهرت،مقبوليت او په مستقبل كې دبرياليتوبونو دترلاسه كولو ښه موكه وه چې ده هم ددې ښې موكې نه ښه ګټه پورته كړه او هغه ټول څه يې ترې ترلاسه كړل چې بايد ترلاسه كړی يې وای .

استنبول دنړۍ دمشهورو ۱۰ښارونوڅخه يو دی خو داردګان دراتلونه وړاندې ددې ښارحالت پر هغه لور روان شوی وچې نوريې دشريفو وګړولپاره داوسېدو قابليت له لاسه وركاوه؛ له هرڅه پکې دقماربازۍ مركزونه ؛نايټ كلبونه ؛دشراب څښلو اوفحاشۍ اډې زياتې وې؛ بد امنې پکې دې حد ته رسېدلې وه چې په رڼا ورځ به هم لاروكوڅو كې خلک لوټ كېدل او ککړتيا يې دومره زياته شوې وه چې دلته دسيلانيانوراتلل ورځ تربلې كمېدل.

اردګان چې داستنبول ښاروال شوهغه مثبت بدلونونه يې راوستل چې هغه بايدكارنامې نه بلكې تاريخي كرشمې وبلل شي ؛ په ډېر زړورتوب يې دفساداوتولوبداخلاقيو دمخنيوي لپاره عملي ګامونه پورته كړل ؛پدې لاركې يې دولسمشرخنډ كېدل هم ونه منل او نه يې دهغه څه پروا ولرله ؛استنبول چې داداري فساداورشوت خورۍ په زالې بدل شوی وونه يواځې داچې پدې ښاركې يې اداري فساد صفرته راكوز كړبلكې دفلاح عامه ګڼې پروژې يې پيل اوپه ډېر برياليتوب يې سرته ورسولې ؛ په استنبول كې دترانسپورت ډېره لويه ستونزه وه هغه يې حل كړه ؛ فضايې ککړتيا يې له منځه يوړه ؛ ددولتې ښوونځيومعيار يې لوړ كړ؛ دښاري پوليسونه په ښه كار اخستويې مثالي امن راوستلو؛ دارزانه توكيوخصوصي سيكتور يې قائم كړ اونورګڼ داسې مثبت بدلونونه يې رامنځته كړل چې له امله به يې هغه په تركې كې دښه ماموريه صفت دنمونې په توګه وړاندې كولای شو.

داچې داستنبول دښاروال په صفت دهغه همدې خدمتونو هغه ته ښه شهرت وروبښلو نو چې هغه كله درفاه ګوند پرېښود او په ۲۰۰۱ م كال كې يې دعدل او پرمختګ ګوند بنسټ كېښود نو په راتلونكي كال كې په تركې كې په ترسره شويو انتخاباتو كې يې حيرانونكې كاميابي ترلاسه كړه او هغه دلومړي ځل لپاره دتركې لومړی وزير شو؛د ۲۰۰۷م په ترسره شويو انتخاباتو كې يو ځل بيا د عدل او پرمختګ ګوند برياليتوب ترلاسه او طيب اردګان د دوهم ځل لپاره د تركې لومړی وزير شو او په دريم ځل چې بيا په۲۰۱۱م كې انتخابات ترسره شول نوسره له دې چې مخالفينو ستر اتحاد جوړ كړی او د طيب اردګان دراپرزولو لپاره يې ډېرې زياتې هڅې كړې وې خو بيا هم د طيب اردګان ګوند دانتخاباتو ګټونكی شو،طيب اردګان په دريم ځل هم د تركې لومړی وزير شو او خپلې درې واړه قانوني دورې يې د يوپه بل پسې په پرلپسې ډول په ډېرې كاميابۍ پوره كړې .

د طیـــب اردگـــان د دې ټولـــو کامیـــابیو ترشـــا د هېـــواد دهـــر ډول پرمختـــګ لپـــاره د هغـــه نـــه ستړې کېدونکې پرلپسې هلې ځلې دي ؛هغـه او د کار ډلې یې د هـر بریـالیتوب نـه پس د تېر ځل نه په راتلونکي کـې پـه زیات اخلاص دډېر خدمت په هوډ کـار پیل کـړی، تـل یـې خپـل مستقبل تـه کتلي دي ؛ ماضي یـې هېـره کړیـده او که رایاده کړی یې ده نـو یـواځې د دې لپـاره چـې پکـې شـوې خطاګـانې پـه راتلـونکې کـې بیـا تکـرار نـه شي. په ۲۰۰۲م کې چې د عدل او پرمختګ ګوند واک ته ورسېد، تر ننه پـه واک کې دی ؛په دې تېرو ۱۴کلونو کې چې دې ګوند په ترکې کې کوم پرمختګونه ،اصلاحات او مثبت بدلونونه رامنځته کړل فهرست یې ډېر اوږد دی چې پدې کـوچنی مقـالې کـې د ټولـو یـادول ناشوني دي خو کـه یـواځې اقتصادي پروګرامونو او پرمختګونو تـه ځغلنده کتنه وکړو نو هغه هـم خـورا ستر، لـه تمو ډېر پورته او حیرانونکي دی.

د طیب اردګـان همـدې کامیـابو اقتصادي پلانونو که له یـوې خـوا پـه اقتصادي لحاظ دا وروسته پاتې ترکیه په پرمختللې ترکې بدلـه کـړه نـو بـل لورته یې پـه ولـس کـې د اردګـان پـه محبوبیت کې تر ټولـو زیاتـه ونـډه ادا کړه .

واک ته درسېدلو سره سم طیـب اردګان ستري ملي پـروژې پیـل او پـه عالي نظم او لوړو تخنیکـي مهـارتونو یې تکمیل کړې.

په ۸۰ یمـې او ۹۰ یمـې لسیزې کې دترکې اقتصاد دسخت تنزل ښـکار و اوپـــدې وروســـتیوکلونوکې چـــې دیونـــان داقتصـــاکوم نـــا وړه حالـــت و دترکې داقتصـاد حالـت هـم همـدې تـه ورتـــه و ؛ دولـــت خپلـــو مامورینوتـــه دمعاشاتو ورکولوتوان هم نه درلودلـو؛ مامورینوته به معاشات هـم د (آی ایـم ایـــف) نـــومي نړیـــوالې ادارې نـــه داخســـتل شـــوو قرضـــونوله لارې اداکېدل .

دآی ایـم ایـف پـه نـوم دیهـودو نړیواله مالیاتي اداره هغه اداره ده چې دسودي قرضونو له لارې یې داسلامي نړۍ ټـول هیوادونـه یـرغمال کړیـدي ؛ ترکیه هم دهمدې هېوادونوپه قطـارکې ورشامله شـوی وه اوپـرې ددې ادارې دقرضـــــونوحجم ۲۴ ملیاردوډالروتـــــه رسېدلی و.

کله چې په ۲۰۰۲م کـې اردګـان لومړی وزیرشو نودارډګان ادارې ددې پورونو اداکولوته ملا وتړله تردې چې په ۲۰۱۲م کې یوملیاردډالروته راټیټ شول ؛ په همدې کال هغه دا هم اداکړل اوترځنګ یې دا اعلان هم وکړچـې لـه دې وروسته به مـوږ آی ایـم ایـف تـه لاس نـه وراوږدووبلکـې دنومـوړې ادارې داړتیا په صورت کـې بـه مـوږ پورونه ورکوو.

اوس رښتیا هم چې ترکیـه ددې وړ ګرځېدله ده چې ترې نوموړې اداره پورونو غوښتلو ته اړ ده.

په هماغه ړومبي ځل چې دطیب اردګـــان دعـــدل اوپرمختـــګ ګونـــد بریالیتوب ترلاسه کړنوداسې اقدامات یې وکړل چې په (جي .ډي .پي) یـانې مـلي عوایـدوکې ۶۴سـلنه بـې سـاري زیاتوالی راغلو، که دیوهېواد پـه مـلي عوایـدوکې د۷ نـه تـر ۸ سـلنې پـورې زیـاتوالی راشي داډېرلـوی پرمختـګ ګڼل کېږي نوځکه ۶۴سـلنه زیـاتوالي ټوله نړۍ حیرانه کړه .

د اردګـان دراتلـو سره سـم چـې دترکې اقتصاد پرمختـګ پیـل کـړی و نو چې له جرمني پرته پـه ټـولې اروپـا کې اقتصادي بحران رامنځتـه شـوی و

په هاغه شپو ورځو کې هم دترکې اقتصادي وده له ۵ فیصده لوړه وه؛ داردگان په تېرو ۳ دورو کې داسې کلونه هم راغلي دي چې اقتصادي وده پکې دچین داقتصادي ودې برابره یانې ۱۰ فیصده ته لوړه شویده ؛ په ۲۰۱۲ کې دترکې اقتصاد دنړۍ دترټولو تېزو اقتصادونو څخه یو و؛ په نړیواله سطحه دترکې اقتصاد ۱۷م اقتصاد ګڼل کېږي خو اردګان په پوره باور سره وایې چې تر ۲۰۲۰م کال پورې به دترکې اقتصاد دنړۍ دړومبي کرښې په ۱۰ اقتصادونو کې شمېر شي او تر ۲۰۲۵م کال پورې به دهر اوسېدونکی کلني عوایدله ۲۵ زروډالرونه کم نه وي یانې په اقتصادي لحاظ دنړۍ دترټولو پرمختللي هیواد داوسېدونکو دکلني عوایدو نه به دترکې داوسېدونکو عواید کم نه وي.

په ۲۰۰۲م کې دترکې په مرکزي بانک کې دشتو پیسو حجم ایله ۲۵ملیاردو ډالروته رسېدلو؛ په ۲۰۱۱م کې ۲/۹۲ ته لوړ شو او اوس په ۲۰۱۶م کې دمرکزي بانک پانګه ۱۳۵ ملیارده او۳۳۵ملیونوډالروته رسېدلې ده .

لیرا دترکې پولي واحد دی ؛ دتېروفاسدو دولتونو دحاکمیت پرمهال دبهرنواسعارو په مقابل کې لیراپه مسلسل ډول خپل ارزښت له لاسه ورکولوتردې چې په ۲۰۰۲م کې یو ډالر په ۲۲۲ لیروبدلېدلو ؛ واک ته دطیب اردګان د رسېدلونه پس دلیرا قیمت په ډېرې تېزۍ مخ په لوړېدو شو تردې چې نن یوډالر د۲ لیرواو۷۵ پیسویانې ۷۵/۲سره تبادله کېږي .

همدادطیب اردګان هڅې دي چې ترکیه نن په هغو ۹ بدایو اروپایي هېوادونوکې شمار ده چې تجارتي خساره یې ترټولو ټیټه ده .

طیب اردګان ښوونې او روزنې ته دومره توجو کړیده چې په ۲۰۰۲م کال کې په ټولې ترکې کې ۸۸ پوهنتونونه وو خو یواځې په ۱۰ کلونوکې یانې د۲۰۱۲م کال پورې په هېوادکې دپوهنتونونوشمېر۱۸۶ ته ورسېد ؛ یواځې په یوې لسیزې کې کابو ۱۰۰ پوهنتونونه جوړول ډېره ستره کارنامه ده .

د۲۰۰۲م کال نه وړاندې په ترکې ۲۶ کوچني اوستر هوایي ډګرونه وو خو واک ته دطیب اردګان درسېدونه پس تر نن په دې هېواد کې دهوایي ډګرونوشمېر ۵۰ ته ورسېدلو .

طیب اردګان ډېرې هڅې وکړې چې دهېواد ټولې برخې دلویوسرکونو له لارې دیوبل سره وتړي اوپه تلوراتلوکې ټولې ستونزې له منځه ولاړې شي ؛ هغه دخپل واک په مودې کې په ټول هېوادکې تر۱۷ زره ۵ سوه کلومتروپورې نوي سرکونه جوړ کړل او په ترکې کې یې دلومړي ځل لپاره دتېز رفتار اورګاډي پټلۍ وغزولې .

او په استنبول کې یې دملیاردونو ډالرو په لګښت دسمندر لاندې داسې ستر تونل جوړ کړ چې دځمکې له لارې یې آسیا داروپا سره وصل کړه؛دا تونل چې په یو وخت کې دلاریو،موټرو او اورګاډي دتېرېدو ظرفیت لري وجودته ددې تونل دراتلونه پس ترکې ته دځمکې له لارې دسیلانیانو په راتلوکې ډېر زیاتوالی راغلی او دتجارتي مالونو په صادرولو او واردولو کې هم ډېره اساني راغلې چې له امله یې دترکې اقتصاد ته بې سارې ګټه رسېدلې ده.

دنړۍ په کابو ټولو هیوادونو کې بې کاري ورځ تربلې زیاتېږي خو ترکې کې برعکس دکار مواقع ورځ

تربلې ډېرېږي نو ځکه دلته په باسواده ځوانانو کې دبې کارۍ کچه د ۱۵٪ نه ۹٪ ته راکوزه شویده او نور هم دراکوځېدو په حال کې ده.

دترکې بانکي نظام دومره په خپلو پښو ولاړ او ځواکمن دی چې هغه اقتصادي بحران چې دنړۍ ډېرې سترې اداري يې ديواليه کړې وې دترکې په بانکي نظام هيڅ ډول ناوړه اغيزه نه وه شوې؛په ترکې کې پولي انفلا سيون (داجناسوپه قيمتونوکې زياتوالی)د ۳۰ فيصده نه ۷.۴ ته راکوز شويدی چې له امله يې په ترکې کې دگرانۍ کچه ډېره راټيټه شويده.

اردگان يواځې دښارونو نه بلکې دښارونو او اطرافو دواړو پرمختګ ته برابره توجو کړيده نو ځکه ددې هيواد زراعت هم دومره وده کړيده چې له لارې يې ملي بوديجې ته راتلونکي عوايد د ٦۲ مليياردو ډالرو نه اوړيدلي دي.

داپرمختګونه اوترڅنګ يې اسلامي نړۍ ته دترکې دورنډې کولوهڅې اوپه ترکې کې داسلام دنشأت ثانيه تېزکوششونه امريکا ته دزغم وړنه وونوځکه په پرله پسې ډول داردگان داداري اودعدل اوپرمختګ دګوند دکمزوري کولولپاره شوم پلانونه په کاراچوي چې اوسنی فوځي بغاوت يوله همدې شوموپلانونوڅخه دی .

دامريکا په نوم دنړۍ ی هغه لوی شيطان چې په ټولې اسلامي نړۍ کې دبدامنۍ اورته لمن وهي اوس له چاپېره پاتې نده چې دترکې دبغاوت ترشاهم دهماغه امريکا لاس دی

اوس ډېرهغه دلايل په ډاګه شويدي چې په کودتاکې دامريکا لاس لرل په ډاګه کوي مثلاً دکودتا پرمهال چې دمارامیس په کوم ځای کې طيب اردگان شتون درلود،باغي فوځيانوته هغه ځای دامريکا جاسوسو ادارو وړپه گوته کړی و؛ باغيانو داردگان دوژلوهڅه وکړه خوپکې ناکام شول .

همدا راز په ترکې کې انجرلک نومي دامريکافوځي اډې کې دبغاوت پرمهال دباغي فوځيانوطيارې ښکته کېدلې اوخپلې دتېلوټانکۍ يې همدلته ډکولې .

دبغاوت پرمهال دامريکا ولسمشراوباما دبغاوت دغندلونه ډډه کوله خوچې کله ناکام شونوبيا يې دطيب اردگان حمايت وکړ .

همدارازچې کله دباغيانو اودباغيانوسره دمرسته کونکوپر ضدتصفيوي عمليات پيل شول نوامريکا اعتراضات پيل کړل.

دنړۍ په هرهېوداکې باغي فوځيان په نظامي محاکموکې محاکمه کېږي ، دطيب اردغان اداري هم دهمدې اصولوله مخې په بغاوت کې ککړ۱۴۹ جنرالان فوځي محاکموته وړاندې کړيدي چې پدې امريکا په ډېرې سپين سترګۍ خپل نارضايت ښکاره کړيدی اواوس درواني جولای مياشتې په ۲۸مې نېټې دامريکا دفوځ دمرکزي کمېټې مشرجنرال جوزف ويلې دي چې دګېوفوځي جنرالانو توقيف به دترکې اوامريکا ترمنځ روان فوځي تعاون اغېزمن کړي .

ديادامريکايي جنرال داڅرګندونې چې دترکې په کورنيوچاروکې بربنډه مداخله وه نوځکه يې په مقابل کې ولسمشراردگان سخت غبرګون وښود اوويې ويل چې :پرځای ددې چې دبغاوت په ناکامولومودترکې ددولت نه مننه کړی وای تاسودباغيانوحمايت کوئ ؟!

خولنډه داچې داسې ډېرزيات شواهد شتون لري چې ټول پدې جرم کې دامريکا داعانت ګواهي ورکوي .

دسوړجنګ په زمانه کې چې امريکا ددريمې نړۍ په ګڼو هېوادونوکې دکودتاګانوپه رامنځته کولوبريالۍ شوی وه تراوسه يې ددې کودتاګانوترشا پرلاس لرلواعتراف ندی کړی نو اوس به ددې ناکامې کودتا ترشا په لاس لرلو څه اعتراف وکړي ؟

دناکامې کودتا مثال خودحرامي ولد وي چې هرڅوک ترې ځان رانغاړي .

داسې موثق معلومات شته چې ځومياشتې دمخه دروسې ولسمشر-پوتين خپل سلاکار الګزاندر ډوګين په پټه انقرې ته استولی وچې هغه دترکې قيادت ته ويلي ووچې داردګان داداري پرضددامريکا په لمسون يو فوځي بغاوت کېدونکی دی ؛ نوموړي دځمکنواوهوايي ځواکونو دځينو جنرالانو او لوړپوړو افسرانو نومونه هم ددولت مشرانوته په کوته کړي وکوموچې ددې کودتا لپاره پلان جوړولو .

له همدې امله داردګان اداري د ۲ زره فوځيانو يوپټ لست عدلي ته ورکړ او ورځنې وېې غوښتل چې ددوئ پرضد دې قانوني کړنه ترسره شي ؛ خوپرځای ددې چې ددې کودتا دمخنيوي په موخه عدليه ددې فوځيانوپرضد په حرکت کې راغلی وای برعکس يې ځنې فوځي جنرالان ددولت ددې ارادې نه خبرکړل چې له امله يې دې فوځيانو په تادۍ کودتا وکړه .

په ترکې کې دفوځي بغاوت انکشاف روسې هغه مهال کړی و کله چې ځومياشتې وړاندې دروسې ايس يو ۲۴ ډوله جنګي الوتکو دراغورځولوپه موخه دوه ترکي پيلوټانوپه خپلومنځونوکې پټې خبرې کړی وې ؛ ددې دواړو پيلوټانو خبرې دروسې جاسوسوشبکوثبت کړی وې چې پکې دامريکا په لمسون دروسې دطياري دراغورځولو ذکر وچې په نتيجه کې په لويه پيمانه دترکې او روسې دروابطودخرابېدواوبيا دکودتا دکاميابېدوخبره هم شوی وه .

دالګزانډر ډوګين دراتلونه پس ښاغلي طيب اردګان دپوتين په نوم په استول شوي خط کې دترکې له لورې دروسې طيارې دراغورځولوپه پېښه بښنه وغوښتله چې له امله يې ددواړوهېوادونوپه روابطوکې ښه والی راغلو او داوسني بغاوت پرناکامۍ ولسمشرپوتين طيب اردګان سره تليفوني تماس قائم کړ او ورته يې دکودتا پرناکامۍ مبارکي وويله اودترکې سره دلا زياتومرستوکولو امادګي يې وښووله.

په اوسني بغاوت کې دامريکا دلاس لرلوپولوی دليل داهم دی چې هغه ترکی پيلوټ چې دروسې طياره يې رانسکوره کړی وه په اوسنۍ کودتا کې يې ډېره مهمه ونډه درلودله اوبل داچې په ترکې دامريکا فوځي هوايي اډه دهوايي بريدونه لپاره وکارول شوه اوناکامو باغي فوځيانو همدلته پناه واخسته چې له امله يې دطيب اردګان اداري ددې امريکايي اډې برق پرې کړ ځکه خو دبغاوت نه ۴ ورځې پس نړۍ ته دځان ښودلو لپاره اوباما طيب اردګان سره تليفوني تماس ټينګ کړ او دستونزې دسوله ايز حل غوښتنه يې ورځنې وکړه .

دبغاوت ترشا دامريکا لاس درلودل خو هسې هم اوس پټ پاتې ندي خو داسې ښکاري چې دايواځې امريکا نده بلکې اروپايي هېوادونوهم دکودتا کاميابي اواردګان داداري

رنګېدل غوښتل نوځکه دکودتا پرناکامۍ په اروپاکې ډېره مایوسي خپره وه اورسنیودارډګان پرضدډېرپوچ تبلیغات کول.

د کودتا دمخنیوي اودامن دقیام لپاره چې څرنګه طیب اردګان په هېواد کې د۳ میاشتولپاره بیړنی حالت اعلان کړنواروپايي اتحاد(چې دکودتا په ناکامۍ سخت ناهیلی و) غوغاجوړه کړه اوددې اتحادکمشنرجوهانس او دباندنیوچاروشر فیډریکاموګریني وویل چې طیب اردګان دترکې دقانون داصولو خلاف دمخالفینو دتصفې اوتطهیر لړۍ پیل کړیده چې دادانساني حقوقوضد عمل دی نودمنلو وړندی.

باغي فوځیانوکابو۳ سوه پولیس اومظاهرچیان ووژل ؛ دترکې دقانوني اومنتخب ولسمشرد وژلوهڅې یې وکړلې خوپکې ناکام شول ؛ دهېواد لوی درستیزيې برمته کړ ؛ په پارلمان اودملي امنیت په ودانیویې بمباروکړ اودیومنتخب قانوني حکومت درانسکورولو هڅې یې وکړې ؛ دیومهذب ولس په منځ کې اوپه هغه هېوادکې چې پکې دقانون حاکمیت وي داډېرستر جرمونه دي ؛ددې قاتلینو او مجرمینو پرضدچې اوس اصولي اوقانوني هراقدام کېږي اوهرڅومره سخته سزاورکول کېږي هیڅوک پرې باید اعتراض ونکړي اونه داعتراض حق لري .

خواسلام دښمنې لویدیځې نړۍ ته وګوره چې پټوسترګودقانون په حاکمیت اعتراضونه کوي اوخپله اصلي څېره خلکوته ښکاره کوي ؟!

په نا اسلامي نړۍ کې ددې جرمونوپه پرتله په ډېرو کوچنو جرمونو سختې سختې سزاګانې ورکول کېږي ؛ دملګروملتونوداداره ؛ لویدیځه ټولنه اروپايي اتحاد؛ دبشرد حقوقو اداري او نه یې هم بل څوک نه پرضد آواز اوچتوي اونه یې ظلم ګڼي خودترکې په څېر په اسلامي هېوادکې بیا داټول معیارات بدل وي ؛ سترمجرمین چې دقانون منګلوته دسپارلولپاره نیول کېږي نوبیاياداتحادونه اواداري غوغاجوړه کړي اوداسې تبلیغات پیل کړي لکه چې دبېخې بې ګناه انسانانوپرضدپه هغه هېوادکې ددولت له لوري لوی ظلم روان وي.

داروپايي اتحادبې انصافۍ ته وګورئ چې په فرانسې کې دنومبر دپېښې نه پس دولت پدې هېوادکې د٦ میاشتولپاره بیړنی حالت اعلان کړچې په ترڅ کې یې دفرانسې پولیس اوفوځ په لویه پیمانه تیونسي ـ الجزائري اومراکشي نژادي فرانسوي مسلمانان نیسي اوزندانونوته یې وړي ؛ په ټوله کې ټولو مسلمانانوته دشک په نظرکتل کېږي اوله خبرورکولوپرته یې کورونوته امنیتي ځواکونه ننوځي ؛ فرانسې دالړول شوی بېړني حالت د٦ نورومیاشتولپاره هم تمدیدکړ ؛ دفرانسې ددې ظلم په مقابل کې داروپايي اتحادله لورې هیڅ عکس العمل رامنځ ته نه شو؛خوپه همدې ورځ چې په ترکې کې طیب اردګان د ۳ میاشتولپاره بېړنی حالت اعلان کړ نود اروپايي اتحاد چغې تر اسمانه پورته شوې ؛ دبې ایمانۍ ، دروغجنتوب ،فریبکارۍ اودوه مخیتوب هم څه حدود اوپولې وي ؛ متأسفانه چې په اسلام اومسلمان دښمنۍ کې لویدیځ له دې ټولو پولو اوړي .

دفرانسې نه څوک ولې نه پوښتي چې ددوهم نړیوال جنګ نه پس موولې دهېواد سره دغدارۍ په تورخپل پخوانی دباندنیوچارو وزیرپه

همېشني حبس اوخپل ولسمشرد مرگ په سزامحکوم کړ؟

همدا راز داپوښتنه هم ضروري ده چې ددوهم نړيوال جنگ نه پس چې په NUREMBERG کې دامريکا اوبرتانې له لورې دجنگي جرمونولپاره جوړوشــوي يومحاکموکې شکســت خوړلي نازي جرمنيان دمرگ اوعمري بندپه سزاگانومحکومېدل نواروپايي اتحادولې دامريکا اوبرتانې پدې عمل تراوسه ولې اعتراض ونکړاونه يې داعمل ناروا وگڼلو ؟

په مصرکې چې خونخوار جنرال السيسي دمصرمنتخبه اداره رانسکوره ؛ دهېوادمنتخب ولسمشر محمدمرسي ، ددولت ارکان اوپه لسگونه زره مسلمانان دزماني بدنامو زندانونوته واستول ؛ دکوچنيانو، مېرمنواوبوډاگانوپه شمول يې له ۴ زرونه زيات هغه بې گناه مسلمانان شهيدان کړل چې دمحمد مرسي نه دحمايت ښکاره کولولپاره سرکونو اوچوکونو ته راوتي وو اودهغه دراخوشی کېدوغوښتنه يې کوله ؛ دمصر ددې قصاب داوحشت ولې اروپايي اتحادته نه ښکاري؟

اروپايي اتحادنه يواځې داچې دجنرال السيسي ددې وحشت پرضدې نه څه اقدام وکړ اونه يې خوله خلاصه کړه بلکې دا اتحادپه ښه سپين سترگۍ دالسيسي ترشاودرېد ؛ ډاډ يې ورکړ اوپدې هرڅه کې يې ترې خپل کامل حمايت ښکاره کړ.

دوحشي جابرجنرال السيسي دظلم ښکارشوي داوگړي انسانان نه وو؟ اروپايي اتحاد ته دلته ولې دبشرحقوق نه ورپه زړه کېدل ؟

دهمدې ۲۰۱۶م کال نومبرپه ۱۳ مې نېټې چې په فرانسې کې په ترسره شويوبمي بريدونوکې ۱۳۰ فرانسويان ووژل شول او اوس بيا چې دجولايې په ۱۴مې نېټې يوتن خپله لارۍ جشن ته په راوتوتنانووروخېجوله او۷۷ تنانوپکې خپل ژوند له لاسه ورکړنوامريکا اونورلويديځ پرې څومره غوغاجوړه کړه؟! خوچې په مصر کې دغريبو مسلمانانو پرضد وحشت روان ونودامريکا اونورلويديځ پرې غوږ هم نه گراوه .

په بنگله دېش کې چې دجماعت اسلامي مشران يودبل پسې پدې جرم وژل کېږي چې ۴ لسيزې وړاندې يې دپاکستان نه دبنگله دېش دجدا کېدوسره خپل مخالفت ښکاره کړی ونوهغوئ خوهم انسانان دي اروپايي اتحادته ددولت پردوئ دالوی ظلم ولې نه ښکاري ؟

په همدې ترکې کې چې هرڅل فوځ دمنتخب دولت پرضدکودتاکړيده نودفوځ له لورې ښه ډېرملکي مشران دمرگ په سزامحکوم شويدي خو امريکا اوداروپايي اتحادپه شمول ټول لويديځ يې تماشه کړيده اوهيڅکله يې دترکې پرفوځ اعتراض ندی کړی اقدام خولری خبره ده .

داروپايي اتحاددې اعتراضونو نه همداخبره جوتېږي چې دنورلويديځ

هم تریوحده ددې کودتا ترشا لاس و او ورنه کودتاچیانو داکلکه تمه لرله چې خامخابه یې دکامیابۍ په صورت کې حمایت وکړي .

هغه غربي رسنۍ چې دپیل په کلونوکې یې داردګان داقتصادي فتوحاتوداستانونه بیانول ؛ دقتصادي پرمختګ ترڅنګ به یې د ګڼو نوروپرمختګونوله امله دده داداري ستاینې کولې اوداسلامي هېوادونو لپاره به یې دنمونې په ډول وړاندې کولو ،خوکله چې طیب اردګان اسلام اومسلمانانوته دترکې دورنېږدې کولوهڅې وکړې اوپدې اړه یې ګڼ اقدامات وکړل چې پکې کامیاب شوی هم دی نو په همدې جرم دلویدیځ رسنیوداردګان پرضد تبلیغات پیل کړیدي ؛ لویدیځې رسنۍ په متواتر ډول داوایې چې اردګان دعثماني خلافت داحیاء فکرلري ، ځان سلطان جووړول غواړي او د دیکتاتورۍ لورته یې خپل نظام روان کړیدی .

دابايد له ياده ونه باسو چې په ترکې داسلام اوسیکولرزم شدیده مقابله روانه ده چې پکې سیکولرزم دسختې ماتې سره مخامخ دی اوداخبره اوس یقیني شویده چې سیکولرزم په خپل طبعي مرګ دمړینې پرلورپه ډېرې تېزۍ سفر رالنډوي او داسلامي بدلون څپو انقلابي شکل خپل کړیدی .

دترکې ټول مخلص مسلمانان پدې پوهېږي چې اوسنی بغاوت چې په ښکاره دجمهوریت اودیکتاتورۍ ترمنځ دکشمکش شکل لري په حقیقت کې داداسلام اوسیکولرزم ترمنځ دروان جنګ یوه مهمه برخه اویوځل بیا ددې هېواددولس دغلام ګرځولو ناکامه امریکایې هڅه ده .

اردګان په خپلوتېرودوروکې خپل ولس ته ترغیب ورکړچې دمغرب پرځای دې مشرق ته مخه کړي ؛ ولس عملاً دطیب اردګان داپیغام قبول کړیدی اوپدې اړه دښاغلي اردګان سره اوږه په اوږه ولاړ دی.

داڅه هسې تصادف نه وچې طیب اردګان درسنیوترمخه داسرائیلو لومړی وزیر شرمنده کړ.

غزې ته ددواګانواوغزایي موادونه ډکه دفلوټیلا سمندري قافلې استول اوپرې داسرائیلودحملې نه پس داسرائیلوسره دیپلوماتیکې اړیکې شلول هم په حقیقت کې دهغه لویدیځې نړۍ اوامریکا په مقابل کې عکس العمل ښکاره کول ووکوم چې داسرائیلودهروحشت تر شاولاړ دي.

دغزې اوبرما دمسلمانانوپوښتنه اوپه حق کې یې اواز اوچتول ؛ په بنګله دیش کې دحکومت له لورې دجماعت اسلامي دمشرانو اعدامېدلو په مقابل کې دغبرګون ښکاره کولوپه موخه دبنګله دیش نه دخپل سفیر راغوښتل اودبې ګناه مصري مسلمانانو په قتل عام دالسیسي- داداري سره دروابطو خرابېدل ددې خبرې دلیل دی چې په تېرو۱۴کلونوکې ترکیه ډېره بدله شویده .

امریکا اونورلویدیځ ته په ترکې کې دابدلون دمنلوندی نوځکه داردګان داداري پرضد دسیسې جوړوي خو د امریکا ټولې هڅې ناکامېږي اودترکې نه بیا دکمال اتاترک دترکې جوړولو ټول کوښښونه یې دخاوروسره خاورې کېږي ځکه چې دولس قاطع دسختۍ اواسانۍ په هرحالت کې دطیب اردګان ترشا ولاړدی اودکومو حاکمانو ترشا چې ولسونه ولاړ وي دنړۍ یودسیسه ګرځواک یې هم له پښونښې— غورځولای بلکې داخلي اوخارجي دسیسه ګرې په مقابل کې ناکام اوټولې دسیسې یې افشا کېږي.

د شهامت دارالافتاء

د[Exp-date] بدلول شرعاجواز لري ؟

پوښتنه : السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته : محترم مفتي صاحب ! موږ ددارو درمل پوشرکت لرو چې له بهر [خارج] څخه دواوي راواردوو.

په دې دواوو کې ځينې داسې دواوې شته چې ورباندي ليکل شوی تاريخ] ايکسپاير] يې پوره شوی وي ؛ مگر بياهم استعمال يې تاوان نه لري ،نوکه موږ يې تاريخ بيرته وربدل کړو ددې لپاره چې هم له تاوان څخه ځان بچ کړو اوهم دارو درمل عبث نشي نوشرعاداعمل جائز ده اوکنه ؟

الجواب : هغه تاريخ اوتحرير چې دکمپنۍ لخوا په دواو ليکل شوی وي هغه له هماغه تاريخ څخه وروسته بيلابيل ضررونهاوتاوانونه لري . ځکه هغه کمپنيو ته ددغه موادو ذات ، کيفيت اوکميت ښه معلوم دی اودهمدغه معلوماتو له مخې يې ورباندي دختم الميعاد تاريخ تحريرکړي دي ،داسلام په دين کې دتحريف او تصحيف عمل ډيرغندل شوی ،اورسول الله صلی الله عليه وسلم دغش اوخيانت څخه دځان ساتلو ډير وضاحت ورکړی دی.

نوپه دې عمل کې څوډوله گناهونه سرته رسيږي :چې هره يوه يې په خپل ځای لويه گناه گڼله کيږي .لکه: تحريف، کذب، غش او خيانت.

يقول الله تعالی : (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آَمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ) التوبة/۱۱۹ ويقول النبي صلی الله عليه وسلم :)مَنْ غَشَّنَا فَلَيْسَ مِنَّا) رواه مسلم (رقم/۱۰۱.(، والنبي صلی الله عليه وسلم يقول: (لا ضرر ولا ضرار) رواه ابن ماجه بسند صحيح. والله تعالی أعلم.

په جوس سينتر ،هوټل اونور..کې دعلماؤ اوخواصو کيناستل ، خوراک،څښاک او..

پوښتنه : محترم مفتي صاحب! په نني عصرکې په بازار کې په هوټلونو ، جوس سينټرونواونوروځايونوکې دطالبانو اوعالمانو په خاصه توگه دمقتدايانو لپاره ،خوراک څښاک اونورومشروباتو څښل څنگه ده ؟

المستفتي سعد ۱۴۳۷\۹\۲۸.

الجواب :څرنگه چې په اوسني عصرکې په بازارونو کې دخوراک اوڅښاک عمومي ځايونه دسروز،تلويزون،وي سی آراونورومفاسدوڅخه خالی نه وي نودذکرشوو اشخاصولپاره په داسې ځايونوکې کيناستل ياداسې ځايونوته تلل له کراهيت څخه خالي نه دي ځکه يوخوهلته دمنکراتو وجود وي اوبل داسي ځايونه دتهمت اوداهل الحق له اهانت څخه خالي نه وي ،اوکه چېرته داسې يوځای وي چې هلته داډول منکرات اومفاسدنه وي نوهلته بيا دخوراک اوڅښاک لپاره تلل ياکيناستل ياهم په لمړي صورت چې بل ځای ميسر نه وي دعذر په وجه کيناستل پروانه لري.

لنډه داچې دخواصو لپاره په دې عصرکې بهترداده چې دعذرپرته بازارونوته ولاړنشي اوکه دکوم اړتیاله مخې څې نوبیادې له داسې ځایونو څخه ځان ساتي اوکه هلته هم اړتیاوي نوبیادې ترځپله وسه مناسب اوله منکراتوڅخه خالي ځاى لټوي اوکه بیاهم داسې ځاى ونه موندل شي اوضرورت هم وي نوبیادعذرله امله کراهیت ساقطیږي.

کمافي تفسير القرطبي :١٧:١٦/١٣؛ الرابِعَةُ- خَرَّجَ مُسْلم عَنْ أَبي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال:" أَحَبُّ الْبِلَادِ إِلَى اللَّهِ مَسَاجِدُهَا وَأَبْغَضُ الْبِلَادِ ألى الله أسواقها". وخرج البزاز عَنْ سَلْمَانَ الْفَارِسِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:" لَا تَكُونَنَ إن اسْتَطَعْتَ أَوَّلَ من يدخل السُّوقَ. وَلَا آخِرَ مَنْ يَخْرُجُ مِنْهَا فَإِنَّهَا مَعْرَكَةُ الشَّيْطَانِ وَبِهَا يَنْصِبُ رَايَتَهُ". أَخْرَجَهُ أَبُو بَكْرٍ الْبَرْقَانِيُّ مُسْنَدًا عن أبى محمد عبد الغنى- مِنْ رِوَايَةِ عَاصِم- عَنْ أَبِي عُثْمَانَ النَّهْدِيِّ عَنْ سَلْمَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:" لَا تَكُنْ أَوَّلَ مَنْ يَدْخُلُ السُّوقَ وَلَا آخِرَ مَنْ يَخْرُجُ مِنْهَا فَبِهَا بَاضَ الشَّيْطَانُ وَفَرَّخَ". فَفِي هَذِهِ الْأَحَادِيثِ مَا يَدُلُّ عَلَى كَرَاهَةِ دُخُولِ الْأَسْوَاقِ، لَا سِيَّمَا فِي هَذِهِ الْأَزْمَانِ الَّتِي يُخَالِطُ فِيهَا الرِّجَالُ النِّسْوَانَ. وَهَكَذَا قَالَ عُلَمَاؤُنَا لَمَّا كَثُرَ الْبَاطِلُ فِي الْأَسْوَاقِ وَظَهَرَتْ فِيهَا الْمَنَاكِرُ: كُرِهَ دُخُولُهَا لِأَرْبَابِ الْفَضْلِ وَالْمُقْتَدَى بِهِمْ فِي الدِّينِ

تنزيهًا لهم عن الْبِقَاعِ الَّتِي يُعْصَى- اللَّهُ فِيهَا. فَحَقٌّ عَلَى مَنِ ابْتَلَاهُ اللَّهُ بِالسُّوقِ أَنْ يَخْطُرَ بِبَالِهِ أَنَّهُ قَدْ دَخَلَ مَحَلَّ الشَّيْطَانِ وَمَحَلَّ جُنُودِهِ، وَإِنَّهُ إِنْ أَقَامَ هُنَاكَ هَلَكَ، وَمَنْ كَانَتْ هَذِهِ حَالَهُ اقْتَصَرَ مِنْهُ عَلَى قَدْرِ ضَرُورَتِهِ، وَتَحَرَّزَ مِنْ سُوءِ عَاقِبَتِهِ وبليته ...السَّادِسَةُ- قَالَ ابْنُ الْعَرَبِيِّ: أَمَّا أَكْلُ الطَّعَامِ فَضَرُورَةُ الْخَلْقِ لَا عَارَ وَلَا دَرْكَ «١» فِيهِ، وَأَمَّا الْأَسْوَاقُ فَسَمِعْتُ مَشْيَخَةَ أَهْلِ الْعِلْمِ يَقُولُونَ: لَا يَدْخُلُ إِلَّا سُوقَ الْكُتُبِ وَالسِّلَاحِ، وَعِنْدِي أَنَّهُ يَدْخُلُ كُلَّ سُوقٍ لِلْحَاجَةِ إِلَيْهِ وَلَا يَأْكُلُ فِيهَا، لِأَنَّ ذَلِكَ إِسْقَاطٌ لِلْمُرُوءَةِ وَهَدْمٌ لِلْحِشْمَةِ، وَمِنَ الْأَحَادِيثِ الْمَوْضُوعَةِ «٢» " الْأَكْلُ فِي السُّوقِ دَنَاءَةٌ". قُلْتُ: مَا ذَكَرَتْهُ مَشْيَخَةُ أَهْلِ الْعِلْمِ فَنِعِمَّا هُوَ، فَإِنَّ ذَلِكَ خَالٍ عَنِ النَّظَرِ إِلَى النِّسْوَانِ وَمُخَالَطَتِهِنَّ، إِذْ ليس بذلك مِنْ حَاجَتِهِنَّ. وَأَمَّا غَيْرُهُمَا مِنَ الْأَسْوَاقِ فَمَشْحُونَةٌ مِنْهُنَّ، وَقِلَّةُ الْحَيَاءِ قَدْ غَلَبَتْ عَلَيْهِنَّ، حَتَّى تَرَى الْمَرْأَةَ فِي الْقَيْسَارِيَّاتِ وَغَيْرِهِنَّ قَاعِدَةً مُتَبَرِّجَةً بِزِينَتِهَا، وَهَذَا مِنَ الْمُنْكَرِ الْفَاشِي فِي زَمَانِنَا هَذَا.

ومثله في احكام القران للمفتي جميل احمد رحمه الله ؛الجزء الرابع.

وكما في حاشية الطحطاوي علي در المختار ١٧٦/٤؛ (قوله فإن كان مقتدي ولم يقدر علي المنع خرج ولم يقعد لأن فيه شين الدين) وفتح المعصية علي المسلمين فإنهم يقتدون به).

وفي الدر المختار ٢٢٥\٢؛(دعي إلى وليمة وثمة لعب أو غناء قعد وأكل) لو المنكر في المنزل فلو على المائدة لا ينبغي أن يقعد بل يخرج معرضا لقوله تعالى { فلا تقعد بعد الذكرى مع القوم الظالمين } فإن قدر على المنع فعل وإلا يقدر (صبر إن لم يكن ممن يقتدى به فإن كان) مقتدي (ولم يقدر على المنع خرج ولم يقعد) لأن فيه شين الدين ... وإن علم أو لا) باللعب (لا يحضر أصلا) سواء كان ممن يقتدى به أو لا لأن حق الدعوة إنما يلزمه بعد الحضور لا قبله.

احياءعلوم الدين ١٩\٢؛لأول: حكي عن إبراهيم النخعي أنه قال: الأكل في السوق دناءة، وأسنده إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم وإسناده قريب. وقد نقل ضده عن ابن عمر رضي الله عنهما أنه قال: كنا نأكل على عهد رسول الله صلى الله عليه وسلم ونحن نمشي ونشرب ونحن قيام. ورئي بعض المشايخ من المتصوفة يأكل في السوق فقيل له في ذلك فقال: ويحك أجوع في السوق وآكل في البيت، فقيل تدخل المسجد؟

قال أستحي أن أدخل بيته للأكل فيه. ووجه الجمع أن الأكل في السوق تواضع وترك تكلف من بعض الناس فهو حسن وخرق مروءة من بعضهم فهو مكروه، وهو مختلف بعادات البلاد وأحوال الأشخاص فمن لا يليق ذلك بسائر أعماله حمل ذلك على قلة المروءة وفرط الشره ويقدح ذلك في الشهادة ومن يليق ذلك بجميع أحواله وأعماله في ترك التكلف كان ذلك منه تواضعاً.

كما في اداب المتعلم ١٣١؛ولا يرضى من أفعاله الظاهرة والباطنة بالجائز منها، بل يأخذ نفسه بأحسنها وأكملها، فإن العلماء هم القدوة وإليهم المرجع في الأحكام، وهم حجة الله تعالى على العوام، وقد يراقبهم للأخذ عنهم من لا ينظرون، ويقتدي بهديهم من لا يعلمون، وإذا لم ينتفع العالم بعلمه فغيره أبعد من الانتفاع به، كما سبق من قول الشافعي رحمه الله. ليس العلم ما حفظ، العلم ما نفع. ولهذا عظمت زلة العالم لما يترتب عليها من المفاسد لاقتداء الناس به.

وكمافي رد المحتار ٢٤٥/٥؛ وَالْأَوْضَحُ مَا فِي التَّبْيِينِ حَيْثُ قَالَ : لِأَنَّهُ لَا يَلْزَمُهُ إجَابَةُ الدَّعْوَةِ إذَا كَانَ هُنَاكَ مُنْكَرٌ ا هـ.

قُلْت : لَكِنَّهُ لَا يُفِيدُ وَجْهُ الْفَرْقِ بَيْنَ مَا قَبْلَ الْحُضُورِ وَمَا بَعْدَهُ ، وَسَاقَ بَعْدَ هَذَا فِي التَّبْيِينِ مَا رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ { أَنَّ عَلِيًّا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: صَنَعْت طَعَامًا فَدَعَوْت رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَاءَ فَرَأَى فِي الْبَيْتِ تَصَاوِيرَ فَرَجَعَ } ا هـ.

قُلْت : مُفَادُ الْحَدِيثِ أَنَّهُ يَرْجِعُ وَلَوْ بَعْدَ الْحُضُورِ وَأَنَّهُ لَا تَلْزَمُ الْإِجَابَةُ مَعَ الْمُنْكَرِ أَصْلًا تَأَمَّلْ.

والله اعلم.

ایا ایزي لوډ Easy load سود دی ؟

پوښتنه : علماء کرام ددې مسئلې په اړه څه فرمايي چې : ايزي لوډ کول جائز دي اوکنه ؟ دلته ځينې کسان وايي چې : دا سود دی ځکه چې موږ دکاندارته سل روپۍ ورکړو چې دهغه په بدله کې دوکاندار زموږ په نمبربانډي کمې پيسې راليږي آياد داخبره صحيح ده ؟ که ښه قناعت کونکی جواب راکړئ منندوی به مويم

جواب : بايد وويل شي چې دسود د متحقق کيدلو لپاره د بدلينو متحدالجنس والقدر کيدل يا دواړه لوري نغدکيدل ضروري دي ، که چيرته دبدلينو جنس اوقدر مختلف وي يا نغدي نه وي نو په دې صورت کې له يوه لوري زياتوب اوله بل لوري کمتوب جائز دی ، کله چې مو دا اصول ځان ته معلوم کړل نو موږ وينو چې موبايل کمپنۍ دنغدو پيسوپه بدل کې منفعت (ايئرټايم) ورکوي ، که هغه دکارت په صورت کې وي اوکه دايزي لوډ په صورت کې په دواړوکې کمپنۍ دمقرره ټېکس له جلاکولو وروسته دپاتي پيسوپه مقابل کې صارف (استعمالونکي) ته منفعت ورکوي ، يواځي دافرق يې شته چې دکارت په صورت کې صارف په مستقيمه توګه له کمپنۍ څخه منفعت ترلاسه کوي او دايزي لوډ په صورت کې دوکاندار له وړاندې اخستل شوی منفعت دخپل کميشن په اخستلو سره دصارف طرف ته ليږدوي ،څرنګه چې په دواړو- کارت او ايزي لوډ- په صورتونوکې دنغدو په بدل کې نغدي نه وي بلکه منفعت ورکول کيږي نوځکه دواړه صورتونه جائز دي.

والله تعالى اعلم

مفتي ابوياسر



د غیرتونو منار

هلال مهاجر

د غزا د ډول غربا د تورو شرنګ دی
د آسونو ترپهار د غشو شنګ دی

عبیده ابن جراح توره په لاس ده
ښکاري بیا نن د اسلام او کفر جنګ دی

بیا خالد ابن ولید صفونه جوړ کړل
دهرقل په لښکر باندې غورځنګ دی

بیا ضرار ابن اضر میدان ته راغئ
د جورجان پر پلویانو ژوندون تنګ دی

لا خو متې شته، لا تورې مو زنګ نه دي
لا ساتلی مو سنګر او لا کړنګ دی

هر یو ول دې دپکړی غازي طالبه
لوړ منار د غیرتونو او د ننګ دی

اې د وخت سپینه رهبره ستاله وېرې
په لړزان غربي ښامار غربي پیرنګ دی

ستا هر قول، هر یو فعل مجاهده
دې مغرورې دنیاکې ته خطر زنګ دی

رب دې تل لره کامران د وخت امامه
د هلال غزل په تاباندې ګل رنګ دی

Shahamat

ستا په نوم او توکل مې هر غورځنګ دی
د پردي مزدور، اجير سره مې جنګ دی

له دعا نه مې که هم د وينو بوی ځي
عفوه بويه، وطن ټول په وينو رنګ دی

ناګار